# د احمد شاه بابا دیوان



د علامه عبدالحی حبیبی
په مقدمه او سمون

پښتو ټولنه
۱۳۱۹ش

# لوی احمد شاه بابا

## او د ده ویناوي

(۱) احمد شاه بابا، ادیب، شاعر، مصلح، مفکر
(۲) د احمد شاه بابا د اشعارو دیوان له درو نسخو څخه مکمل

لیک او تصحیح د

**عبدالحی حبیبی**

د پښتو ټولني عمومي مدیریت، او د مطبوعاتو د ریاست معاون

کابل ۱۳۱۹

عمومی مطبعه

بسم الله الرحمن الرحيم

# پیل

هر ملت ځنې مفاخر لري، چه تل په هغو وياړي او ژوندي کوي ئې، د يوه ملت تاريخ هم له دغو څخه جوړيږي، او هر څوک چه ئې ولولي نو په درناوي ورته ګوري او د دوی لوړتيا هيڅکله نه هيروي!

موږ پښتانه خو هم په تاريخ کي يوه ښه برخه لرو، زموږ نيکونه او پخوانی ميړونه د خپل عصر نوميالی او بريالی وه او د منځنۍ ايشيا تاريخ د دوی په لوړو کارنامو روڼ دي، نو موږ ته ښايي چه دا خپل مشعشع تاريخ هير نه کو، او تل په دې کي زيار وکاږو، چه زموږ زامن د خپلو نيکونو او پخوانو پښتنو په لوړتياو او ميړانو پوه وي، او هيڅکله هغه خپل تاريخي برم هير نه کي.

په دې سلسله کي نوميالی او لوړ مړونه، او د پښتنو علمي او ادبي، حربي مفاخر په خپلو راتلونکو زامنو پيژندل او د دوی ټوله لوړي کار نامې ښوول او ليکل، د اوسنيو پوهانو وظيفه ده.

نن ورځ زموږ هواد د ښاغلی او لوړتيا غوښتونکی حکومت تر سيوری لاندي، د لوړتيا او پر مخ يون لار په ښه ډول ورو ورو پريکوي، او هغه ټوله چاري چه د يوه اولس د سموالی او لوړتوب دپاره غوښتلی کيږي، زموږ په ښادمن هواد کي هم پاللي کيږي!

پښتو ټولنه چه د دې نیکمرغه عصر، او د اعلیحضرت ځلمی ټولواک محمد ظاهر شاه پښتون د دورې، د پښتو او پښتنو یوه خدمت کونکې موسسه ده، غواړي چه زیاتي پر نورو علمی او ادبی چارو، د پښتنخوا نومیالو په معرفي کولو کي هم برخه واخلی، او دوی د علم او ادب له پلوه په پښتنو وپیژني.

زموږ د هیواد د یو لوی بریالی، او د پښتنو د تاریخ یو روڼ ستوری اعلیحضرت لوی احمد شاه بابا دئ، چه د دنیا تاریخ او پښتانه دی یو مشهور بریالی او ستر فاتح ګڼي، مګر د ده علمي او ادبي مقام چا ته نه دي ښکاره او لږ خلق په دې خبر دي، چه دا نومیالی فاتح، او د پښتونخوا ستر میړه، د پښتو ژبي د ادب یو لوی روزونکي، او غوره ادیب او شاعر هم دي، او دئ د خپل عصر یو ښه عالم او مصلح مفکر هم ګڼل کیږي!

په دې کتاب کي به موږ دغه خبري، په ښه ډول خپلو ښاغلو ویونکو ته ځرګندي کړو، او د لوی احمد شاه بابا د شعر پښتو دیوان به هم در وړاندي کړو.

په ۱۳۱۷ش کال چه ع،ش، سردار عالی محمد داؤد خان د قندهار ملکی او عسکری مشر وو، دوی د خپلو معارف غوښتو له لامله، ما ته د اعلیحضرت احمد شاه بابا د دیوان د چاپولو تشویق راکي، ځکه چه دا د شعر مجموعه تر اوسه نه ده چاپ شوې، او که ځني بدلي ئې مستشرقینو

میندلي او چاپ کړي دی، هغه هم ډیري غلطي دي، او د شعر پر اصولو نه سمیږی.[1]

نو د دې ګرانبها دیوان تصحیح خو له یوې نسخې څخه ممکن نه و او لازمه وه چه درې څلور نسخې وکتل شي، په دې کار کي هم زه کامیاب شوم، او له ښه مرغه مي درې زړې نسخې ومیندلې، او دا کتاب مي ځني تصحیح او تکمیل کي، چه د هغو نسخو تفصیل به د دې مقدمې په پاي کي د توضیح تر عنوان لاندي وسي، دا کتاب دوې برخی دي:

لمړۍ برخه: د اعلیحضرت احمد شاه بابا پر شاعری او علمی او ادبی مقام او د ده پر افکارو مفصله تبصره ده، او تر سلو تنو پوري د ده د مملکت علمي او ادبي رجال هم معرفي شوي دي، چه د ده ادبي او علمی معاصرین ګڼل کیږي.

دوهمه برخه د ده مردف د شعر دیوان دئ، چه د تهجي حروفو پر ترتیب تصحیح او تدوین شوی دی او ځاي ځاي حاشیه هم پر لیکلې شوې ده، چه اوس تاسي ته وړاندی کیږي.

دمخه تر دې چي تاسي په اصل کتاب پیل وکي، ښه به وي چه په دې مقدمه کي لنډ لنډ د بریالی پلار احمد شاه بابا د ژوندون سوانح هم ولولي که څه هم دغه تاریخی کار نامې بیل کتاب غواړی، مګر دلته د ضرورت له لامله موږ د ده د ژوندون وقایع لنډ ذکر کوو:

---

۱. راورټی په ګلشن روه او هیوز په کلید افغانی کي ځني د احمد شاه بابا بدلي چاپ کړي دي.

احمد شاه بابا د زمان خان زوی د دولت خان لمسی د سرمست خان کړوسی وو چه دغه سرمست خان د شیر خان زوی، او د خواجه خضر خان لمسی او د سدو خان کړوسی کیدي، او دا هغه سدو خان دئ، چه د احمد شاه بابا قبیله د ده له ټبره وه، سدوزی خو د پوپلزیو یوه پښه ده، چه له سرړنو پښتنو څخه د اودل له پښته ګڼله کیږي.[1]

د احمد شاه بابا نیکه دولت خان د پښتنو مشر وو، چه د قندهار د ښهر صفا په کلاو کي د صفوی حکومت نائب الحکومه ګرګین خان دی مړ کی، ځکه چه د ارغسان پښتانه له دغه جهته د ګرګین خان سره وجنګیده نو ګرګین خان د دولت خان زوی رستم خان په مشرتوب ومانه، او د احمد شاه بابا پلار چه زمان خان نومیده، د یرغمل په ډول د ګرګین په دربار کي وو.

وروسته چي جاجی میرویس خان مشهور مشر له خوا د صفویانو د حکومت کمبله ټوله شوه، نو زمان خان په هرات کي د پښتنو مشر وو، او په ۱۱۳۵هـ وفات شو، د احمد شاه بابا بل ورور ذولفقار خان هم یو مشهور پښتون حربی سړی دي، چه د هرات مشر وو، او د نادر افشار له خوا په ۱۱۵۰هـ کي مازندران ته نفي شو.[2] له تاریخی پلټونو څخه ښکاریږي، چه احمد شاه بابا په ۱۱۳۵هـ په هرات کي زوکړی او مور ئې زرغونه نومیده، چه د قندهار د کوهک په کلي کي ئې قبر دي، او خلق ئې زرغونه انا بولي.

---

۱. حیات افغانی د محمد حیات خان د لاهور طبع ص ۱۱۷ او خورشید جهان د شیر محمد ګنداپور د لاهور طبع.
۲. وګوری تاریخ سلطانی د خالص قندهاری د بمبی طبع او حیات افغانی او خورشید جهان.

په ۱۱۵۰ه چه نادر افشار قندهار فتح کاوه، احمد شاه بابا د ۱٦ کالو او د ده په دربار کي وو، وروسته چه د خراسان په فتح آباد کي د یکشنبې په شپه ۱۱ جمادی الاخر ۱۱٦۰ه نادر شاه مړ کړه سو نو احمد شاه بابا قندهار ته راغي، او د عمر په ۲۵ کال په ۱۱٦۰ه د قندهار د شیر سرخ په کلی کي پاچا سو[۱] په دغه وخت کي د شوال میاشت وه.

احمد شاه بابا ښهٔ اخلاق درلوده، متشرع عادل عالم پاچا وو، د خلقو سره یې د پلارتوب سلوک کاوه. نادر افشار به ویل چه ما تر احمد شاه بل نیک اخلاق سړی په ټوله ایران او توران کي ندی لیدلی.[۲] احمد شاه بابا چه پر تخت کښېنوست، ده یو ملی حکومت تشکیل کړ، چه د پښتنو مشران په سلا او اداره کي ور سره مله وه، خارجی مؤرخینو دا طرز فیوډل سیستم بللی دي.[۳]

احمد شاه بابا د افغانستان په ملی وحدت کي ډېر زیار وکیښ او ټوله ملت ئې سره یو کړ، ده خپلو رعایاؤ ته د مساوات او پلار ګلوۍ په سترګه کاته، نو ئې دوی هم تر اوسه "بابا" بولي.[٤] د دې پوه او نومیالي پاچا د مملکت داخلی اصلاحات ډېر دي. ده په دننه هیواد کي داخلی تشکیلات سم کړه، عسکري، اداري، علمي، او مدني اصلاحات ئې وکړه، وزراء ئې مقرر کړه، د مالیئې دوائر، شرعی محاکم ئې بنا کړه، پخپل حضور کي ئې

۱. وګوری سراج التواریخ، حیات افغانی، تاریخ سلطانی، تاریخ احمدی د عبدالکریم قلمی.
۲. د عبدالکریم تاریخ احمدی، قلمی.
۳. د ملسیون افغانستان طبع ۲ لندن.
٤. تتمه البیان د سید جمال الدین د مصر طبع ص ٦۹.

دیوان اشاء او درباري دوائر جوړ کړه، عرض بیګي، مهماندار باشي، اردو باشي، جارچي باشي، میرآخور، خزانه دار، هر کاره باشي (استخبارات) ضبط بیګي او نور ده ملکي مامورین وه، د حربي ادارو مرکز دفتر نظام باله کیده چه نقلیت او د سیورسات مامورین ئې هم درلوده، عسکر پیاده، سپاره منظم وه. پر دغه علاوه "ایله جاری" عسکر هم وه، د احمد شاه بابا په فتوحاتو کي دغو منظمو او غیر منظمو لښکرو ډیر خدمتونه کړي دي.

احمد شاه بابا ځني عمراني خدمتونه هم کړي دي، په ۱۱۷٤ه ئې د قندهار اوسنی ښار جوړ کي، په ۱۱٦٦ه ئې د کابل پر ښار جنګی کوټ راوګرزاوه، په شمالی ولایاتو کي ئې د تاشقرغان ښار جوړ کي، په سند کي په ۱۱۸۲ه د ده نائب الحکومه غلام شاخان د حیدرآباد ښار بنا کړ، او په ۱۱۷۰ه ئې په مکه معظمه کي د پښتنو حاجی خانه جوړه کړه. علاوه پر دغه د ده په عصر کي ډیري ولې او کاریزونه هم کښل شوی او مملکت په زرغون شوی دي، د قندهار مشهوره واله، پاتاو، هم ده کښلې ده، چه اوس د قندهار شاه خوا په زرغونه دي، ده د خپل مرقد خورا نفیسه او عالیشانه ګنبده هم پخپل ژوندون کي جوړه کړیده، او خرقه شریفه ئې له بدخشانه قندهار ته راوړه.

د احمد شاه بابا د عصر نښان د غنمو وږی، او توره او یو ستوری وو، چه پر اکثرو سکو ئې سته، د ده طلائي، نقرئي او مسي سکې ډیري دي، چه په قندهار، کابل، ملتان او نور ښارو کي وهلي شوی دي.

احمد شاه بابا د خپل عصر لوی فاتح دي، ده ډیر حربی سفرونه کړي دي چه لاندی لنډ لنډ ذکر کیږي:

۱. د ۱۱٦۱ هـ سفر چه په دې دوره کي احمد شاه بابا کابل، پېښور، سند او لاهور او ملتان د خپل مملکت ضمیمه کړه، او دیرش زره لښکر ور سره وه، او په سر هند کي ئې د هند له امپراطور سره جګړه وکړه او بیرته د پېښور او کابل له لاري قندهار ته راغی.

۲. دوهم سفر د ۱۱٦۲ هـ دئ، چه په دې سفر کي ټوله پنجاب په افغانستان پوري ونښت، او د اټک غاړي ئې اصلاح کړې.

۳. دریم سفر په ۱۱٦۳ هـ کي وو، په دې سفر کي احمد شاه بابا هرات او مشهد او نیشاپور ته ولاړ، او بلوچستان ئې د خپل مملکت ضمیمه کي.

٤. څلورم سفر په ۱۱٦٤ هـ دي، چه احمد شاه بابا په دې سفر کي ټوله خراسان ونیوي او نیشاپور ئې فتح کړ، او شهرخ مرزا چه د نادر شاه له کورنۍ څخه هلته وو، بیرته ئې پاچا کي، او د ده لور ئې خپل زوی تیمور شاه ته وغوښته، وروسته احمد شاه هرات ته راغي، او لس (۱۰) زره لښکر ئې د شاه ولی خان وزیر اعظم په مشرتوب میمنې، مزار، او قطغن ته واستول، چه هغه ځایونه ئې اصلاح کړه.

٥. په پنځم سفر کي احمد شاه بابا په ۱۱٦٤-۱۱٦٦ هـ بیا پنجاب ته ولاړ، او کشمیر ئې فتح کړ او د اټک پر غاړو ئې ټوله د پښتنو ځایونه ولیدل.

٦. په ۱۱۷۰ هـ بیا احمد شاه بابا پنجاب ته ولاړ، او دغه ځاي ئې سم کړ، کشمیر ته ئې هم لښکر واستاوه، او بیرته ئې لاس ته راوړ، او په جمعه ۸ د جمادی الاول د ده بریالي لښکر په ډهلی ننووت، او د مغولی شاهنشاهۍ مرکز ئې فتح کړ. احمد شاه بابا د ډهلی د مغولی پاچا محمد عزیزالدین

عالمګير ثاني سره خپلوی وکړه، او هلته ئې وزراء او د لښکر مشران مقرر کړل، پاچهي ئې هم هغه پاچا ته پرېښووه، او د پښتنو ديرش زره لښکر بې له دې چه د ډهلی ښار ته تاوان ورسوي، تر يوې مياشتی هستوګني وروسته بيرته پنجاب ته راغی، او پر لاری ئې ډير بدخواهان پر ځای له شرار ته کښينول، او د پيښور له لاري کابل او قندهار ته ولاړ، په دې سفر کي زموږ پلار هندوستان فتح کي، مګر بيرته ئې د هغه ځاي پاچا ته وباخښه.

۷. د احمد شاه بابا اوم سفر په ۱۱۷۳ - ۱۱۷٤ﻫ کي دي، په دې کال د ده يو مشهور منصبدار او غښتلی ملګری نصير خان بلوڅ د استقلال اعلان وکي، نو پخپله احمد شاه بابا د دوولس زرو سپرو سره مستونګ ته ولاړ، او نصير خان ته ئې ماته ورکړه، او د بلوچستان په کلات کي ئې محاصره کړ، وروسته دا لوی خان بيرته تسليم سو، او احمد شاه بابا عفو کي، تر دې وروسته نو د بولان پر لار سند او پنجاب ته ولاړ، او د پاني پت پر ميدان ئې د مرېټانو لسو لکو تنو لښکرو ته ماته ورکړه، په دې مشهور جنګ کي د احمد شاه بابا ټوله لښلر ٦۰ زره وه، خو د دښمن تلفات ۲ لک تنه وه، دا جنګ په ٦ د جمادی الاخر ۱۱۷۰ﻫ د احمد شاه بابا په لوی او تاريخی بری ختم سو، او غنايم ۵۰ زره اسان، دوه لکه غوايی، پنځه سوه پيلان، او څو زره اوښان وه، دوه ويشت زره تنه ژوندی بنديان د پښتنو په لاس کي ولويدل، تر دې جنګ وروسته بيا احمد شاه د مغولی کورنۍ پاچا پر پاچهي پريښو، او پخپله قندهار ته ولاړ.

۸. اتم سفر په ۱۱۷۵ تر ۱۱۷۷ﻫ پوری اوږد وو، په دې سفر کي ده د ياغی سکهاو ريښې په پنجاب کي وکښلې، د سر هند سره ئې د رجب په

یولسمه ورځ ۱۱۷۵ھ د سیکهانو له اویا زرو لښکرو څخه ۲۵ زره تنه مړه کړه، او دوه کاله په پنجاب کې و، ځکه چه کشمیر بیا یاغی سوي وو، نو ئې کشمیر هم بیا ایل کړ، او په ۱۱۷۷ھ د ملتان او ډیرو له خوا د ګومل له درې څخه غزنی او بیا قندهار ته ولاړ.

۹. د احمد شاه نهم سفر په ۱۱۸۱ھ کې وو، چه د تخارستان او شمالی ولایاتو سمون ئې وکړ. او د بخارا پاچا عبدالعزیز خان سره ئې روغه وکړه، او د افغانستان حدود ئې له بخارا سره وټاکل، دغه د اعلیحضرت آخرني حربي سفر وو.[1]

اعلیحضرت ښاغلی احمد شاه بابا په ۱۱۷۷ھ د اوږدو سفرو او زحمتو په سبب ډیر ناروغه سو، نو تر دې وروسته دی په داخلی اصلاحاتو بخت وو، څو چه په ۱۱۸٦ھ کال د هوا د تبدیلۍ دپاره د توبې غره ته ولاړ چه د کوړک یو ښه ځای دي، او په دغه ځای کې د سرطان په مرض[2] د عمر پر ۵۱ کال په ۲۰ د رجب چه د جمعې شپه وه وفات، او د قندهار په ښار کې ښخ سو. په دې ډول زموږ ښاغلی او غښتلی پلار احمد شاه بابا، د خپل عصر یو بریالی نابغه وو، چه یوازې د حرب او جنګ پهلوان نه، بلکه د علم او ادب او اصلاح علمبردار هم وو، د دې کتاب راتلونکې پاڼې به تاسې ته په ښه ډول د ده علمی او ادبی کارنامې هم ښکاره کې.

---

۱. د دغو سفرونو تفسیلات وګوري په حیات افغانی، سراج التواریخ، خورشید جهان، تاریخ سلطانی، تاریخ هند د ای مارسډن، تاریخ هند د سید ابو ظفر ندوی، سیر المتاء خرېن، سر جان ملکم او ملیسون او مکمن او نور...
۲. د امیر عبدالرحمن خان تاج التواریخ، ج ۲ فصل ۷.

کابل شوربازار د قوس اول ۱۳۱۹ش
عبدالحی حبیبی، د پښتو ټولنی عمومی مدیر

# توضیح

دا کتاب له درو قلمي نسخو څخه تصحیح او تکمیل شوی دي، ځکه چه د احمد شاه بابا په دیوانو کي غلط لیکونکو محررینو لاس وهلي او اکثر اشعار ئې ور خراب کړي وه، نو له دغو درو نسخو څخه ئې موږ تصحیح په ښه ډول وکي.

۱. هغه نسخه ده چه ما په سنده کي میندلې ده، خوشخط طلا کاري ده، لیکونکی او د لیک تاریخ ئې ندی ښکاره.

۲. هغه نسخه ده، چه د کابل د پښتو ټولني په کتابخانه اړه لری، دا نسخه هم خوشخط طلا کاري ده، مګر ډیری غلطۍ لری، او ناپوه کاتب مسخ کړې ده.

۳. یوه ناقصه نسخه ده، چه د سر پاڼی نه لري، ۱۱۶ مخه ئې سته، په ٦ د شوال چهار شنبې سنه ۱۱۸٦ھ د احمد شها بابا د وفات په کال لیکلې شوې ده، دا نسخه صحیحه ده، او ډیری داسی بدلي لري، چه په نورو دوو نسخو کښي نسته، لمړی د قندهار د سدوزو د کورنۍ په تصرف کي وه، اوس د قندهار د بلدیې د ریاست په موزیم اړه لري. هغه بدلي چه په دوو یا درو نسخو کي وې، بې له کومي اشارې لیکلی شوي دي، اما هغه بدلي چه د ریاست بلدیه له نسخې څخه اخیستي شوي دي د پاڼی په پای کي د (ب) په

توری نخښه شوي دي، او هغه د الفاظو اختلافات چه د پښتو ټولني په نسخه کي سته د (پ) په حرف ښولي شوي دي.

## یادونه

په دې کتاب کي احمد شاه بابا د شعر د سبک له خوا، د خوشحال خان مقلد لیکلي شوی دي، مګر له وروسته پلټنو څخه ښکاره شوه، چه احمد شاه بابا د رحمان بابا په ادبي مکتب کي داخل، او د هغه نامور شاعر پر سبک تللی دئ.

(حبیبی)

(۱)

# احمد شاه بابا

## ادیب، شاعر، مصلح، مفکر

# لمړی وینا

د اعلیحضرت احمد شاه بابا لنډ سوانح په دمخه پاڼو کي پښتنو ته وړاندي شوه، اوس زه غواړم چه د احمد شاه بابا پر شاعري او د ده پر وینا باندي څیړنه وکړم او دی د یوه مقتدر او مفلق شاعر، پوه عالم، بصیر اجتماعي سړی، محقق، فیلسوف، او سترګه ور متصوف په ډول در وښیم ځکه چه دی تر اوسه فقط د یوه نامتو جهانګیر او فاتح، او حربی سړی په ډول پیژندلي شوي دئ.

زه به په لاندي لیکو کي د ده پر علم، ادب، سیاسی او اجتماعي افکارو، او فلسي او علمي مقام باندي تبصره ولیکم، او په هر ځای کي به د ده وینا، د مثال او برهان په څیر در وړاندي کړم، ښایی چه د پښتنو د دغه لوی اجتماعي مصلح، او ښاغلی بریالی د پلار توب حقوق څه نه څه پر ځای شوي وي، دا دي چه څم اصل مطلب ته:

## د توري او قلم خاوند

لکه دمخه چه مو وویل، تر اوسه دنیا، احمد شاه بابا په دې ډول پیژني، چه د خپل عصر توریالی او بریالی سړی وو ده د خپلي توري او میړاني په سیوري کي د افغانستان اوسني دولت تشکیل کړي، او شا و خوا ئې په خپلو زړو طبیعی حدود کي خپور کي.

احمد شاه بابا د هند او ایران او بخارا په مملکتو کي هم فتوحات وکړه، مګر هلته ئې د هغو ځایو پاچهان پریښووه، نو دی د منځنۍ آسیا مشهور فاتح او شهنشاه وو.

دا خو د ده د توری برکت وو، او دی د خپل عصر ډیر نومیالی فاتح او بریالی وو، مګر راسي چه اوس موږ د ده د قلم خوا هم لږ څه روښه کړو او دا ښکاره کړو، چه احمد شاه بابا د علم او ادب له پلوه څه مقام درلود؟ او ده علاوه پر خپلو سیاسي او حربي خدمتو، پښتنو ته څه علمي او ادبي خدمتونه کړي دي؟

احمد شاه بابا لکه د آسیا د مخني فاتحین (لکه چنګیز، تیمور، نادر) یوازي پخپلو جنګی تشکیلاتو او سوقیاتو سره جهانګري نه ده کړې، بلکه ده د خپلي توری سره قلم، او د خپلي سر بازۍ او توریالی توب سره علم او فضیلت، تقوا او ادب هم ملګري درلوده، ځکه نو دی موږ د آسیا یوازي دلاور او نامتو بریالی (فاتح) نه ګڼو، بلکه د دې خاوري یو زبردست ادیب، پوه عالم، عادل پاچا، لوړ شاعر، اجتماعي مصلح، دینی پیشوا، روحانی مقتدائې هم بولو، که زموږ لاندي لیکونه وکتل سي، دغه خبره به تاسي ته ښه او په ټینګه مدلله سي.

## د احمد شاه بابا شاعری او ادب

### تر احمد شاه بابا دمخه د پښتو شاعری او د ده سبک

هغه وخت چه زموږ پښتون پلار اعلیحضرت احمد شاه بابا ژوندی وو، د پښتو شعر هم ښه رونق درلود، تر ده دمخه نیمه پیړۍ مرحوم خوشحال خان خټک د پښتو ژبي پلار د پښتو ادب یو مشهور ادبي مکتب پرانستلی وو، چه دغه مکتب څخه ډیر نومیالی او د کمال خاوندان راوتلي وه، احمد شاه بابا هم د خپل شعر په ظاهري او مادي ډول، د خوشحال خان خټک په مکتب کي فیض موندلی، او له دغي ډلي څخه ګڼل کیږي، یعني د وینا طرز، او د کلام ډول، او د شعر سبک ئې هغه د خوشحال خان سبک دئ، ساده والي، ګران او پیچلي استعارات نه لري، وینا ئې خوږه او دلکشه ده، په شاعري کي لکه د پاړسو ژبي د "هندی سبک" خاوندان صرف خیال پرست idealist او مشکل پسند نه دي، بلکه هغه سبک چه لوی مؤسس ئې خوشحال خان خټک دي، تعقیب کوي.

دغه سبک موږ په پاړسو کي د "غزنی د سبک" سره مشابه کولای سو.

له خوشحال خانه تر احمد شاه بابا پوري لږ عمر یعني تقریباً نیمه پیړۍ تیره سوې ده، مګر دغه څلویښت پنځوس کاله د پښتو د ادب په تاریخ کي ډیر اهمیت لري، زه ویلای سم، چه په دغه پنځوس کاله کي د پښتو د ادب ګل زرغون شوي، او سټه ئې خورا ټینګه شوې وه، ځکه چه تر خوشحال خان دمخه پښتو ادب ځني مخصوص سبکونه درلوده، چه د عروضی او قافیه وی شعر تر اساسو نه وه لاندي، مګر تر خوشحال خان را هیسته موږ وینو

چه پښتو ژبې ډېر مقتدر او پیاوړی ادباء او شاعران موندلي، او د ادب بیرغ ئې د "منځنۍ ایشیا" په غرونو کي رپېدلي دي!

نو دغه پنځوس کاله د پښتو د ادب په تاریخ کي د زرو کالو اهمیت لري، په دغه پنځوس کالو کي موږ د پښتونخوا په جګو غرو کي ډېر اور ژبي ویونکي (شعراء) وینو، د خټکو ادبي او علمي خدمتونه هیڅکله نه هیریږي، چه د اکوړې څخه د دوی زړو وړونکي بړغونه د پښتو په شاعري او ادب کي وارویدو شوه، د خوشحال خان ختک د پلارتوب پاخه او استادانه اشعار، د اشرف خان هجری له درده او سویه ډک بړغونه، د عبدالقادر خان خټک روح پرور مضامین، د کاظم خان شیدا، او علی خان، او اسکندر او نورو خټکو ادیبانو برجسته او قیمتی شعرونه ټوله په دغه نیمه پیړۍ کي منځ ته راغلي دي! علاوه پر دغه د مهمندو رحمان، او د قندهار د هوتکو عبدالرحیم او د کاکړو پیر محمد او نور زبردست او اور ژبي د پښتو ادیبان په دغو وختو کي لرو، او د پښتو ژبې شعر او ادب دوی خورا هسک توب او لوړتیا ته رسولي دي[1] چه زموږ غازی پلار احمد شاه بابا هم د ژبې له دغو حقیقی خدمت کونکو څخه دي!

احمد شاه بابا لکه د پښتنو او اجتماعیاتو او سیاسیاتو، او عمومي ژوندون ته چه لوړ لوړ خدمتونه کړی دي، د پښتو و علم او ادب او شعر ته ئې هم ګرانبها او د ګټو ډک خدمتونه کړي، او د ملی ژبي په لویو ادیبانو کي ګڼل کیږي.

---

۱. د پښتو ادب د نشوو ارتقا تاریخ په "تاریخچه شعر پښتو" کي د ۱۳ کال د طلوع افغان وګوري، دلته زیاتي نه ځایږي.

# د احمد شاه بابا د کلام عمومي ښيګړې

لکه موږ چه دمخه په پخوانيو نشراتو کي مفصلاً ليکلي وه[1] شاعري د انسان د فطرت ږغ او د زړه د کومي آواز دئ، شعر د انسان د زړه او دماغ ترجمانی کوي، او د عواطفو او احساساتو له چينې څخه زيږي نو هغه زړه چه مرکز او منبع د ښو احساساتو او پاکو جذباتو او ښو عاطفو وي، سليم شعر، او سمه وينا او اثر بخښونکي ږغ ځني را وزي، احمد بن عمر چه په نظامی عروضی سمرقندی مشهور، او له پوهانو څخه د سپږمي هجری پيړۍ دی (حدود ۵۵۰ھ) ليکي چه: "شاعر ښائي سليم الفطرة عظيم الفکرة صحيح الطبع جيد الرويه، دقيق النظر وي..."[2]

په دغه صفتونو چه عروضی د شاعر دپاره لازم ګڼلي دي، زموږ غازی احمد شاه پوره ستايلي وو د احمد شاه بابا د پاچهي حيات، او د عدالت رويه، او د ده ملت خواهي او لوړ همت او غزم، او بيا د ده ميړانه او ښندنه دلالت کوي، چه ده لوی فکر، او سمه طبع، او نری نظر، او سليم فطرت درلود. نو ځکه د ده شاعری رشتينې شاعری ده، او ويل ئې د زړه له کومي دی!

د احمد شاه بابا په شعر کي د ده لوړ فکر هسک همت د پښتونوالی جذبات، د شاهنشاهۍ جګ افکار د بخښني او ښندني هسک غواطف د توريالی توب برجسته احساسات، د جهانګيرۍ د شجاعت عزم، د ايمان او

۱. د عبدالقادر خان د ديوان مقدمه طبع د قندهار ص ۳۱ وګوري.
۲. چار مقاله ص ۳٤ طبع د برلين.

عقيدې ټينګار، د عشق سوزان دردونه، د ميني د دنيا عجيب او غريب ګذارشات ښکاره دي!

د توری پر ميدان يو بريالی او ننګيالی سرباز دی، د پښتنوالی پر ډګر يو بشپړ پښتون دی، د ديانت او تصوف او ايمان په خوا کي لوی متدين او متشرع روحاني دی، د سياست او مشرتوب له پلوه د خپل عصر لوی سياسی مشر او فاتح دی. دغه ټوله خواوي د ده په وينا کي سته او په اجتماعی دنيا کي تکړه مورليست moralist دی، د ده وينا اخلاقی مزايا لري؛ ويل ئې ساده او دلکش او مؤثر دي، شعری صنائع او بديعي فنون هم د ده پر وينا اثر لري، د تصوف له دنيا څخه دی ډېر ږغيږي ځکه نو د ده د کلام لو برخه هم د تصوف له اصطلاحاتو ډکه ده، توريالي توب، شجاعت، سربازي، ښه اخلاق، سخاوت، تواضع او نور ښه خويونه ستايي، او خپل ملت ته ئې تشويق ورکوي. حماسي احساسات ئې هم خورا لوړ او تند دي، کله د يوه بريالی حربی قوماندان په ډول د توريالی توب په ستاينه او تشويق کي خواږه مضامين وايي! کله د وطن د حب تبليغ کوي؛ او پښتانه ملی وحدت ته را بولي، او کله د علم و خوا ته ښه تشويقونه فرمايي.

د احمد شاه بابا وينا له تعقيد او ابهامه څخه تشه ده، خپل لوړ افکار، او د سوی زړه ږغ، په ساده او خوږو الفاظو څرګندوي، ګران تشبيهونه نه لري، له وينا څخه ئې د پښتنوالي بوی راځي، محبوبه هم د پښتون په دود ستايي او د تصور او تخيل په دنيا کي هم د پښتنوالي تر حدود نه وزي.

دا د احمد شاه بابا د کلام عمومي مزايا وه، اوس به نو لږ لږ د ده د کلام پر مهمو برخو څه شيړنه هم وکو چه ښاغلو ويونکو ته ښه ښکاره سي.

تر ټولو دمخه د ده له دغه یوه بیته ئې د شعر حقیقت ښه څرګندیږي، چه د ده شاعری تشه وینا نه وه؛ بلکه د زړه له منځه څخه ئې ږغ راؤت:

بې له عشقه شعر وایې          له ویلو شرم ته که!

## احمد شاه بابا او د وطن مینه

په پښتنو کي ډیر لوی لوی شاهنشاهان تیر سوي دي، پښتنو لودیانو او خلجیانو، په خورا عظمت پر ټوله هندوستان او پښتونخوا حکومت کاوه، شیر شاه سوری چه د هند مشهور او عادل شهنشاه دئ، حکومت ئې د ګنګا له څنډو د پښتنو تر غرو پوری خپور وو، مګر اکثرو شاهنشاهانو د وطن غرونه پرې ښي، او په خپلو نیولي مملکتو کي ورک او میشته وه، د افغانستان په شاهانو کي احمد شاه بابا په حب الوطن او سیاست کي ډیر د شهنشاه محمود زابلی سره مشابهت لري، ولي چه دواړو، سره د نیولو د ډیرو ارتو مملکتو بیا هم مرکز په خپل وطن کي ټینګ کړي او دغه مځکه ئې د خپلو ټولو مملکتو عمراني او ادبي او علمي او اقتصادي مرکز ګرزولې وه.

احمد شاه بابا له خپلي مځکي او خپلو غرو سره ټینګه مینه درلوده، ده د پښتنو په اصلی مملکت کي له ملتانه تر هراته په کوچنیوالی ژوندون کړی، او خپل د خالپوځو ځای ئې هیڅ کله نه دي هیر کړي!

احمد شاه بابا خپل وطن پخپلو طبیعی حدود کي ښه پیژاند، او په دغه نکته ښه پوه وو، چه پښتانه نه ښائي د دغه غرو مرکزیت له لاسه وباسي، او لکه نور شاهان پخپلو مفتوحه مملکتو کي ورک سي.

د احمد شاه بابا دغه وطني مينه او "ملي نظريه" وه، چه د ده د افغانستان يو مستقل دولت د پښتونخوا په غرو کي بيا تشکيل کئي، او دا څو پيړۍ تر ده وروسته پر هغه تشکيل پاته دي!

د احمد شاه بابا ژوند ملی ژوندون وو، په عيش او تنعم پابند نه وو، ځکه نو ده د پښتونخواه سپيره غرونه، د مفتوحه مملکتو تر عيش خوښ کړي او هغه وخت چه د ډهلی پر تخت کښينستي هم ئې خپل وطن په ياد وو، او د دغي خاوري په مينه کي ئې خواږه اشعار ويلي دي!

د احمد شاه بابا وطني اشعار، دومره سوزان او له جوشه ډک، او د ميني او محبت له احساساتو څخه سرشار دي، چه هر پښتون ئې په ويلو متأثر او متهيج کيږي.

احمد شاه بابا د شاهنشاهۍ د شوکت او عظيمته سره د هندوستان په زنګلو کي پروت دئ، د ده بريالي لښکر د ډهلی ښار فتح کړ، او د پښتنو پلار په خورا عظمت او برم او جلال هغه ښار ته داخل سو، چه پخوا هم د پښتنو په لاس کي وو، فتح او نصرت، د هندوستان شاهنشاهي نيول، خو داسي چاري دي؛ چه ضرور به احمد شاه بابا په خوښ شوي وي، مګر سره د دغه هم لکه چه د ده زړه د وطن پر غرو ګرزيدي، وګوري په دغه بيت کښي دغه حالت څنګه تصوير کوي:

د زړه ګل به مي له خاورو کا سر پورته
که نسيم له کوهستانه رسيده

د پښتونخوا د غرو نسيم او نرى ورږم د يوه پښتون كله هيريږي؟ نو احمد شاه بابا چه هم يو رشتيني پښتون وو، تل په پرديسى كي د وطن په ياد ژړيده، يو ځاي دغه د وطن د ميني د زړه لمبې په دې ډول ښئي:

د زړه فرياد مي له جدايۍ اور مي ورک نشي د اشنايۍ

چه پر وطن وي زړه څه قرار وي يم بې طاقته په پرديسۍ

احمد شاه بابا د وطن په حب كي يوه خوږه او بليغه بدله ويلې ده، دا بدله د ده د وطن خواهۍ احساسات ښه تصوير كوي، او د ده د وطن غوښتلو فلسفه ځني څرګنديږي!

د پښتنو د ادب په تاريخ كي د وطن د ميني اشعار ډير او خورا غوره دي، يوه لو برخه د پښتو ادبياتو د وطن په ستاينه پوري مخصوصه ده[1] مګر د احمد شاه بابا دغه يوه بدله د يوه لوى ديوان قيمت لري، او ټوله وطنخواهانه جذبات، او د وطن د ساتني حماسي احساسات ئې پكښي يو ځاى كړي دي، دغه بدله موږ دلته را نقلوو:

احمد شاه بابا ويني چه د دې پاكي خاوري مينه د پښتنو په زړه كي خورا ټينګه ده، ولي چه د پښتنو ښكلى او ګلالى ځلمى تل د احمد شاه بابا په مشرتوب د ده تر جنډۍ لاندي د دې وطن د ساتني، او د برم او جلال د لوړولو دپاره ولاړ وه، احمد شاه بابا د پښتنو ځلمو دغه وطن خواهانه حال داسي بيانوي:

۱. د پښتو پر وطنياتو باندي ما يو مفصل مضمون سره له ښو ښو نمونو د كابل د مجلې د (۷) جلد به شمارو كي ليكلى دي، شائقين دى هغه ولولي.

ستا د عشق له وینو ډک سوه ځګرونه

ستا په لاره کي بایلي ځلمی سرونه

احمد شاه بابا ګوري، چه د ده زړه ځنګه په خپلو خاورو او خپل وطن پوري تړلی دي، نو هر وخت د وطن په بیلتون کي ځلبلاند، او په هستوګه کي یې خوښ او ښاد دي:

تا ته راشمه زړګی ځما فارغ شي

بې له تا مي اندیښنې د زړه مارونه

احمد شاه بابا، که څه هم د پښتونخوا شا و خوا ټوله مملکتونه ونیول، او د پښتنو زاړه مفتوحه ممالک ئې بیرته لاس ته راوسته، مګر هر وخت چه پخپلو مملکتو کي د یوه بریالي شاهنشاه په ډول ګرزیدي، هیڅکله ئې د خپل وطن ښکلی باغونه ندي هیر شوي:

که هر څو مي د دنیا ملکونه ډیر شي

ځما نه هیر نشي دا ستا ښکلي باغونه

هغه وخت چه احمد شاه بابا د ډهلی د شاهنشاهۍ پر تخت کښینوست، د هغه ښکلي او زیبا ښار په شاهی ماڼیو او باغونو کي هم د ده څخه د خپل وطن د غرو ښایسته او زړه وړونکي څوکي هیري نشوې، او داسي ئې د وطن په مینه کي بږغ وکي:

د ډهلی تخت هیرومه چه را یاد کړم

ځما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه

تر دغه وروسته نو زموږ ښاغلی ننګیالی بریالی پلار د پښتنوالي او پښتو د پرتم او برم په افتخار کښیوزي، د خپل توریالی ملت په توره او پښتنواله فخر

کوي او وياړي، نو وايي که پښتانه او زه د ميړاني توره وکاږو، او د پښتنو د زاړه او تاريخی عظمت په ياد، بيا شاوخوا وګورو، نو به د شير شاه سوری، او سلطان حميد لودين روښي دورې بيرته نوي شي. په دغه ډول د احمد شاه بابا په همت او ننګيالي توب او پښتنواله دغه خبره د ده رشتيا شوه، او د وطن تير عظمت ئې په خورا مينه بيرته وګاته.

د رقيب د ژوند متاع به تار په تار کړي
چه په تورو پښتانه کا ګزارونه
د فريد او د حميد دور به بيا شي
چه زه وکاندم پر هر لوري تاختونه

د دې بدلی په پاې کي وطن ته داسي خطاب، او د مينی د ميني داستان ختموي:

که تمامه دنيا يو خوا ته بل خوا يې!
زما خو خوښ دي ستا خالي تش ډګرونه
"احمد شاه" به دغه ستا قدر هير نکا
که ونيسي د تمام جهان ملکونه

دا وه زموږ د بابا، د وطن د ميني، او پښتنوالي د حب احساسات، چه لنډ مو وليکله.

# د احمد شاه بابا د وطنیت فلسفه

د وطن مینه په انسانانو کي طبیعی ده، د هر چا خپل کور او کلی خوښ وي، پښتنو په یوه متل کي د انسان دغه اجتماعی جذبه، ښه تصویر کړې ده چه وایي"هر چا ته خپل وطن کشمیر دی" د وطنیت عنعنات او جذبات په انسانو کي خورا زاړه دي، د تمدن په تاریخ کي د وطن تعریف داسي کیږي: تیرو خلقو وطن هغه ځمکه بلله چه پلار او نیکه ئې پکښي اوسیده، او هدیره ئې هغه وه، د کورنۍ روایاتو یوه ټوټه ځمکه دوي ته مقدسه کړې وه چه وطن ئې بلله.[1] په زاړه یونان کي وطن یوه مقدسه کلمه وه، چه په دیني شعائرو ئې ګڼه بلله. د یونان مشهور فیلسوف افلاطون، وطن خپل روزونکی باله او خپل ژوند ئې په وطن پوري مربوط ګاڼه، سقراط د ډیري وطن خواهۍ څخه ځان د وطن د قوانینو په احترام کي قرباني کی.[2]

په اجتماعی پوهانو او هغو عالمانو کي چه د انسانانو پر ژوند څیړني کوي ډیرو د وطنیت پر فلسفه باندي بحثونه لیکلي دي، چه ځنو دولت او حکومت د وطنیت اساس ګڼلي او د دولت مرکز، د وطن مرکز بولي.[3] مګر دغه د وطنیت سیاسی نظریه ده، نوي اجتماعی علماء چه د وطنیت فلسفه د اجتماعي خوا پلټي وایی چه:

---

۱. د فوستل ډوکولانژ فرانسوی (۱۸۸۹-۱۸۳۵) د تمدن تاریخ.
۲. اصول تمدن.
۳. وګوري د ابن خلدون مقدمه ص ۹۲ طبع د مصر.

”وطن د پلرونو او نیکونو د ژوندون ښکاره کونکی، او د اجتماعی اساسانو ټینګونکی او اصل دي.“ [1]

یو بل اجتماعی عالم وایي:

”انسان لمړی د خپلی مور سره مینه لري، دغه مینه وروسته د پلار او نورو خپلوانو سره نښلي، له خپلوانو څخه قبیلې او پښت ته ځي، او لکه یوه دائره په افقی ډول خپریږي، په وینو او روحی عواطفو ګډیږي، څو چه و حب وطن ته ورسیږي، نو د مور او پلار مینه د وطنیت د مینې اساس دئ، تر دې اندازې چه د وطن کلمه په ځنو اروپائی ژبو کي د پلار له کلمې څخه جوره شوې ده.[2] مثلاً د لاتینی پاټریا patria یا د جرمنی vaterland واټرلینډ یا د انګلیسی fatherland.[3] په دې ډول نو په اوسني علم الاجتماع کي ”وطن هغه خاوره بولي چه نسبتاً طبیعی حدود لری، او خلق پکښي هستیږي چه دوی خپل دودونه، مذهب، ژبه، حکومت او یو شانته اجتماعی ژوندون لري.“ [4] دا خو لنډ هغه نظریات او آراء وه، چه د وطنیت پر فلسفه په اجتماعي علومو کي څرګند شوي دي، اوس به نو راسو چه ادباء او شاعرانو پر وطنیت باندي څنګه افکار ښکاره کړی او څو ډلي شوی دي؟ ځني مفکرین او ادباء د وطنیت فلسفه پر اجتماعی ژوندون بناء کوی یعني د وطن سره مینه لری، له دغه پلوه چه هلته د ده خواږه خپلوان او زړه ته تیر مینان سته، نو که په وطن کي دغه اجتماعی رابطه وشلیږی، یعنی د چا

١. د ډوکتور کوستاو لوبون کلمات ص ٥٠ مصر طبع.
٢. په پښتو وطن (مینه) بولی، چه ریښه ئې هم (مینه) یعنی عشق او محبت دی.
٣. علم الجتماع د نقولاحداد ص ٢٥٧-٣٣٨.
٤. د ارزانی اصول تمدن ص ٤٦.

خپلوان او یاران هلته نه وي، هغه وطن د مینې او مسرت ځای نه ، بلکه د ناورین او ویر سبب ګرزي، د عربو یو شاعر دغه فلسفه په یوه بیت کې داسې ښیي:

و من مذهبی حب الدیار لا هلها    و للناس فی ما یعشقون مذاهب

"یعنې هر څوک په مینه کې بیلې لارې لري، زه خو وطن د خلقو دپاره خوښوم."

د عربو یو بل مشهور شاعر لبید بن ربیعه هم هغه وخت چه د زړو یارانو پر کلي او وطن راځي، نو د مینې او مسرت پر ځای ئې له لیدلو څخه وحشت او دهشت مومي، ولې چه د ده خپلوان او مینان هلته نسته، نو دئ هم شرافت د مکان له مکینه بولي او وائي:

عفت الدیار محلها فمقامها    بمنی تأبد غولها فرجامها

یعنی د یارانو د تګ په سبب په "منی" کې اوس "غول" او "رجام" چه د دوی د هستوګې ځایونه وه، وحشت زیاتوي."[1] په دغه ډول د عربو دغه ادباء، د وطنیت د مینې اساس پر اجتماعی مینه ږدی، سعدی د پاړسو مشهور ادیب هم په وطن کې د حسرت ژوندون نه خوښوي، لکه چه وائي:

سعدیا حب وطن گر چه حدیثی است صحیح
نتوان مرد بحسرت که من آنجا زادم

په پښتو شاعرانو کې هم ځنې ادباء د وطنیت دغه فلسفه مني، یعنې خپل وطن د خپلوانو او یارانو دپاره پر ګران دی مثلاً:

---

۱. د فرید وجدی دائرة المعارف ج ۸ ص ۲۸۷.

وطن د یار په سترګو ښه دی
چه جانان نه وي، څه وطن څه بې وطنه!

عبدالرحیم هوتک وائی:

شرافت د مکان ټوله په مکین دی
بې مکینه څه په کار دي تش د یار؟

د پښتنو فیلسوف شاعر د پښتو پلار خوشحال خان خټک هم د اجتماعی مفکرینو او پوهانو په ډول وطن ته ګوري، او پر اجتماعی فکر خپله فلسفه داسي ټینګوی:

څه بلا د خدای ده د وطن جلا کیدل
وروڼه عزیزان خویښان وبله بیلیدل

په دې ډول زموږ د مشرق ادیبانو او مفکرینو د وطن د مینې فلسفه له اجتماعي یا سیاسي پلوه ښوولې ده، البته دغه علل ټوله هم د وطن د مینې په احساس، او د خپلي خاوري په محبت او عشق کي برخه لري، مګر د احمد شاه بابا فلسفه له دغو افکارو څخه بیله ده، ده که څه هم خپل وطن، د پلار او نیکه هدیره، او خپله خاوره په تقاضا د ملیت د اشتراک او خپلوۍ ګرانه ګڼله، مګر د ده د وطنیت فلسفه تر کلیه د "حب الدیار لا هلها" ډیره لوړه ده، یعني یوازي پر اجتماعي ژوندون او اشتراک د منافعو نه بنا کیږي، بلکه دا ویلای سم، چه احمد شاه بابا خپل وطن په هغه علمي تعریف چه دمخه مو د وطن دپاره وکړ، ټوله پخپلو طبیعی حدودو خوښ درلود، اما دا مینه او عشق بالذات د دغو خاورو سره وو، یعني پر عللو او اسبابو مبني نه وو، بلکه یو رشتنی مجرد او لوړ عشق وو، چه ده د خپل وطن سره درلود، ځکه نو دئ

ځانته یوه بیله او مجرده د وطنیت فلسفه لري، او هم دغه سبب وو چه احمد شاه بابا د شاهنشاهۍ تر ګټلو او د شاو خوا ډیرو مځکو تر نیولو وروسته (لکه نور پښتانه شاهنشاهان) وطن او خپل مرکز هیر نه کي، او افغانستان ئې پخپلو طبیعی حدود کي وساته.

په شا و خوا ودانو ملکو او مځکو کي که څه هم احمد شاه بابا، د شاهنشاهۍ لاس درلود، مګر بیا هم دی د هغو ځایونو عیشو او د ډهلی د ماڼیو عشرتو د خپل غره او خپلي خاوري له یاده نه ویوست، او خپل مرکز ئې تر پایه نه پریښو، څو په دغه خاوره کي مړ او دلې ښخ شو.

دا خو د احمد شاه بابا د وطنیت یوه مجرده او خورا پخه فلسفه ده، چه وطن (من حیث هوهو) پر ګران وو، یوازي ئې د یارانو او خپلوانو دپاره وطن نه یادیدي، او د وطنیت فلسفه ئې یوازي د اجتماعي او سیاسي پلوه نه وه، بلکه خپله مینه له دې جهته پر ګرانه وه، چه د ده مینه وه و بس.

احمد شاه بابا دغه د وطنیت خپله ټینګه او لوړه فلسفه چه زما په خیال د وطن د میني هغه خورا لوړه پایه ده، په یوه بیت کي داسي ښکاره کوي:

که تمامه دنیا یو خوا، ته بل خوا یې!
زما خو خوښ دي ستا خالي تش ډګرونه

وګوری احمد شاه بابا وطن ته خطاب کوي، چه که ټوله دنیا (یعنی ټول هغه اجتماعي او سیاسي او نور عوامل چه د وطنیت فلسفه په علم الاجتماع کي پر ولاړه ده) سره یو ځای شي او پر یوه خوا وي، او فقط د وطن تش او خالي ډګرونه پر بله خوا وی، دئ به وطن پر غوره کړي، او د دنیا شاهی او

خوښۍ او عيش و عشرت او د خپلوانو خپلوي، او د يارانو آشنائي به ټوله د ده په لار کي پريږدی:

”احمد شاه“ به دغه ستا قدر هير نکا
که ونيسي د تمام جهان ملکونه

د احمد شاه بابا دغه د حب وطن، او د مينی د ميني لوړه دعوه تشه د خولې خبره نه ده، بلکه دغه عملاً هم ښکاره او ثابته شوې ده.

ځکه چه ده د هندوستان د څو سوو کالو د شاهنشاهۍ مرکز ډهلی ونيولی، تر خيوا او بخار پوري ئې فتوحات وکړه، خراسان ئې لاس ته راوست، دغه ځايونه د پښتونخوا تر وچو غرو او دښتو خورا ښه وه، هلته ده ته شاهانه سامان موجود وو، مګر ده وطن هير نه کي، او د خپلو خاورو سپيره ډګرونه ئې د ډهلی پر تخت او ماڼيو خوښ وه!

نو لکه د ده د وطنيت فلسفه چه پخه او محققانه وه، هغسي يې عملاً هم د حب وطن مراتب ډير لوړ وه.

## احمد شاه بابا او ملی وحدت

احمد شاه بابا د ملت په درد خبر يو سړی وو، ده ليدلي وه چه هر وخت د افغانستان ملت تر يوه جنډۍ لاندي د ملی وحدت په سيوری کي ټول شوی دي، هغه وخت نو دغه ملت د لوړتيا او نهضت پر آسمان لکه لمر داسي ځليدلی، او هري خوا ته بريالی شوی دئ! احمد شاه بابا يو جهانديده او ښاغلی پوه مشر وو، ده ته د پښتنو د تاريخ لوړي ژوري ټوله ښکاره وې!

نو ځکه دغه ننګیالی او بریالی پلار د ملت د وحدت په لار کي ډېر زیار وکښل، ده د افغانستان هستیدونکی یې له امتیازه خپل زامن ګڼل، او ملت هم دئ "بابا" باله؛ د احمد شاه بابا په لوړو کارنامو کي د افغانستان د خلقو "ملی وحدت" دي، چه ده واړه اولس په یوه نامه سره ټول کي، او د هغو تفرقو او جګړو څخه چه د غلجی او درانی یا پښتون او تاجیک په منځ کي وې، و ئې ژغورلې.

که موږ د افغانستان په تاریخ کي پلټنه وکړو، دا به را ښکاره شي، چه د احمد شاه بابا دغه "ملی وحدت" فکر خورا پوخ وو، او د ده ټوله بری او فتوحات هم د دغه ملی وحدت په برکت مونده شوه.

د افغانستان ملت، چه هر وخت د ملی وحدت لاس سره ورکړي دي، نو ئې د دغه په برکت ډېر سعادتونه نصیب شوي دي، د غزنوی شاهنشاهانو په وخت کي چه د زابلی محمود په مجاهدت د افغانستان ملت د وحدت او یووالي نعمت وموندی، نو هغه وو، چه د ګنګا له غاړي بیا د دجله او فرات تر غاړو پوري خلقو د غزنی تر بیرغ لاندي ژوند کاوه، او د دې وطن برم هري خوا ته موجود وو، تر دې اندازې چه د غزنی د شاهنشاها محمود زوی مسعود چه د خپل پلار له خواه د هرات د خواوو نائب الحکومه وو، غوښته ئې چه ټوله ایشیا د غزنی تر پاچهۍ لاندی کي، او ولاړ سي بغداد هم ونیسي، چه ټوله د اسلام دنیا، د پښتنو تر بیرغ لاندي په سواني ژوندون وکي، مګر افسوس چه د دغه لوړ عزم سره د ده پلار په غزنی کي وفات او د پښتنو د

ملي وحدت رسۍ بيا وشليده[1] تر دغه وروسته هم د پښتنو د غوری، سوری، لودين، هوتکو شاهنشاهانو فتوحات ټوله د ملی وحدت په برکت شوي دي.

احمد شاه بابا چه د پښتنو پاچا شو، د ده لمړی کار دغه وو، چه د افغانستان ټوله ملت او هستيدونکي ئې سره را ټول کړه. او دوی ئې ټوله بې له کومه امتيازه او بيله کومه فرقه زامن وبلل، هغه وو چه دې ملت بيرته د ورور ګلوي لاس سره ورکي، او د خپل مهربان او خواخوږي پلار په هدايت ئې بيرته خپل بايللي مجد او برم لاس ته راووست. د احمد شاه بابا د ملی وحدت وصايا او هدايات چه ډير قيمتي دي، د ده په کلام کي په ښه ډول ذکر شوي دي، په دې پيړۍ کي چه زموږ د تجدد او نوی نهضت پيړۍ ده، موږ ته ښائي چه د دغه لوی پلار نصائح بيا عملي کړو، او په ښی غوږ ئې واروو.

احمد شاه بابا و خپلو زامنو او ګران اولس ته د ملی وحدت درس، د ملی عشق له سر چينې څخه ورکوي، هغه وخت چه د عشق او ميني اور په زړه کي بل سي، دغه "د مليت مينه" ټوله افراد د سړی په نظر کي بې له امتيازه يو شي کوي، او ټوله ملی وروڼو په يوه سترګه ګوري:

قافله د عشق راغلېه له کم خوا ده
پر زړګی باندي ميشته کا څه غوغا ده

د مليت د عشق جوپه چه د زړه پر کور کښته سي، په هغه زړه کي ټوله د مليت ارکان ځای نيسي، او د ملت ټوله لوی او واړه بيله امتيازه پکښي منل کيږي، او په يوه ډول مينه او محبت ور سره کيږي، ځکه نو احمد شاه بابا

---

۱. وګوري تاريخ بيهقی ص ۷ طبع د کلکته، د ائل ايشياتک سوسائټی له خوا.

هم د طوائفو تقسیم، او د قامو بیلوالي په یوه ملت کي فقط د (انا جعلنا کم شعوباً و قبائل لتعارفوا) په سترګه ویني، او د ده په صائب نظر کي هغه څوک محترم او ښۀ بلل کیږي، چه و جامعې ته مفید وي، ځکه نو وائي:

ټوله یو دی که غلجی دی که اودلی
ښه هغه چه ئې د زړه ښیښه صفا ده

د احمد شاه بابا توجه معنویاتو ته ده، نه مادیاتو ته! یعنی د انسان دپاره د شرف او لوړتیا مقیاس نه "قومی امتیاز" ګڼي، او نه ظاهري کالي او لباس، بلکه د ده په نظر کي میړه هغه دی، چه په اجتماعی ژوندون کي ئې وجود ملت ته ګټه رسونکی وي، او د ښو اخلاقو او مفیدو عملونو خاوند وي:

چه عمل یې د نیکۍ وي میړه هغه
که اغوستې ئې ګدله د خمتا ده

تر دغه وروسته چه مهربان پلار، خپلو زامنو ته د ملی وحدت او د انسان د حقیقي امتیاز او لوړتوب اصول وښوول، اوس نو ټوله ملت ته د ویښتوب او اتحاد بږغ کوي، او دوی د ملی وحدت خوا ته را بولي، چه ټوله په ګډه د ملی لوړتیا د میندلو دپاره زیار وکاږي، او د وروړګلوۍ لاسونه سره ورکي:

پښتانه دي ټوله لاس سره یو کاندي
چه مو نن غزا هر لوري شاوخوا ده

دغه و د احمد شاه بابا د ملی وحدت بږغ، چه موږ اوس په دغه پیړۍ کي د پښتنو غوږو ته ورساوه، ځکه چه اوس تر پخوا لا ډیر موږ و ملی وحدت ته اړ او محتاج یو.

پښتانه ښايي چه د خپل تاريخ دغه مشعشع عصرونه تل په ياد ولري، او د ملی وحدت په ښکاره او لويو ګټو پوه سي!

او په دغه وپوهيږي که سلطان محمود و، که غوری، که لودين و که سوری، که هوتک و که درانی ټولو د ملی وحدت په سيوري کي لوړتيا موندلې وه و بس!

## د لوړ توب او برى لار

احمد شاه بابا په ژوندون کي ډير د زيار او مېنود پر خوا دي، دی پر جدا وجهد، د ژوندون اساس ايږدي، او په دنيا کي د ټولو لوړتياوو او نهضتو عامل دغه زيار او جهد ګڼي!

احمد شاه بابا پخپله هم يو زيار کښونکي او جاهد سړی وو، او ځان ئې د زيار په سيوري کي د شاهنشاهۍ حد ته ورساوه، او د دنيا په لويو ميړو کي وګڼل سو.

احمد شاه بابا پخپل کلام کي د جد او جهد او زيار او مېنود تلقين په خورا ښه ډول کوي، او دغه حقيقت پښتنو ته په ښکاره ډول ښيئي چه په دنيا کي بې له زياره بله د برى لار نسته، او نه څوک بيله مېنوده لوړيدلای سي.

احمد شاه بابا د ژوندون فلسفه ټوله پر دغه ټينګه تيږه بنا کوي، او خپله ټوله لوړتيا او د شاهنشاهۍ عظمت د خپل زيار له برکته بولي، او د جد او جهد ثمره ئې ګڼي لکه چه وايي:

بې زحمته راحت چیرې مونده نشي

د "احمد" ځکه په هر لوري غزا ده

دنیا د احمد شاه بابا په نظر، یو بازار دئ، چه د لوړتیا هر راز متاعونه پکښې پیرودل کیږي، مګر قیمت ئې فقط د انسان سعی او زیار او سربازي ده:

"احمد شاهه" دلته جوړه سر بازي ده

د لوړتیا خرید کوه له دې بازاره

بل ځای په څه ښکاره الفاظو دغه فلسفه روښوي:

بې زحمته راحت ندی چا موندلي

د مچۍ په دود له ځانه خوره رطب

احمد شاه بابا ټول عمر په وطني جهاد او د پښتنوالی د لوړتیا په لار کي تیر کي، ده یو ګړی بې کاره په تنبلی او عیاشی کي نه کئ ضائع، ځکه نو دغه خپل حال داسي تصویر کوي:

"احمد شاهه" څو دي کار په لاس دی مټ کړه

حیف هغه چه په تیر کار موړي لاسونه

په دې ډول د بري لار، او د ظفر سر د احمد شاه بابا په نظر کي فقط زیار او مښود دي و بس.

# د احمد شاه بابا حماسيات

شعر او شاعری د ملتو د افکارو ترجماني کوي، دغه يوه هنداره ده چه د هغه ملت روح انعکاس پکښي کوي.

شاعر چه په هره دله او هر اولس کي ژوندون کوي، د هغه اولس اجتماعی ژوندون، او اجتماعی جذبات او افکار پر ده اثر کوي، نو هغه وخت چه دی شعر وايي، هغه ملی افکار او اولسی روح د ده په وينا کي ښکاره کيږي، او د ملتو بارز او ټينګ جذبات او روحيات تل د دوی د شاعرانو په ويناوو کي ښکاره وي.

شاعر که څه هم په خپله وينا کي يو موضوع نه ځايوي، او د ملتو پر پسيکولوژی (روحياتو) نه ږغيږي، بيا هم د ده هره وينا، له زړه څخه راوزي، او د ده زړه مرکز او منبع د هغو احساساتو او جذباتو دی، چه شاوخواو ته ئي موجود دي، يا د ده په اولس کي ګرزي.

په هغو ملتو کي چه د کار او عمليت روح غالب وي، د شعراو له ويناوو څخه دغه ښيګړه ښکاره کيږي، هغه اولسونه چه ميل ئي و انزوا او خضوع او فلسفي ته وي له شعره ئي هم دغه افکار را تويئيږي! هغه اقوام چه د دوي عمرونه په جګړو او توريالی توب کي تيريږي، د دوي اشعار تل له توری، او جنګ او ننګه بحث کوي!

لنډې دا چه په شاعری کي د اولس بارز او ټينګ صفات جلوه کوي، او شعر د ملتو د روح څخه نمايندګی کولا سي!

د عربو په ادبیاتو کي د هغو وختو اشعار، چه دوی په میړانه او توریالی توب پر دنیا قبضه کړې وه، ډیر د میړانی او توریالی توب په ښو احساساتو ډک دي، او د دوی د حماست نمایندګي کوي، په پارسی شعر کي هم لکه د جنګ او ننګ او رزم اشعار چه فردوسی ویلی دي، د مغولو تر فترت وروسته هغه ویښ حماسي افکار، بیا لږ مونده کیږي ځکه چه په دغه عصر کي هغه د رزم او حماست افکار او هغه لوړ حربی احساسات ورک شوی دي! ولی چه شاعر خو د محیط او اجتماع له فکر او احساس څخه متأثر کیږي نو چه په چاپیر او شاوخوا کي کوم شی نه وي، د شاعر په فکر کي هم لږ ورګرزي!

پښتون ملت خو ذاتاً او فطرتاً یو توریالی اولس دئ دغه د توري مینه او ننګیالی توب ئې په خټه اخښلي دي، د پښتنو ملی اشعار او ادبیات له رزمی او حماسی افکارو ډک دي، د دوی په اشعارو کي تل د میړو میړاني، او د ننګیالیو غیرت، او د توریالیو توری ستایلي کیږي، او دا ځني ښکاره کیږي، چه دا ښاغلی ملت له توری سره مینه لري؟ او په بازي او ننګه کي څنګه د میړو په څیر دریږی، معشوقه تل د مین په ننګه او مړانه ناز کوي، او وائی:

جانان مي سر پر وطن کښیښود
په تار د زلفو به کفن ورله ګنډمه

بالعکس د بې ننګۍ څخه داسي بد وړي، چه پر تیره مینه هم پښیمانه کیږي:

له سپیني توري نه دی ترپلود
پر بیګنۍ در کړې خوله پښیمانه یمه

دا هغه ملی احساسات دي، چه د پښتنو په ملی ادب کي اخښلی، او د دوی د ملی جذباتو نمایندګي کوي!

د پښتو ژبی د شعرا او ادب یوه لو او خوږه برخه هم د پښتنو شاعرانو حماسیات، او د ننګیالی توب د احساساتو خوا ده، د پښتو پلار خوشحال خان خټک په دې خوا کي ښه اشعار لري، چه دلته ئې دغه یو بیت کافی دي:

د تورو په میدان کي چه سودا وی د سرونو
هغه زمان مي ګوره تل به سور وی د ما آس

احمد شاه بابا خو هم یو پښتون شاعر دئ، دی خو د میړانی د ډګر بریالی قوماندان، او غښتلی لښکر مشر دئ، علاوه پر ملی او فطری میړانه او ننګه، له کوچنیوالي تر مرګه د جګړو په میدانونو کي په پښتنواله دریدلي، او ډیري لوړی ژوری ئې لیدلی دي، نو ځکه ده د پښتنوالی ډیر لوړ او ټینګ د حماست او غیرت احساسات پخپلو ویناوو کي ځاي کړي، خپل ملی جذبات ئې ټوله څرګند کړي دي!

د ده له کلامه دغه ښکاره ده، چه دا کلام د یوه پښتون وینا ده، او د داسي پښتون وینا ده، چه پخپلو ملی ښیګړو او حماسی جذباتو ئې زړه ډک، او د توریالی توب او ننګیالی توب مقدس ملی احساست په سر کي لری! مثلاً:

راته یو دي بحر و بر    که څه سمه وي که غر
په همت به ئې تسخیر کړم    شاهانه په شان و فر

پښتانه خو تل دا عادت لري، چه څوک په قوت او زور کي ور سره سم نه وی، نو د هغه سره جنګ څه، بلکه ناز هم ورکوي، او دا خبره د پښتنوالی له لوړ جنابه سره مناسبه نه بولي چه یو ضعیف دښمن محو کړی، یا پر یوه بې وزلي غلیم باندی د مټ زور ښکاره کي.

احمد شاه بابا د پښتنوالی دغه عالیجنابی او لوړ همت داسی بیانوي:

"احمد شاه" که د همت توره در واخلې
بیا به وکړې په رقیب باندي ماتم

مګر سره د دغه چه دی پر ځان او پر خپله میړانه اعتماد لري، او رقیب تباه کولای سي، بیا هم په دې ژبه ده ته وایي، چه زما څخه لاس واخله، که نه وي د توری دروړ لرم:

له "احمده" څخه لاس واخله
دي د توری دي دروړ

د توری دروړ، د احمد شاه بابا د پښتنوالی د حماست ابتکار دی!

احمد شاه بابا ژوندون د توری تر سیوري لاندي خوښ لری، او هغه فلسفه چه "قوت ژوندون دي" په ښه ډول مني، نو ځان ته وایي، چه د دغي فلسفې سره سم پر جهان بری ومومه:

په بریښنا د توری ژوند کوه "احمده"
د بری جولان پر لور د هر دیار که

یا دا:

که توبری ووري "احمده"
ته جولان کوه د خنګ

په پښتنواله کي پت او ننګه هغه شیان دي، چه تل ئې پښتون په سر ساتي، احمد شاه بابا د پښتنوالی پر دغه ښیګړه داسی ټینګ ولاړ دي:

پر ننګ مړ خو څه مړ نه دي      د بې ننګه ژوند جفا ده
لاس به وانخلم له ننګه      که په ننګ پاته دنیا ده
چه سر پرې کړی "احمد شاهه"      د هغو مینه رشتیا ده

احمد شاه بابا د پښتنوالی په میړانه، او د پښتنو په همت او شجاعت له هندوستانه تر ایرانه ټوله مملکتونه ونیول، او د مردانګۍ داد ئې ورکړ، د دغو فتوحاتو په وخت کي خپل حماسی او رزمي افکار داسي ښکاره کوي:

چه بر کړی مي خدای لاس په رقیبانو
ترو به زه د هند پر لور په تماشه ځم
چه د هند د ملکو فتحه مي روزي شوه
نور ایران لره په توغ په نغاره ځم
پر دا کړی داد دي خدای نسي پښیمانه
تر نګین مي ایران لاندی شاهانه ځم
چه ځما د ولایت فتحه روزي شوه
ترو به څه د یار له نازه کناره ځم

په دې ډول احمد شاه بابا پخپلو لوړو او ارتو فتوحاتو کي خپل حماسی افکار ښکاره کوي، او د پښتنو د زړه د ننګیالی توب جذبات پخپله وینا کي ښه تصویر کوي.

که مي برق د سپيني توری بیا بريښنا کړه
ستا په مهر په هر لوري عالمګير یم
دا نظر پر تا د يار دي احمد شاهه
چه په فتحو د ايران د هندوستان ځې
د خدای شکر مدام وايه "احمد شاهه"
چه پر درست جهان دي دور نغارې دي

## اخلاقيات

اخلاقی شاعری، ده مشرق د ادب، خاص بیا د منځنۍ آسیا د ادبیاتو یو مهم ټوک دي، په عربی او پارسی ژبو کي له زړې زمانې څخه یعني تقریباً یو زرکاله دمخه اخلاقی روح جوریدلی دی!

محمد ابن محمود بدائعی چه د بلخ وو د سلطان محمود زابلی په عصر ئې په پارسی ادب کي ده اخلاقی شاعرۍ ستهٔ ګښیښووه، او یوه اخلاقی (پند نامه) ئې منظومه کړه.[1] تر ده وروسته نو لوړ لوړ اخلاقی شاعران چه په نوې ژبه ئې مورالیسټ بللای سو منځ ته راغله، حکیم سنائی، نظامی، سعدی، ناصر خسرو، مولوی، ابن یمین او نور له اخلاقی مشهورو شاعرانو څخه دي چه په مشرق کي د دوی اخلاقی تبلیغونه او اقوال ډیر شهرت لري، او د مشرقی ملتو د اخلاقو پیکر، د دوی د افکارو څخه مرکب دي!

---
۱. شعر العجم ج ۵.

که څه هم په مشرق کي د مغولو تر ناورين وروسته، د خلقو اخلاق د عمليت او افاديت له خوا څخه د انزوا او نفی و خوا ته مايل شوی دي، او د اکثرو اخلاقيونو تبليغات او اشارات هم له دغو څخه مرکب دی او د پارسی اخلاقی شاعرۍ په زړه کي دغو منفی افکارو ځای نيولی دي، مګر بيا هم کله کله په دغه دنيا کي داسی ژوندی او فعال ادباء منځ ته راغلی دي، چه له اخلاقو څخه ئې د نفی او ترک دنيا خوا لږ کړی او د عمليت او فعاليت د فلسفې ساه ئې پکښي پو کړې ده، زه دا نه وايم چه په اخلاقو کي روحانيت او ترک دنيا، او انزوا، او نور منفی تلقينونه، ټوله ښه نه وه، بلکه دا وايم لکه يوازی د ماديت او عمليت فلسفه چه انسان سعادت ته نسی رسولای، دغسی هم د نفی او انزوا خوا يوازي د انسان د دارينو د سعادت دپاره کافی نه ده! ولی چه پخپله اسلام هم د اعتدال خوا خوښه کړې ده، چه نه مجرد ماديت او نه مجرده د ماوراء الماده فلسفه، بلکه يوه منځنۍ لاره ده!

د دغي خبري د روښولو دپاره موږ ته د عصر نبوت او صدر اول اسوهٔ حسنه سته، چه هغو هم د دنيا د سمولو دپاره جهاد کاوه، هم ئې د عقبی ښيګړي لاس ته راوړې. د قرآن عظيم هدايت (اعدلو افهو اقرب للتقوی) هم دغه منځنۍ لار ښئي.

په پښتو شاعري کي خو هم اخلاقی خوا د پارسی شعر تر اثر ډيره لاندي ده، خاص بيا په هغه وخت کي چه د پښتو شعر د ارتقاء لمړی ګام وو، د هندوستان د مغولو جګړو او ظلمو د پښتنو ادبياتو ملی ويښ روح ته درنه ډکه ورکړه، مګر بيا هم زموږ نامور ادباء په اخلاقی تبليغاتو کي کورټ د نفی او انزوا او کښته توب خوا نه نيسی، يعنی د پښتنو غښتلې او عملی

اخلاقی روح کوربړ ذلت او پستي نه مني، د پښتو پلار خوشحال خان خټک د دغه لوړ او عالی تبلیغ اوستاد دي او هیڅکله د اخلاقی فلسفې منځبې لار نه پریږدي، دی په عین هغه وخت کي چه د عجز تواضح تبلیغ کوي، د اخلاقو عملی خوا هم را ښئی، مثلاً وایي:

که په توره ئې ځواب ورکړې مردي ده
که وجود دی څوک آزار کاندی په چوب

بل ځای د انسان د اخلاقو دغه دوه پلوه داسي ښکاره کوي:

چه خبره د پستۍ د بلندۍ سي
په لویي لکه اسمان په پستي خاک

حمید بابا مهمند، د پښتوالی دغه لوړ او فانی نه کیدونکی روح، څنګه په یوه بیت ژوندي کوي:

یو به نسم مغلواله د رقیب ستا
په رشتیا که زیږولی پښتنې وم

احمد شاه بابا هم به اخلاقی شعر کي دغه ژوندي روح لري، دی له یوې خوا پښتنو ته د توری او شجاعت او عملی ژوندون تبلیغ کوي، له بلي خوا هغه اخلاق چه د ایشیا د شعر ډیره برخه په اړه ده، ښیئي، د دغو دوو خواوو تر منځ البته سمه لار چه اعتدال دي لاس ته راځي، د احمد شاه بابا د توری ستاینې او د ننګیالی توب تبلیغات او ژوندي افکار مو د حماسیاتو په برخه کي وویل، اوس به د ده نور اخلاقی افکار هم لږ لږ ښکاره کړو:

ځان پیژندنه:

د ځان پیژندنه د خدای پیژندنه ده (من عرف نفسه فقد عرف ربه) پر انسان هر راز او مختلف احوالونه راځي، پورته کښته، لوړه ژوره،ویني د سعدی په قول:

گهی بر طارم اعلی نشینم　　گهی بر پشت پای خود نبینم

اما پوه، او پوخ انسان هغه دي، چه په هر حال کي ځان نسي ځني ورک، احمد شاه بابا په هر حال کي خپل مقام نه هیروی، د شاهنساهۍ برم او جلال هم له ده څخه ځان نه ورکوي، پخپله وایي:

یاره زه خو هغه ستا د در ګدای یم
څه شو نن که "احمد شاه درانی" یم

د تکبر بدوالی او ضرر په دې الفاظو ښئي:

تکبر دي له شیطانه مه ئې نغوړه
چه په کبر به سروچ کړې لکه لوخه

بل ځای وایي:

بلهائې هر ګز پخپله لویي نکړم
همیش ستا د قدمونو دامنګیر یم

کمیني او عجز د انسان کمال دي:

کمیني شکستګي د تا کمال دي
خود بیبي په بلهایې ګڼه تباه

بل ځای وایي:

زه که نن بادشاه یم مغرور کله پخپل جاه یم
دغه ستا نظر پر ما دی که نه خاوري ستا د راه یم

وفا او پالنه:

په اخلاقی ژوندون کي وفا دومره اهمیت لري، چه هیڅ پوه او مفکر ئې له ښیګړو ځخه پټه خوله نه دی پاته سوی، اخلاقیونو بیل ابواب پر وفا لیکلی دي، د اسلام لوی اخلاقی عالم شیخ محی الدین عربی وایي، چه وفا د انسان برم او جلال لوړوی، مخصوصاً بیا مشران او پاچهان و دغه خلق ته ډیر اړ دي.[1]

خوشحال خان زموږ پښتون فیلسوف د انسانیت مقیاس دغسی ګڼی لکه د میړه په ستاینه کي وایی:

مخ ئې مخ، قول ئې قول، عهد ئې عهد
نه دروغ، نه ئې فریت نه تش تپاک

احمد شاه بابا هم په ژوندون کي وفا، د میړو سره لازمه ګڼي، او دا اخلاقی نظریه داسي ټینګوي:

مرګی ښه دي په دنیا نه چه ځوک شي بې وفا
سر په تیغ پریکړی ښه دي تر بې پته په دنیا

---

۱. فلسفة الاخلاق ص ۲۰.

## خپلوي له چا سره؟

احمد شاه بابا د وفا پر لوړه اخلاقي نظريه، د خپلوۍ او يارۍ اساس ايږدي، په دغه نظريه کي زموږ پلار، د مشرقي ادباو سره ملګرى دي، يو د عربو اديب محمد بن نصر حارثي وايي:

فاذا صاحبت فاصحب صاحباً　　ذ احياء و عفاف و کرم
قوله فى الشئى لاان قلت لا　　وان قلت نعم قال نعم

يعني: "د حيا لرونکى پاک لمني ښندونکى دوست سره کښينه که ته وايى يه، دى هم دغه وايي، که وايې هو، دى هم وايي هو."

احمد شاه بابا هم په ژوندون کي د اشرافو د خپلوۍ طرفدار دي، نه د ارذالو، ځکه چه له ارذالو ښخه وفا نه موندله کيږي:

"احمد شاهه" له ارذالو احتراز کړه
د وفا ثمر به مومې له اشراف

بل ځاى وايي:

که هر څو ښه له اغياره سره وشي
بيا د زړه سزا به ستا دغه کج بين که
له اغياره سره ښه د خپل زړه خار شي
چا چه وکړه پخپل ځان باند نفرين که

د عيش او نعمت په وخت کي هر څوک د يارۍ او خپلوۍ دعوه کوي، مګر ميړه هغه دى، چه خپلوى په زحمت او خوارى کي هم وپالي او د تنګې ملګرى وي، يو عرب اديب وايي:

دعوى الاخاء على الرخاء کثيرة　　بل فى الشدايد يعرف الاخوان

یعنی: ”په سواني او خوښي کي هر څوک د خپلوۍ دعوی کوي، مګر خپل هغه دي، چه خپلوي د ویر او شدت پر وخت هم وپالي.“

احمد شاه بابا پر دغه موضوع خواږه اشعار لري، او دغه د خپلوۍ معیار په دې ډول را ښیئي:

په خوله یار په زړه انکار وي دا سړی په جهان خوار شو
ده تنګسه، د مړو تله په تله د شي مقدار شو
”شاه احمده“ په تنګسه کي ګوره کوم یار وفا دار شو

یوه عرب ادیب زوی ته نصیحت کاوه، په دې ډول:

”والاخوان اثنان فمحافظ علیک عندالبلاء و مدیق لک فی ارخاء فا حفظ صدیق البلیة و تجنب صدیق العافیه فانه اعدی الاعداء:

اری الناس اخوان الرخاء وانما
اخوک الذی آخاک عند الشداید“ [۱]

یعنی: ”څپلوان یا د ویر دی یا د ښادۍ، د ویر خپلوان خپل وګڼه، او د ښادۍ خپل پریږده، ځکه چه دغه ستا غلیم دي.“

احمد شاه بابا دغه د اجتماعی ژوندون لازمه او اساسي مسئله په ښکاره ډول دغسی بیانوي:

چه د یار په در رضا کا له اخلاصه
په دنیا کي دغه هسي کار د مرد وي
یو د بل په درد او غم، چیري خبریږي
مګر هغه چه په درد ئې بیا همدرد وي

۱. د امام ابی سلیمان بستی العزله ص ٥٤.

یار هغه دئ چه په غم د یار شریک وي
چه په غم ئې غمجن نه، هغه نامرد وي
یار چه ښه وایي له یاره هغه یار دئ
کله یار وي چه له یاره ئې تبر وي
"احمد شاهه" بې پتی تنګ کړه یارانو
چه په پت د یارۍ سر ښندي اوس فرد وي

په دې ډول زموږ پلار، د خپلې زمانې د اخلاقي معیار له کښته والی شکایت کوي، او د میړانی لار په خپلوی کي موږ ته په ښه ډول را ښیئي چه له اخلاقي نقطهٔ نظره ډیره پخه او سمه لار ده.

رشتیا:

رشتیا د اخلاقو یو مهم ټوک دي، په پښتو کي هم رشتیا لمړنی مقام لري، د پښتنو شاعران تل د پښتنوالی دغه ټوک ښه ستائي، خوشحال خان وایی:

چه دروغ تر خوله وباسي کله خوله ده
چه رشتیا تر خوله وباسي خوله هغه ده

احمد شاه بابا هم د اخلاقو او پښتنوالی دغه لوی ټوک په داسي ډول ستایي:

په رښتني بازار تل قلبې کوټه ځي
سخ د هغو چه پدا بازار مخ سپین کا

رشتیا او سموالی د ټولو چارو د سموالي او بشپړوالي لار ده:

"احمد شاهه" چه څوک سم شو

هغه چار مونده تمام

## د بې وزلو لاس نیول:

رحم او شفقت، مهرباني او عطوفت د انسان د فطرت ښه او لوړ مظاهر دي، انسان د بل انسان په خوږ خوږيږي، او په وير ئې ويرجن کيږي، سعدی انسان د يوه بدن اعضاء ګڼي، نو ځکه وايي:

چو عضوی بدرد آورد روزګار

دیگر عضوها را نماند قرار

لکه سعدی چه پخپل شاعرانه منطق دغه زړه سوی او رحم د انسانیت ټوک بللی دي، حقیقتاً هم دغه خلق، په ژوندون کي ډير اهميت لري، تقريباً د اجتماعی تعاون او تساند روح دی! مسعود سلیمان غزنوی (۵۱۵ ه وفات) څنګه ښه ویلي دي:

روزیکه راحتی نرسد از من مر خلق راز عمر نه پندارم

ګر هیڅ آدمی را بد خواهم از مردی و مروت بیزارم

اخلاقیونو او شاعرانو د دغي ښيګړي تبليغ او تلقين په ډول ډول کړی دي، مګر په پښتنواله کي دغه خوی دومره اهميت لري، چه بې له ښندني او مرحمته، پښتون نسي پښتون کيدای، احمد شاه بابا هم د بې وزلو کومک ډير ښه بولي، بلکه د لوړتوب يو لوی جز ئې هم ګڼي، لکه چه وايي:

چه خدای لوی کړي "احمد شاهه"

تل د خوارو دستګيري کړه

نصیحت اروېدل

د ښيګړي دپاره د نصیحت اروېدنه لازمي ده، ځکه نو په دنیا کي د تبلیغ درجه ډېره لوړه ده ولی چه سموالی بې له وعظ اروېدو ممکن ندی، احمد شاه بابا دغه د اجتماعی اصلاح مهم اساس، او د پوهانو خوي داسي ښیئي:

هر دانا د بل نادان خبره پند کا
پر نادان به د دانا خبر وي ستوخه

# تصوف

د تصوف پر اصل او حقیقت چه علماؤ بحثونه کړی دي هغه اوږده دي، موږ دمخه د خوشحال خان د کلیات په مقدمه کي، د دوی د ابحاثو خلاصه لیکلې ده[1] دلته ئې لیکنه تکرار ده.

د احمد شاه بابا په کلام کي د تصوف رنګ غالب دي، او د ده د شعر لو برخه هم تصوف ګڼل کیږي!

په مشرقی شاعری کي، مخصوصاً بیا د مغولو تر اړودوړ وروسته د تصوف روح غالب شوی دي، او ځني شعراء که څه هم مسلکاً او عملاً د تصوف خاوندان نه وه، هم د تصوف په اصطلاحاتو کي نښتي، او له دغي دینا څخه ګډ شوی دي، مګر ځني ځني پاخه متوصوفین هم پکښي وه! د احمد شاه بابا د ژوندون سوانح چه موږ ګورو، د ده په عمل او کارونو کي خو د تصوف د انزوا، او ترک دنیا، منفی خوا نه وینو، نو له دغه جهته موږ

۱. وګوری د خوشحال خان د کلیات مقدمه ص ۵۱، ۵۲، ۵۳ د قندهار طبع.

دی تر دغه چه یو متصوف سړی ئې وبولو، ښه او حقیقت دغه دي چه متشرع ئې وګڼو، ځکه چه د ده د شریعت پروری قصې او حکایات تر اوسه په ملت کي پاته دي! مګر هیڅوک نسي ویلاي، چه دی نو لکه متصوفین، یو منزوی، او په ګوټ کي ناست او خلوت پسند سړی وو، بلکه د ده عمر تر خلوت په جلوت کي ډېر تیر سوی، او د تنازع للحیات پر میدان یو فاتح او بریالی عسکری قاید وو!

دلته زه ناچار یم، چه د احمد شاه بابا د تصوف د تحقیق په خوا کي خبره لږ څه سره وشنم، که د علماء او محقیقینو و پلټنو ته رجوع وکړو، نو به دا ښکاره شي چه د اسلام په خیر القرون او لمړی صدی کي، تصوف په دغه اوسنی نوم او مفهوم نه وه، لمړي سړی چه د صوفی په نوم بلل شوی دي، ابو هاشم صوفی دي، چه په ۱۵۰ هـ کال وفات شوی دي.[۱]

ځنی علماء و دې ته تللی دي، چه د نبوت په عصر کي دغه مسلک د احسان په نوم یاد شوی دي، لکه په صحیح بخاری باب الایمان کي چه د ایمان سره احسان راغلي دي، د حدیث په اصطلاح احسان دغه تصوف دي.[۲]

په حقیقت کي تصوف دوه ډوله لری، چه یو "منفی تصوف" دي یعنی دنیا پریښول، او د علائقو شلول، بل "مثبت تصوف" چه له سلوک او زیار او د نفس له تربیته، او میني او پوهنی او عبادت او د خلقو خدمت او جهاد څخه جوړ شوی دي.

۱. کشف الظنون ج ۱ ص ۲۹۰، د جامی نفحات الانس ص ۳۲.
۲. د حضرت شاه ولی الله صاحب دهلوی حجة الله البالغه.

په لمړی ډول کي د هند د فلسفې اثر ډیر دي، اما پر دوهم ډول د شریعت او اسلام مقدس رنګ غالب دي، چه هغه لمړی ډول ته علماؤ فلسفی تصوف او دوهم ډول ته اسلامی او شرعی تصوف ویلی دي.

ځکه چه په تصوف ډیر د فلسفې مسایل ګډ شوي دي، نو له دغه جهته دا هم ویل شوي دي، چه دغه کلمه له یونانی کلمې (سوف) څخه معربه شوې ده، یعني حکمت سوفیه یعني حکماء[1] مګر محققین وایي چه دغه د فلسفې غلبه پر لمړی ډول تصوف وه، علامه حاجی خلیفه په دغه باب کي لیکلي دي: "و اعلم ان الاشراقیین من الحکماء الالهیین کالصو فین فی المشرب و الا صطلاح خصوصاً المتأخرین منهم..." [2]

په دې ډول نوی مستشرقین او پوهان لکه فان کریمر ږوزی، د هند فلسفه، او نکلسن د نو فلاطونیت فلسفه، په تصوف ګډه بولي. [3]

نو که د حضرت شاه ولی الله صاحب محدث (رح) پر قول سم موږ دا ومنو چه په عهد نبوی (ص) کي تصوف د احسان په نوم موجود وه، ځکه چه په هغه عهد کي هیڅ د فلسفې او د هندی او یونانی افکارو اثر نه وو، او نه اصحاب کرام (رض) او خلفاء عظام په خلوت کي کښېنسته، بلکه د دوی لوی کار د اسلام تبلیغ او جهاد وو، او له رهبانیته منع شوي وه.[4]

له دغي مقدمې څخه دغه نتیجه را وزی، چه د اسلام لمړنی تصوف د احسان په نوم فقط د خالق عبادت، او د مخلوق خدمت، او هدایت او جهاد

---

۱. د علامه ابو ریحان بیرونی متوفی ٤٤٠ھ کتاب الهند د لیډن طبع.
۲. کشف الظنون، ج ۱ ص ۲۹۰.
۳. د علامه اقبال فلسفه عجم ص ۹۵، د حیدر آباد طبع.
٤. لارهبانیة فی الاسلام (الحدیث).

وو، مګر وروسته ځني منفي خيالات د هند له خوا، او ځني افکار د يونان له فلسفې څخه په را ګډ سوه، چه د تصوفو رنګ ئې ور اليش کي، دغه تصوف نو "فلسفی تصوف" بلل کیږی، د دغه خبری تصديق موږ د حضرت خواجه عطار (رح) له ويناوو څخه کوو چه ليکي: "تا بعد ازان طريقت (تصوف) به فلسفه کشيد، چنانکه معلوم هست." [1]

اوس به نو له دغو تفصيلاته څخه تاسي ته ښکاره شوې وي، چه د تصوف منفي خوا چه د هند او يونان د فلسفې افکار په ګډ دي، له اصلی اسلامی تصوف څخه بيله ده، ځکه چه اسلامی تصوف، عين د شريعت پابندی او د اخلاق نبوی (ص) او د سنتو تعقيب دي، چه هلته رهبانيت نه سته، او زيار او جهاد فی سبيل الله، او د اسلام تبليغ او د خلقو هدايت ئې اساس دي! نو په دغه معنی موږ د متصوف او متشرع فرق نسو کولاي، او دغه دوه صفته سره لازم او ملزوم دي!

په دې نژدې درو پيړيو کي (درې سوه کاله) حضرت شيخ احمد فاروق کابلی[2] مجدد الف ثانی (رح) د تصوف لوی مصلح او مجدد دي، ځکه چه د حضرت شيخ عطار (رح) په قول ډير نوی فلسفی او هندی افکار په تصوفو ګډ شوي وه، حضرت مجدد (رح) او د ده ملګرو او شاګردانو دغه پردي افکار چه نوی نوی راغلي وه وايستل، او هغه د صدر اول پر اساس يې بنا کړه، ځکه نو دئ مجدد بلل کيږي، او د ده له مکتوباتو او نورو کتابونو څخه دغه تحقيق ښه ښکاره دي. د احمد شاه بابا تصوف هم د حضرت

١. تذکرة الاولياء د خواجه عطار ص ٢٠٧ دوهم توک.
٢. تولد ٩٧١هـ وفات ١٠٣٤هـ مدفن سرهند.

مجدد له کتابو نه اقتباس شوي، او دی یو متشرع سړی وو، چه له علماو سره ئې تل مجلسونه او ګډون درلود، او پخپله ئې هم له علومو څخه برخه درلوده!

احمد شاه بابا و حضرت شاه فقیر الله صاحب جلال آبادی ثم الشکار پوری ته پوره ارادت درلود، میا صاحب د خپل وخت یو مشهور متشرع عالم، او د دین مشر وو، چه په شکارپور کې میشته وو، د احمد شاه بابا او شاه صاحب رابطه او مکاتبات او مفاوضات تل جاری وه، له مکتوباتو څخه ئې دغه ټینګه رابطه ښکاره کیږي چه په لاهور کې چاپ شوي دي!

میان فقیر الله صاحب پخپل وخت کې لوی مرشد او مرجع د مسلماناو وو، په هندوستان او افغانستان کې ئې د فضل او علم او تقوا ږغ تللی وو، هر ځاي ئې ارادتمندان درلوده، احمد شاه بابا هم د دغه عالم په فیض اخیستونکو مخلصینو کې وو، لکه چه میان صاحب د احمد شاه بابا تر وفات وروسته په یوه مکتوب کې و سلیمان شاه د ده جانشین ته داسی لیکي:

"نظر برابطه انسانیه، علی الخصوص حسب رابطه قویه که فیما بین جناب شاه غفران پناه و این درویش صورت یاب ګردیده بود..." [1]

په دې ډول د احمد شاه بابا عالمانه روابط د دغه مشهور او جید عالم سره ټینګ وه، دغه زموږ د وطن نامتو مرشد او عالم په څلور وسیلې په طریقت کې و حضرت مجدد (رح) ته رسیږي، چه د ده تصوف هم له دغه منبعه ماخوذ دی، نو ځکه د تحقیق او تجدید جنبه لری، او احمد شاه بابا هم د ده یو محقق او متشرع ارادتمند ګڼل کیږي، چه اسلامی مثبت تصوف

۱. د میان فقیر الله صاحب مکتوبات ص ۲۶۹ د لاهور طبع.

ئې له دغه لويه عالمه کسب کړي، او د اسلامی شريعت يو زيار کښونکی او مجاهد پير وو!

مثلاً شاه صاحب په يوه عربی مکتوب کي، چه احمد شاه بابا ته ئې را استولی دي، د جهاد تشويق کوی، او د اسلام د حقيقی اوامرو ښوونه او فتوا ور کوي.[1]

اوس به نو تاسی ته ښکاره شوې وي، چه زموږ د احمد شاه بابا عرفانی افکار پر کوم محور گرزی؟ او له کمه ځايه ئې استفاده کړې ده؟ او د تحقيق په کومه درجه کي وو؟

اوس چه موږ د احمد شاه بابا پر عارفانه افکارو لږ څه رڼا واچوله، او د دغه حقيقت مو څه نه څه څرگند کي، د دې دپاره چه زموږ ښاغلی ويونکي د بيان له اوږوالي څخه زهير نسي، نو به لنډ لنډ د ده ځني عرفانی افکار لاندي وليکو، هغه څوک چه شايق وي، پخپله به دغسي ډير خواږه بحثونه د ده په کلام کي ومومي، ځکه نو موږ له تفصيل څخه صرف نظر کوو.

## د امانت درووند بار

دا هغه درووند وری دي، چه په "انا عرضنا الامانة على السمواة و الارض و الجبال فابين ان يحملنهاو اشفقن منها فحملها الانسان"[2] کي ئې قرآن عظيم ذکر کړی دي، د انسانيت عام مسئوليت او د خلافت الهی د مقام اهميت خورا درووند او ډير دي حافظ وايي:

---

۱. د ميان فقير الله صاحب مکتوبات ص ۲۷۱ د لاهور طبع.
۲. سوره احزاب ۲۲-۹.

اسمان بار امانت نتوانست کشید

قرعۀ فال بنام من دیوانه زدند

احمد شاه بابا د انسان دغه دروند د مسئولیت بار، په داسي ډول ښيي:

څه ضعیف تن یې "احمده"

حیران ستا و درانه بار ته

بل ځای د دغه درانه ورى په اخیستولو پورى سخت حیران دي:

څه دروند بار د امانت دي

زه به څه پرې "احمد شاه" کړم

(دا په زړه کي ولرى، چه د اسلام ځنو مفسرینو د امانت تفسیر په سلطنت هم کړى دي، نو که په دوهم بیت کي احمد شاه بابا، د دغه لوى اجتماعي مسئولیت ذکر کړى وي، لیرى نه ده.)

## د انسان اصل

انسان فقط له مادې او د مادې له مظاهرو څخه مرکب نه دي، یو روحانى مقام هم لري، چه احمد شاه بابا ئې داسى ستایي:

دا ځما د صورت خټه په څلور عنصره پټه

که څلور عنصره واخلې پخپل خیر ده دا کټ مټه

کله کله متصوفین دغه روحانى مقام وطن بولى او په یاد ئې ژاړي، احمد شاه بابا د دغه معنوى مقام یاد داسي کوي:

اروا طوطى دى وطن به مومي

بیا که دى مات د نفس قفس کړم

نه پوهیږم زړه ځما د کوم وطن وو
د یار مینې بیګانه له خپله کور کړم
چه د روح په روڼا ورک سوم
ځکه ما لیدلی یار و
احمد اوس که یک تنها شوې
ستا وطن د یار کنار و

## احسن تقویم

دا هغه مسئله ده چه په (ان الله خلق آدم علی صورته) کې څرګنده شوې ده، احمد شاه بابا وایی:

پخپل خم دي "احمد" رنګ کړ
ځکه سو هسي مشهوره

یا:

څه عجب دي د خپل حسن په خم رنګ کړ
په عالم دي ښکاره کړی دا خمیان

ستا

## کاته او نظر

صوفیه دنیا او ماده د قدرت مظاهر ګڼي، نو هر کله له مظهره د مظهر قدرت ویني، دا تدقیق او نظر د عرفان اساس دي:

چشمی داری و عالم در نظر است
دیگر چه معلم و کتابت باید

خوشحال خان خټک ویلي دي:

که دي سترګي د عرفان شته مبارک شه
د ګلزار په ننداره چه استقلال کړې

احمد شاه بابا هم دغه تدقیق او نظر لري لکه چه وایي:

زه چه تل نظر دا هسي لور پر لور کړم
په هر لوري د خپل زړه صیقل بیا نور کړم

## مثبت تصوف

لکه دمخه چه مو وویل، احمد شاه بابا د تصوف مثبته خوا درلوده، یعني د ده تصوف "فلسفی تصوف" نه وه، چه د دنیا ترک او رهبانیت پکښي اخښلی دي، بلکه د ده تصوف شرعی او اسلامی وه، چه د جهاد روح، او د تقوا او خدمت خلق خوا ئې غالبه وه، لکه چه پخپله د فنا او بقا په خواو کي د اعتدال لار نیسي، او بقا د فنا کمال بولي:

دا د سر کاسه پرې مکړه د فنا کمال بقا ده

## ایمان او یقین

په ماوراء الطبیعه ابحاثو کي عقلیون او فلاسفه تل پر عقل تکیه کوي، مګر عقل هم حقائق کماهی نسیي پیژندلاي، فلاسفه که څه هم په دغه لار کي ډېر زیار کاږي، مګر دغه زیار تر ځایه نرسیږي، او په پای کي وایي: "معلوم شد که هیچ معلوم نشد" (فخر رازی). سقراط د یونان مشهور فیلسوف په دغه فخر کاوه "چه پخپله ناپوهي پوهیدلی وو" سپنسر د انګلستان نامتو عالم به ویل "چه په هیڅ نه پوهیږو" احمد شاه بابا یوه ورځ چه د پسرلی ګلونه غوړیدلي، او جهان ئې ښکلی کړي وو په دقیق نظر دغه

ننداره کتله مګر عقل ئې هیڅ په فلسفه د دغه ښکلی جهان پوه نشو، له ځانه سره ئې وویل:

"احمد" شپه و ورځ ثنا کړه    عقل څه رسي په کار؟

د پسرلی په پای کې ګلان رژیږي، پر ګلستان د فلاکت او ادبار خاوري اوري، احمد شاه بابا دغه د حیرت مقام داسي ښیئي:

په قدرت دی ګل کړ جوړ    بیا په لږ عمر کې زوړ
چه چمن په ښایسته و    اوس ئې باد وړي لکه پروړ

تر دغه وروسته په حیرت کې ډوبیږي نو وایي:

"احمد شاه" فکرونه پریږده    بخره مومه له حیرته

په دې ډول احمد شاه بابا یوازی عقل د عرفان او پیژندګلوۍ په لار کې کافی نه بولي، ځکه چه د عقل د سیر پای حیرت دي، نو دئ پخپل کلام کې هر کله د ایمان او یقین تلقین کوي، او دغه لار تر مجرد عقلیت غوره کوي، لکه چه وایي:

په یقین به خپل یار مومې    نفس نومید کړې لکه شنډه
معرفت څراغ بل کړي    یقین و. باسه له ځنډه
"احمد شاه" که یار غواړې    لیري کړه د ګمان پلنډه

بل ځای وایی:

د یقین په لاره درومي په ګمان ولي دریږي
د ګمان صورت که واخلي ته دریاب په موج بهیږي
شک فاني یقین باقي کړه په باقي به هوسیږي
دغه خپل یار به ووینې د یقین پر لوړ که خیژي

یا:

د "احمد" د یار تر منځ د ګمان غرونه
که یار غواړې د یقین پر لاري پښې ږده

په دغه خوا کي د اوسنۍ زماني مشهور فیلسوف علامه اقبال هم زموږ د احمد شاه بابا ټینګ ملګری دي لکه چه وایی:

حیات جاودان اندر یقین است
ره تخمین و ظن ګیری، بمیری

بل ځای وایی:

خرد بیگانۀ ذوق یقین است
قمار علم حکمت بد نشین است
دو صد بو حامد و رازی نیرزد
به نادانی که چشمش راه بین است
مقام شوق بی صدق و یقین نیست
یقین بی صحبت روح الامین نیست
گر از صدق و یقین داری نصیبی
قدم بیباک نه، کس در کمین نیست[1]

---

۱. د علامه اقبال ارمغان حجاز د لاهور طبع.

## د جهان تطورات

احمد شاه بابا د دنیا نقشه په فلسفی نظر داسي کاږيي:

کله سرناوی بیا ډماميې وی
کله ژړا وی، څه غرغړ وی!
دا جهان طور طور ښکاريږي
څوک په سر تور وی، د چا بګړې وی

## علم، او د علم تشويق

د انسان د سعادت لار علم دي، هيڅ سړی او ملت پر دنیا بې له علمه لار نسي پیدا کولای!

د احمد شاه بابا له سوانخو او ويناوو څخه ښکاريږي، چه ده په دینی علومو او تصوف او فلسفه کي معلومات درلوده، په عربی ژبه هم پوهيدي، په پارسی او پښتو کي ئې شعر هم ویلای سوای.

په عربی ژبه چه په هغه عصر کي د مشرق د علم منبع وه تر دې حده عالم وو، چه ليک او لوست ئې هم په کولای سو. مرحوم شاه فقير الله صاحب د ښکارپور و ده ته عربی مکتوبونه هم ليکلي دي[1] علاوه پر دغه احمد شاه بابا په عربی ژبه ځني کلمات لري، چه محمد غوث ابن ترکمان

۱. د میان فقير الله صاحب جلال آبادی مکتوبات ص ۲۷۱ د لاهور طبع.

ابن تاج خان په هندوستان کي په پارسی ژبه شرح پر لیکلې ده، چه شرح الشرح نومیږي ۳۰۰ مخه ده!

احمد شاه بابا خپل ګران ملت ته پخپله وینا کي د علم ډیر تشویق او ترغیب فرمائي، نن ورځ ښایي چه پښتانه د خپل پلار دغه نصایح په ښی غوږ واروي، او په دغه قرن کي چه بې له علمه ژوندون ممکن نه دي، عملی ئې کي، او د علم زدکړي ته خورا توجه وکي، دی وایي:

څو ډیوې د علم دي همیش بلی
د غفلت په تیاره څو ګرزې عجوزه
دا یقین، علم له ځانه سره مله کړه
د همت په وزر الوزه الوزه

بل ځای د علم فوائد او ګټي داسي ښیئې:

له څلورو خوا به در درته ځلیږی
که د علم روڼ څراغ ته درته بل کړې
روح له علمه روڼا اخلي، هله زده کړه
"احمد شاهه" چه بد خوی په ښه بدل کړې

بل ځای په داسي ډول و علم ته ترغیب فرمائي:

علم ګوره څه څرګنده لوی دریاب دی
بیا هم دي را بهیدلی په څو باب دی
دا د علم دریاب هر چیري محیط دی
علم زده کړه چه د علم لوړ جناب دی

په دغو بيتو کي احمد شاه بابا د علم شعب او اقسام ښيي، او د علم احاطه ښکاره کوي، وروسته نو و زده کړې ته زموږ تشويق فرمائی!

## بديعی صنايع

د احمد شاه بابا په کلام کي شعری صنائع او بديعی مزايا هم سته، چه د ده پر ادبی مهارت باندي دلالت کوي، پخبله به محترم لوستونکی دغه بديعي صنائع د ده په کلام کي ومومی دلته موږ فقط يو اشاره ورته کوو:

د طباق په صنعت کي وايی:

زړه مي تورو زلفو بند کړ   اوس ارمان د سپين رخسار کړم
زه بيده وم خبر نه وم   د بلبل نارو بيدار کړم

تجنيس تام په دې بيت کي دی:

ستا پر مخ ګوره اور بل دي   ځکه اوربل په کوګل دي

(و قس علی هذا)

## د عشق او ميني دنيا

د مشرق په شاعری کي د عشق مضامين او واردات اکثريت لري، تقريباً شعر د عشق دپاره مخصوص شوي دي، خاص بيا په پارسی شعر کي عاشقانه مضامين دومره ډير دي، چه پای نه لري!

احمد شاه بابا چه هم د عشق او د ميني په دنيا کي پل کښيږدي نو پاخه ويل لری، او هر قدم ئې استادانه دي!

احمد شاه بابا د عشق په دنیا کي تر خپل ټوله شاهانه سطوت او جلال تیریږي، او لکه حضرت جامی چه وایي:

بندهٔ عشق شدی ترک نسب کن جامی
کاندرین راه فلان ابن فلان چیزی نیست

دئ هم د عشق دنیا د سر د بایللو ځای بولي، چه ګټنه ئې په سربازی اړه لري، نه په شاهی او نسب:

دا د عشق بازار د سر دي ځما جانه
ګوره ندی دا بازار بیا په نسب

یا دا:

که بادشاه د درست جهان یم غلام ستا ماه تابان یم

یا دا:

چه د میني شاهی مومم بادشاهی به څه کومه؟

د عشق په دنیا کي مین هر څه د محبوب په قدمو کي خونی کوي، او تر هر څه تیریږي، حافظ پخپل تش تخیل، سمرقند او بخارا ور بخښی، حال دا چه دئ د شیراز یو خوار سړی وو:

به خال هندویش بخشم سمرقند و بخارا را

د احمد شاه بابا چه عاشقانه جذبات پر غورځنګ راسي، هم تر خپل سر او شاهی تیر دي، ځکه چه دئ حقیقتاً هم دغه اقتدار لری نو د ده دغه ایثار محض شاعرانه تخیل نه بلکه و حقیقت ته نژدې دي:

دواړه جار شه تر دلبر		هم مي سر هم مي کشور
که د یار په عشق سر کښیږدي		"احمد" هاله کا اختر

بل ځای وایی:

که شاهی ده که مي سر		ټول به جار کړم تر دلبر
توري خاوری ستا دور		دي توتیا ځما د بصر

د مین ځان د جانان دپاره خوښ وي، او دنیا ته د میني په سترګه ګوري، سعدی وایي:

عاشقم بر همه عالم که همه عالم ازوست

عبدالقادر خان خټک دغه مضمون داسي ادا کړي دي:

زه چه هسي پخپل ځان باندي مین یم
د جانان دی په جانان باندي مین یم

احمد شاه بابا د عشق پر دغه مهم مقام داسي راځي:

زه "احمد" بادشاه په داله خپله ځانه په ځان خوښ یم
چه مین تر خپله ځانه زه یم ستا د مخ پر ګل یم

پر ده خپل زړه له دغه جهته ګران دي، چه زړه د میني کور دي، او تر ځان پر مین شیدا دي:

زه "احمد" پدا له خپله زړګی خوښ یم
چه تر ځان مین پر تا باندي اول وو

احمد شاه بابا که څه هم بادشاه دي، د شوکت او سطوت خاوند دي، مګر د عشق په دنیا کي لکه چه وویل شوه، ډیر عاجز دي، دی پخپل کلام کي تل خپله عاجزی ښکاره کوي، او محبوب ته د عجز له خوا حسن طلب

کوي، حسن طلب د شاعرۍ کمال دي، وګوري په دې لاندی بیتو کې، دی یو وار خپله د شاهۍ لوړتیا او اقتدار بیانوي، بیا نو خپل عجز د عشق په دربار کې څنګه تصویر کوي؟

وایی محبوبی! زه خو د یو څو ورځو میلمه او آخر تلونکي یم، نو ولی زما سره مینه او مرحمت نه کوې؟

| | |
|---|---|
| که بادشاه د درست جهان یم | غلام ستا ماه تابان یم |
| په صورت کې سلامت یم | له خوږ دله خون افشان یم |
| یو څو ورځی مي رضا کړه | جانه څو ورځی مهمان یم |
| که هر څو په بهار دروم | آخر پاڼې د خزان یم |

بې له جانانه د مین په سترګو کې ټوله دنیا تیاره ده، ګل داسي ورته ایسي لکه اغزی، او پسرلی لکه مني، مثلاً:

بی تو ام گل بدیده چون خار است
مژه در چشم من چو سوفار است

پسرلی سي، ګلان وغوړیږي، هری خوا ته د خندا ډکې د غوټیو خولې مسیږي، مګر د مین پسرلی خو د جانان راتګ دي و بس.

بهار این چمن بی مقدمت ما را چه کار آید
تو گر آئی چمن آید، بهشت آید، بهار آید

احمد شاه بابا په دغه موقع کې وایی:

بې له یاره مي بهار د سترګو اور دي
که هر څو د غمجن غم ورک مرغزار کا

د بیلتون په دنیا کي مین هر کله غواړی ، چه خپل دوست ته احوال واستوي، یا قاصد ور ولیږی!

مګر د عشق او میني دنیا یوه داسي له نزاکته ډکه او له سوزه مرکبه دنیا ده، چه د قاصد وظائف هیڅوک نسی پکښي ادا کولاي، نو مین بیچاره هر کله د قاصد په تلاښ کي وي، چه خپل د زړه درد او سوی، د محبوب حضور ته وړاندی کړي، مګر څوک د دغه سوی او بیلتون په دنیا کي دغه وظائف ایفا کولای سي؟ یو ادیب وایی:

اشک را قاصد کویش کنم! ای ناله بمان
زانکه صد بار برفتی اثری نیست ترا

بل عاشق دنیا ټوله پخپلو اوښکو طوفانیویني، نو قاصد داسي پلټي:

بعد ازین نامهٔ خود بر پر ماهی بندم
که ره عشق تو پر آب شد از دیدهٔ من

د صائب له ډیره عشقه و قاصد ته احتیاج نه پیښیږي:

هر سطر کار شهپر جبریل میکند
این نامه را ببال کبوتر چه حاجت است

جهانګیر د هندوستان پاچا، په دې ډول مکتوب معشوق ته استوی:

ما نامه ببرگ گل نوشتیم شاید که صبا باو رساند

اختر هروی، پروانه د یار حضور ته قاسد کوي:

عاقبت مکتوب ما را سوی او پروانه برد
طاقت سوز دلم بال و پر دیگر نداشت

بل ادیب څه ښه وایی:

شب که در دل رقم نامۀ دلبر میشد
دیده هر قطره که میریخت کبوتر میشد

په دې ډول شاعرانو په دغه زمينه کې مضمون آفرينۍ کړې دي، يو پښتون پونده چه د پسرلی په شپه، و سپينی سپوږمۍ ته د جګو غرو په لمنو کې د بيلتون په درد او سوی کې ګرزي، نو بل قاصد د محبوبا و کړدۍ ته نه مومي، څو چه سپوږمۍ ته خطاب کوي:

ارمان ارمان سپينی سپوږميه
سلام مې ورووړه د همزولو تر کږديه

احمد شاه بابا د عشق او مينې په دنيا کې د شاهانه اقتداره سره هم يو داسې صحيح قاصد نه مومي، چه د محبوبا حضور ته ئې وليږي او نه پخپله ور رسيږي، نو خپل زړه له ټتره باسي، په بيدلانه ډول ئې د خپله پيغامه سره ورليږي او وايي:

که مې لاس و پښې و تا ته نه رسيږی
دغه خپل زړه به مرغه کړم ستا پر لوري

# د احمد شاهی مملکت علماء

## (او د اعلیحضرت علمي او ادبي معاصرین)

لکه دمخه  چه مو د علم په بحث کي وویل احمد شاه بابا پخپله یو د علم او عمل خاوند ټولواک وو، دئ عالم وو، ادیب وو، متقی وو، متشرع وو، او د علم روزونکی هم وو، د ده په عصر په افغانستان او مفتوحه مملکتو کي ئې ډیر علماء موجود وه، ادباء وه، چه د ده د علم او ادب پرورۍ په سیوری کي ئې په فراغ ژوندون کاوه، احمد شاه په علم دوستی کي د غزنی شهنشاه محمود زابلی سره سیالی کوي. د احمد شاه بابا ملی احساست خورا قوی وه، خاص ئې پښتو ژبی ته ډیره توجه او ښه نظر درلود، پخپله ئې دې ملی ژبي ته ډیر ښه خدمت کړی او یو ښه دیوان ئې د دې ژبی د ادب په دنیا کي یادګار پرې ایښی دي، علاوه پر دغه احمد شاه بابا د علماوو سره مینه درلوده، مجالس ئې له علماوو څخه تش نه وه، د ده ټینګه رابطه له شاه فقیر الله صاحب جلال آبادی سره موږ دمخه هم ذکر کړه، دغه د ده د علم پرورښت ښه سند دي.

احمد شاه بابا قندهار ته له هري خوا ځني علمی رجال او جید علماء راوستل، لکه د فن او صنعت خاوندان چه ئې له هنده را جلب کړه، ځني پښتانه علماء ئې هم سره را ټول کړه، د قندهار ځیني علمی کورنۍ چه تر اوسه سته، د ده په علم دوستی تأسیس شوی دي، له لاندي لیکو څخه به

تاسي ته دغه موضوع ښه روښه شي، او زه به د ده د عصر د افغانستان او مفتوحو مځکو ځني علمی رجال او ادباء لاندي مختصراً ذکر کړم:

۱. ملا پیر محمد کاکړ:

ملا پیر محمد کاکړ د پښتو یو لوی او مقتدر ادیب دي، چه د قندهار په خوا کي ساری نه لري، دئ د احمد شاه بابا په عصر په قندهار کي وو، او د احمد شاه بابا د کورنۍ استاد وو، ملا پیر محمد په پښتو ژبه کي مهارت درلود، او د اعلیحضرت په پښتو خواهي ئې دغی ژبی ته لمړی ځني قواعد ترتیب کړی دي.

پیر محمد د اعلیحضرت احمد شاه بابا د زوی شاه سلیمان استاد وو، چه احمد شاه بابا وفات شو، او د ده پر ځای لمړی سلیمان پاچا شو، نو ملا پیر محمد د پښتو ژبي یو کوچنی ګرامر او قاعده په پښتو ولیکله، او دغه د پښتو ژبي لمړۍ قاعده ئې د شاه سلیمان په نامه اهداء کړه، د دې کتاب په سر کي وایی:

| | |
|---|---|
| پسله حمده له درووده | سوه د شاه مدحه مقصوده |
| شاه سلیمان د حکم لمر دي | کل عالم پرې منور دي |
| د شاه تخت سلیماني دي | عجب لطف یزداني دي |

په دې ډول پیر محمد کاکړ د پښتو ژبی لمړی ګرامر لیکونکی دي، ملا پیر محمد اخوند زبردست شاعر او ادیب دي، یو کلیات د اشعارو لري، چه تر پنځه زره بیته پوري رسیږي، غزل، رباعی، مخمس، ترجیح، مسدس، معشر، مربع اشعار لري، ده د خپل کلام کلیات لس کاله د احمد شاه بابا تر وفات وروسته په ۱۱۹۲ هـ کال لیکلی دي لکه چه وایي:

زر سل شپږ نوي کلونه　　　د هجرت تیر شوي وونه
ما انشاء د عشق دیوان کړ　　　په پښتو مي ښه بیان کړ
په دې طمعه چه یادګار شي　　　بیا منشور په هر دیار شي

د پیر محمد له وینا ښکاره ده، چه دی یو زبردست عالم وو، کلام ئې په پښتو کي ډیر متین دي، په لمړۍ درجه شاعرانو کي ګڼل کیږي، اخلاقی، عشقی، عرفانی، متصوفانه اشعار لري، د ده دیوان قلمی لږ لږ سته، یو نسخه په ۱۲۰۳ هـ کال ابراهیم خان کاکړ د ده شاګرد لیکلې ده.

پیر محمد تر ۱۱۹۲هـ پوری لا ژوندی وو، تر دغه کال وروسته د سپین ږیرتوب او زوړتیا پر وخت[۱] په قندهار کي وفات شوی، او د شاه د ولې پر غاړه نژدې و حضرتجی ته مدفون دي، د قندهار شمال شرقي خوا ته، د پیر محمد دیوان د مستشرقینو لاس ته هم ورغلی دي. پادری هیوز په کلید افغانی کي د ده ځني اشعار اقتباس کړي دي[۲] د پیر محمد د پښتو شعر استادی، د پښتو ادباء ټوله مني، مثلاً میرزا حنان قندهاری د پښتو شاعر وایی:

د اخوند ملا پیر محمد نظم که واورې
هر ګفتار ئې دي په مثل د بلبل

شمس الدین کاکړ د پښتو بل مشهور ادیب وایي:

---

۱. ښه موسم د شباب تیر پر پیر محمد سو　　　بوالهوس هنوز هوا د ګل و مل کا
۲. وګوری کلید افغانی د لاهور طبع ۱۸۹۲ع.

پیر محمد کاکړ په شعر کي نامدار وو
یووړ قبر لره ده ارمان د شعر [1]

۲. ملا شیر محمد اخوند هوتک:

د قندهار له مشهور علماء څخه دي، تولد ئې په قندهار کي په ۱۰۹۲هـ کال شوی، او علمی تحصیلات ئې په هرات او ایران کي کړی دي، په دینی علومو او منطق کي ښه لاس لري، د ده یو تألیف منظوم (اسرار العارفین) چه درې رکنه ئې په پښتو چاپ شوي او څلورم رکن ئې غیر مطبوع دي. ملا صاحب د احمد شاه بابا په عصر په قندهار کي وو، او علمی شهرت ئې درلود. عمر ئې ۸۳ کاله وو په ۱۱۷۵هـ په قندهار کي وفات، او د ښار مغربی خوا ته د ملا شاهو په تکیه کي ښخ دي، د ده اشعار اخلاقی او عرفانی او موعظه دی.[2]

۳. عبدالرحیم هوتک:

په قوم هوتک او د کلات د ښه بولان وو، د هوتکو په عصر د قندهار په زاړه ښار کي هستیدي او دلې زوکړی وو، وروسته چه نادر افشار قندهار فتح کړ (۱۱٤٥هـ) نو دئ د هوتکو په ډلي کي د لسو کالو په سن ایران و نشاپور او تهران ته فرار سو، وروسته نو بخارا او سمرقند او تورکستان ته ولاړ، عبدالرحیم د پښتو یو زبردست شاعر او د دیوان خاوند دي، چه تر شپږ زره بیته پوری لري. ده ٥۰ کاله په تورکستان کي د وطنه لیري تیر کړي، او تر

۱. وګوری د پښتو شعر تاریخچه په طلوع افغان کي ۱۳ کال.
۲. د قندهار علماء طلوع افغان ۱۱ کال ۲ شماره .

۷۰ کاله پوری لا هورې ژوندی وو.[۱] عبدالرحیم زبردست عالم وو، په تفسیر، فقه، صرف نحو، فلسفه، منطق کي ئې ښه مهارت درلود، عمرونه ئې د ایران او بخارا په مدرسو کي تیر کړي وه، او د احمد شاه بابا معاصر وو.

عبدالرحیم پسله ۷۰ کالو عمر له وطنه په غربت کي وفات شوی دي![۲]

٤. اعلیحضرت تیمور شاه:

اعلیحضرت تیمور شاه د احمد شاه بابا مشر زوی وو، پاچهی ئې له ۱۱۸٦ څخه تر ۱۲۰۷ پوري کړې ده، تیمور شاه لکه خپل پلار یو ادیب او علمدوست پاچا وو، په پارسی ژبه یو مهم د شعر دیوان لري، په پښتو کي د شعر طبع لري.[۳]

٥. ملا حسن اسحق زی:

ملا حسن اخوند د تلوکان د کلی دي، چه ۲۲ میل د قندهار مغربی خوا ته واقع دي، د خپل عصر مشهور عالم او جید متقی سړی وو، دئ یو پارسی دیوان لري چه په ۱۲۰۱هـ ئې تکمیل کړی دي. په پښتو کي ئې اشعار ډیر لوړ او سوزان دي، پر ٦٨ کال د عمر په ۱۲٤٥ کي وفات شوی په تلوکان کي ښخ دي.[٤]

---

۱. تر اویا کالو راغلم که باور کړې سره سوځم نشوم خلاص د عشق له اوره

۲. د عبدالرحیم پر سوانحو او شعر موږ مفصله تبصره د طلوع افغان د ۱۱ کال په شماره کي لیکلې ده، شائقین دي هغه وګوري.

۳. د کابل په مجله ۷، ۸ ګڼه کي د ۳ کال ما د دغه پاچا پر شاعری مفصله تبصره لیکلې ده.

٤. د قندهار علماء طلوع افغان ۱۱ کال ۱۰ ګڼه.

٦. میان نور محمد داوی:

د پوټی په میان مشهور او د احمد شاه بابا د عصر له مشهورو علماو او متقیانو څخه دي، د اخوند کلی د قندهار مشرقی خوا ته د ترنک پر غاړه د ده په نوم مشهور او هورې ښخ دي!

دئ د مشهور میان عبدالحکیم صاحب کاکړ مرید وو، او په زهد او عرفان کي ډېر مشهور دي.

٧. ملا صالح محمد داوی:

د میان نور محمد شاګرد او مرید دي، د خپل وخت ښه عالم وو، یو پښتو او پارسی دیوان لري، د پښتو په اوسطو ادیبانو کي ګڼل کیږي.[١]

٨. رحمت داوی:

رحمت په قوم داوی د احمد شاه بابا په عصر کي د قندهار اوسیدونکي وو، دئ د شاه زمان تر پاچهی پوري لا ژوندی وو، هغه وخت چه سردار عبدالله خان د کشمیر نائب الحکومه وو، رحمت په کشمیر کي وو، ده د دغه سردار او شاه زمان په نوم پښتو لیلی او مجنون لیکلی دي، په مقدمه کي ئې وایي:

غمو ملک را باندي تنګ کړ — زړه مي څکه دا آهنګ کړ
چه پښتو لیلي مجنون کړم — ښائي غم له زړه بیرون کړم
په پارسی هر چا ویلې — پښتو نه ده چا لیدېې
څکه زه په پښتو ژبه — دا قصه کړم عجائبه
سلطنت د شاه زمان دي — دی خاقان ابن الخاقان دي

١. د پښتو شعر تاریخچه په طلوع افغان کي ١٣ کال.

سرداری د عبدالله ده — خلقه واړه آګاهر ده
د کشمیر ملک ئې روښان کړ — ورک ئې ظلم د جهان کړ

زه بندي په کوهستان وم — د کشمیر په ډیر ارمان وم
نه کاغذ نه مي قلم وو — روز ګارځما هسی برهم وو
چه خبر شوم له سرداره — له دې هسی نیکو کاره
په شتاب ورته روان شوم — پرغه تیر عمر پښیمان شوم
ښایسته کښلی پښتون دی — زیات په ورکړه ترجیحون دي
عجب دی که شي پیدا — بل دا هسي پښتون بیا

دا کتاب رحمت په ۱۲۱۰ھ منظوم کړی دي، کلام ئې ډیر پوخ او خوږ دي، فصاحت لری، مضامین ئې سلیس او ژبه ئې ساده ده! یوه نسخه ئې مصوره سته چه په کشمیر کې ملا ولی منصور په ۱۲ جمادی الثانی ۱۲۱۶ھ لیکلې او مصوره کړې ده په امر د شیر محمد خان بر درانی.

۹. کاظم خان شیدا:

کاظم خان د افضل خان زوی دي، چه افضل د اشرف خان هجری زوی وو، هجری د خوشحال خان خټک زوی وو. شیدا د پښتو ادب یو روڼ ستوری دي، او د خوشحال خان د مکتب یو نامور شاګرد دي، چه په پښتو یو ښه دیوان لري. دئ په ۱۱۳۵ھ تولد شوي، او د احمد شاه بابا معاصر دي، عمر ئې په کشمیر او سر هند کې تیر کړي، او په رامپور کې په حدود ۱۲۰۰ھ وفات شوی دي، د شیدا کلام په پښتو کې د پارسی د هندی سبک نمایندګی کوي، او لکه بیدل ډیر نازکخیال شاعر دي.

شیدا د هند په مځکو کي له وطنه ورک دي، د بیلتانه سوځونکي نارې يې په اشعاروکي ډيری دي:[1]

شیدا ور استوه رنګین اشعار له هنده

ستا له رای سره اشنا دروه یاران دي

د شیدا دیوان په ۱۱۸۱هـ ټول او ترتیب شوی دي.[2]

۱۰. عبدالحمید مهمند

حمید بابا ماشوخیل مهمند، د پښتو له لوړو ادیبانو څخه دي، حمید په پښتو کي د یوه نوي سبک استاد او لمړی سړی دي، او په پښتو ادب کي ئې بیل مکتب تأسیس کړی دي.

پښتانه ادبا هم حمید استاد بولی مثلاً میرزا حنان قندهاری وایي:

بل حمید موشګاف د خیال په شعر

څه به وایم ناسفته درُ ئې پییل

پیر محمد کاکړ وایي:

پسله دویه موشګاف عبدالحمید دی

چه ئې ووې ښه نازک نکته دان شعر

عبدالحمید په پښتو دیوان لري، چه مشهور دي، د شاه ګدای قصه ئې په ۱۱۳۷هـ کي لیکلې ده، نیرنګ عشق د مولانا غنیمت ئې د پښتو په نظم ترجمه کړی دي.

۱. د پښتو تاریخچه په طلوع افغان ۱۳ کال کي.

۲. د شیدا قلمی دیوان.

که څه هم عبدالحمید د احمد شاه بابا تر پاچهی دمخه دي، مګر وفات ئې په دغه عصر کي واقع شوي، او په پیښور کي د ماشوخیلو په ګګر کي د ده مزار دي. مسټر راورټی انګلیسی مستشرق غلط شوی دي، چه حمید د تیمور شاه معاصر ګڼي.[1]

۱۱. میان فقیر الله جلال آبادی:

مرحوم میا فقیر الله صاحب د عبدالرحمن زوی دي چه د جلال آباد په خاص حصارک کي زو کړی[2] او د خپل عصر له لویو مشایخو او علماؤ څخه دي چه په نقشبندیه طریقه کي د جناب محمد مسعود پیښوری او دی بیا د جناب محمد سعید لاهوری، او دی بیا د حضرت سعدالله او دی بیا د حضرت آدم بنوری څخه فیض اخیستونکی دي، چه حضرت بنوری د حضرت مجدد صاحب کابلی پیر و او میرید دي.[3] علاوه پر نقسبندیه طریقې په قادریه کي هم میان صاحب مأذون وو، او احمد شاه بابا و دغه جناب ته لوړ عقیدت او ارادت درلود، ډیر مکتوبونه میانصاحب و احمد شاه بابا ته را لیږلي دي، چه په مکتوبات کي ئې سته، او کله کله احمد شاه بابا هم له ده سره علمی او عرفانی مفاوضات او مراسلات درلوده، په مکتوبو به ئې پوښتني ځني کولې.

میان صاحب د خپل وخت زبردست عالم وو په ښکارپور کي ئې لوی خانقاه درلوده. د ده تألیفونه دغه مشهور دي: (۱) فتح الجمیل فی مدارج التکمیل (۲) فیوضات آلهیه (۳) براهین النجاة (٤) جواهر الاوراد (٥)

۱. وګوری د پښتو ګرامر مقدمه طبع د کلکتې ۱۸۵٦ ع.
۲. وګوری د ده مکتوبات ص ۲۷.
۳. د میان فقیرالله صاحب مکتوبات ص ۱۰.

طریق الارشاد (٦) وثیقته الاکابر (٧) منتخب الاصول دفقه (٨) فتوحات غیبیه (٩) کتاب الازهار فی ثبوت آلاثار (١٠) محمود الاوراد (١١) قطب الارشاد (١٢) مکتوبات ٣٩٠ مخه طبع د لاهور.

علاوه پر دغه دوی په پښتو، عربی او پارسی ژبه منظومې هم لري، یو کتاب ئې په پښتو په نوم د "فوائد فیقیر الله" هم لیکلی دي، میانصاحب په ښکارپور کي ١١٩٥هـ په حدود وفات شوي، او مرقد ئې د عامو زیارت ګاه دي.[١]

١٢. ملا محمد غوث ابن ترکمان ابن تاج خان:

د احمد شاه بابا معاصر او ملازم دي، چه په هندوستان کي میشته وو، ده یو کتاب شرح الشرح په ٣٠٠ مخ کي په پارسی د احمد شاه بابا په امر لیکلي او د احمد شاه بابا عرفانی ویناوي او منثور کلمات ئې شرح کړی دي.

١٣. فیض الله اخندزاده کاکړ:

دا عالم اصلاً د ږوب وو، چه د هوتکو د باچهۍ په پاي کي ئې پلار ملا بابړ اخوند له هغه ځایه قندهار ته راغلي وو.

ملا فیض الله زبردست عالم وو، د قندهار مشهور مؤلف او نامور عالم مرحوم حبیب الله اخندزاده ئې زوی وو.[٢]

١. د پښتو شعر تاریخچه په طلوع افغان کي ١٣ کال.
٢. وګوری د کابل مجله ج ٦ ص ٦٤٥ چه مفصلاً ئې شرح حال لیکلی دي.

۱٤. سید سراج الدین:

په ۱۱۲۷هـ د دکن په اورنګ آباد کي زیږیدلي او د احمد شاه بابا ادبی معاصر دي، سراج پارسی او اردو دیوان لري، یو مثنوی بوستان خیال ئې هم تالیف کړی دي. په ٦ د شوال جمعه ۱۱۷۷هـ وفات شوي دي[1]

۱۵. مولوی محمد باقر:

متخلص په آګاه د احمد شاه بابا معاصر دي په هند کي وو، په ۱۲۲۰هـ کال وفات شوي دي، د هشت بهشت، تحفة الاحباب، فرائد در عقائد، ریاض الجنان، محبوب القلوب، ګلزار عشق او نورو مؤلفاتو خاوند دي.[2]

۱٦. خان آرزو:

سراج الدین علی خان متخلص په آرزو د احمد شاه معاصر د هندوستان زبردست شاعر او محقق دي. په ۱۱۲۹هـ په لکهنو کي وفات شوي او په دهلی کي ښخ دي، پارسی دیوان ئې شل زره بیته دي، په پارسی ئې دوه لغتونه کښلی دي سراج اللغات او غرائب اللغات. نور تألیفونه ئې موهبت عظمی او عطیه کبری د بلاغت په فن کي او مجمع النفائس د شعراوو تذکره ده.[3] نور تألیفات ئې تر ۱۵ پوری رسیږی، لوی استاد وو.[4]

۱. تاریخ ادب اردو ص ۹۰ د رام بابو طبع د لکهنو.
۲. تاریخ ادب اردو ص ۹٦.
۳. تاریخ ادب اردو ص ۱۰۲.
٤. نکات الشعراء د میر تقی.

۱۷. شاه حاتم:

ظهیرالدین د فتح الدین زوی چه په ۱۱۱۱ھ زیږیدلی، او د احمد شاه بابا په زمانه کې د دهلی ساکن وو، د پارسی او اردو ښه شاعر دي، پر ۸۳ کال د عمر په ۱۱۹۲ھ په ډهلی کې وفات شوی دي.[۱]

۱۸. میرزا مظهر جان جانان:

شمس الدین د مرزا جان زوی، د پارسی او اردو زبردست او مشهور شاعر دي، په آګره کې په ۱۱۱۰ھ زو کړی وو.[۲] مظهر نامور شاعر او فقیه او عالم او په نقشبندیه طریقه کې لوړ مقام لري، پارسی دیوان ئې په ۱۱۷۰ھ کې تألیف کړي او یو بل کتاب په نوم د خریطهٔ جواهر لري په ۱۰ د محرم ۱۱۹۵ھ کال شهید سوی دي.[۳] میرزا مظهر پخپلو مکتوباتو کې د احمد شاه بابا د هند سفر یاد کړی دي.[٤]

۱۹. فغان

اشرف علی خان فغان د علی خان نکته زوی وو، د احمد شاه بابا تر فتح وروسته له دهلی څخه مرشد آباد ته ولاړ، پارسی او اردو دیوان لري، وفات ئې په ۱۱۸٦ھا کال دي.[٥]

---

۱. تاریخ ادب اردو ص ۱۰٤.
۲. د ګارسان ډیتاسی فرانسوی هندی ادب.
۳. تاریخ ادب اردو ص ۱۰۸.
٤. وګوری ۱۷ مکتوب د کلمات طیبات ص ٦۱ طبع دهلی.
٥. تاریخ ادب اردو ۱۱۲.

۲۰. درد

سید خواجه میر درد، د خواجه محمد ناصر عندلیب زوی او د احمد شاه بابا د عصر لوی صوفي او عالم او مشهور د پارسی او اردو شاعر په ۱۱۳۳هـ کال زوکړي، او د احمد شاه بابا په وخت په دهلی کي وو.

درد مشهور مؤلف دي، اسرار الصلوة، علم الکتاب، نالۀ درد، آه سرد، درد دل، شمع محفل ئې تألیفونه دي. پارسی او اردو دیوانونه هم لري، په ډهلی کي په ۱۱۹۹هـ کال وفات سوی دي.[۱]

۲۱. میر سوز:

محمد میر د میر ضیاء الدین زوی د گجرات د مشهور عالم شاه قطب له کورنۍ څخه وو، په دهلی کي د ۱۱۳۳هـ په حدودو زوکړي، او په عمر د ۸۰ کالو نژدې و ۱۲۱۲هـ ته وفات سوی دي.[۲]

میر سوز د خپل وخت مشهور شاعر او د احمد شاه بابا معاصر دي، عالم، صوفی، خوش نویس او سپاهی یو سړی وو، د اردو ژبی د ادب استاد دي.[۳]

۲۲. سودا:

میرزا محمد رفیع سودا اصلاً د کابل دي، په دهلی کي په ۱۱۲۵هـ کال زو کړی[٤] او د پارسی او اردو یو خورا لوړ شاعر او مؤلف دي. په ۱۱۹۵هـ

---

۱. تاریخ ادب اردو ص ۱۲۳.
۲. مستر بیل.
۳. تاریخ ادب اردو ص ۱۲٤.
٤. آب حیات د محمد حسین آزاد.

په لکهنو کي وفات شوی دي، د خپل عصر ملک الشعراء وو ډېر تالیفونه او اشعار لری.[1]

۲۳. میر حسن دهلوی:

تولد ۱۱٤۰ﻫ وفات ۱۲۰۱ﻫ د میر غلام حسین ضاحک زوی او خاوند د مثنوی سحر البیان پارسی او اردو دیوان، ګلزار ارم، رموز العارفین، تذکرة الشعراء.[2]

۲٤. میر تقی میر:

د هندوستان مشهور شاعر دي، په اکبر آباد کي د آګرې په ۱۱۳۷ﻫ زو کړی په ۱۱۹۷ﻫ کي وفات شوی دي. شپږ جلده اردو اشعار او یو پارسی دیوان او یوه فارسی رساله فیض میر، او تذکره د نکات الشعراء او تنبیه الجهال او نور تألیفونه لري. په ذکر میر کي ئې د ۱۱٥۱ څخه تر ۱۱۹۷ﻫ پوری تاریخی حالات لیکلي، او د احمد شاه بابا د پانی پت جنګ ئې هم ذکر کړی دي.[3]

۲٥. رنګین

سعادت یار خان رنګین په لاهور کي د احمد شاه بابا د نائب الحکومه میر منو ملازم وو، دیټاسی ئې عمر ۸۰ کاله لیکي، ډوکټور اسپر نګر وایي چه په ۱۲٥۱ﻫ کي وفات شوی او په ۱۱۹۲ﻫ کي زو کړی دي. ایجاد رنګین،

---

۱. تاریخ ادب اردو ۱۲۷-۱٤۳.
۲. تاریخ ادب اردو ص ۱٤۳-۱٦۸.
۳. د علامه سید سلیمان ندوی یاداشتونه، او د ډوکتور اسیر نګر لیکونه د ۱۸٥٤ع طبع.

مثنوی دلپذیر، مظهر العجائب، فرسنامه، مجالس رنګین د ده تألیفونه دي، د شعر دیوانونه هم لري.[1]

۲۶. شاه عالم:

د مغولیه کورنۍ آخرنی بادشاه وو چه احمد شاه بابا په ورستني پلا د پاني پت تر جنګ وروسته د ډهلی پاچا کي، دئ ښه شاعر دي، پارسی دیوان لری، تخلص ئې آفتاب دي، یو بل کتاب مضمون اقدس هم ده لیکلی دي، په پای کي د غلام قادر له لاسه ړوند کړه سو.[2]

۲۷. والهٔ داغستانی:

علی قلی خان د خپل عصر مشهور شاعر دي، تر احمد شاه بابا دمخه دی په دهلی کي وو. محمد شاه د هند پاچا ده ته امارت ورکړي وو د ریاض الشعراء تذکره ئې د احمد شاه بابا د جلوس په لمری کال ۱۱٦۱ه لیکلې ده.[3]

۲۸. آشفته:

مرزا محمد صالح د محمد زمان خان زوی، د احمد شاه بابا په عصر کي د کابل د توپخانې مشر وو، په ۱۱۷۲ه‍کي وفات شوی دي، تخلص ئې آشفته دی.[4]

وائی:

---

۱. تاریخ ادب اردو ص ۲۳۸.
۲. تاریخ ادب اردو ص ۲٤۲.
۳. تذکرهٔ حسینی ص ۳٦۲ طبع د لکهنو.
٤. سکینته الفضلاء ص ۵۲.

میرود دل بسر کوی تو پنهان از من
بد گمان گشته ندانم به چه عنوان از من

۲۹. الفتی کابلی:

نوم ئې قلیچ خان وو، د احمد شاه بابا په عصر کي د کابل میشته او غنډ مشر وو، عالم او ادیب سړی دي. دئ وائي:[۱]

کشتهٔ آن نرگس مستم که در عین خمار
عالمی را کشته و خود را بخواب انداخته

۳۰. مصحفی:

د هندوستان مشهور ادیب دي، د احمد شاه بابا په عصر کي په ۱۱٦٤ه زو کړی، په امروهه کي میشته وو، وفات ئې ۱۲٤۰ه دي.

پارسی او اردو دیوانونه لري، د تذکرة الشعراء لیکونکي دي.[۲]

۳۱. آزاد بلګرامی:

میر غلام علی آزاد بلګرامی د سید نوح زوی، چه د ده اسلاف واسطی زیدی دي، د سلطان التمش په وخت کي د فرخ آباد په حمدان کي د هند میشته شوي، وروسته نو د سلطان بهلول لودین په عصر بلګرام ته تللی دي.

آزاد په ۲۵ د صفر ۱۱۱٦ه، ۱۷۰۲ع په بلګرام کي زو کړی او د میر طفیل بلګرامی او علامه عبدالجلیل بلګرامی څخه ئې تحصیل کړی دي.[۳] آزاد په ۱۱٤۲ه، ۱۷۲۹ع کال په سیوی کي د نائب میر بخش وقائع نګار وو، په ۱۱۵۰ه، ۱۷۳۷ع حج ته او له دغه ځایه په ۱۱۵۲ه یمن ته ولاړ،

---

۱. سکینته ص ۵۳.
۲. شعر الهند ج۱ طبع د اعظم ګډه.
۳. د فاضل سید سلیمان ندوی یاداشتونه او سجة المرجان فی آثار هندوستان ص ۱۱۸.

وروسته نو د دکن اورنګ آباد ته راغی، ٨٦ کاله ئې عمر وو. په ١٢٠٠هـ، ١٧٨٦ع وفات او په اورنګ آباد کي ښخ شو، آزاد مذهباً حنفی وو، د ځپل عصر لوی عالم وو، د احمد شاه بابا د فتوحاتو تاریخونه ئې په هند کي لیکلی دي، د ده فتوحات ئې په نظم کي راوړي دي، اضوء الدراری، شرح صحیح بخاری او تسلیته الفواد، تراجم علماء،[١] ید بیضا، سرو آزاد، خزانهٔ عامره، روضته الاولیاء، سند السادات، مآثر الکرام، سجته المرجان د ده تألیفونه دي.[٢] متأخرین دی په فصاحت کي سحبان الهند بولی[٣] په پارسی او عربی او اردو کي زبرست عالم او شاعر او ادیب وو او د شعر دیوانونه پکښی لری.

٣٢. غلام حسین طباطبائی:

د هدایت علی خان زوی دي، اسلاف ئې له ایرانه راغلي په دهلی کي میشته وه، د محمد شاه په عصر کي بهار ته ولاړ، شیعه وو، غلام حسین د احمد شاه بابا معاصر دي، دی د خپل عصر مؤرخ دي. سیر المتأخرین ئې لیکلی دي، په دغه کتاب کي ده د هندوستان احوال چشمدید کښلي او د احمد شاه بابا فتوحات ئې مفصل ذکر کړي دي، په ١١٩٥هـ کي وفات شوی دي.[٤]

١. تذکره علماء هند ص ١٥٤، د لکهنو طبع ١٩١٤ع.
٢. حیات جلیل ج ٢ طبع داله آباد.
٣. د مرحوم مولوی عبدالرؤف خان قندهاری کشکول ج ٢.
٤. د علامه سید سلیمان ندوی یاد داشتونه.

۳۳. ملا دوست محمد:

د احمد شاه بابا د عصر یو زبردست عالم وو، په قندهار کي اوسیدي، د احمد شاه بابا له خوا د ښکارپور په نائب الحکومګي هم مقرر شوي، او میان فقیر الله صاحب ئې له ښو اوضاعو څخه تشکر کړي دي.[۱]

۳٤. محبت خان بلوخ

د احمد شاه بابا معاصر او د بلوچستان لوی امیر وو. د کچه و خوا ته ده جنګونه کوله، او د احمد شاه بابا استاد میان فقیرالله ته ئې ارادت درلود، او عالم امیر وو، د میانصاحب سره مکاتبې هم لري.[۲]

۳۵. نصیر خان بلوڅ:

د احمد شاه بابا د عصر د بلوچستان مشهور مشر وو، عالم او فقیر دوست سړی وو، و میان فقیرالله ته ئې ارادت درلود، د ده په نوم عربی او پارسی مکتوبونه او جوابونه لیکلی شوي دي[۳] په ځني جنګو کي ئې د احمد شاه ملګري هم کړې ده.

۳٦. میر حسین دوست:

میر حسین دوست سنبهلی د احمد شاه بابا په پاچهي کي په ۱۱٦۳ کال تذکرۀ حسینی لیکلې، او په شاه جهان آباد کي د هند میشت وو، د خپل عصر له ادباوو او شاعرانو څخه وو.[٤]

---

۱. مکتوبات ص ۱۱۰.
۲. وګوری مکتوبات.
۳. وګوری مکتوبات.
٤. تذکرۀ حسینی طبع د لکهنو ۱۲۹۲ هـ.

۳۷. حافظ رحمت خان:

د احمد شاه بابا له پښتنو معاصور امیرانو څخه یو حافظ الملک حافظ رحمت خان د شاه عالم خان زوی د محمود خان زوی دي، چه په قوم بړیڅ وو، لوی نیکه ئې شهاب الدین له ښوراوکه تللي او په اټک او لنګر کوټ کي میشته وو. رحمت خان په ۱۱۲۰ه، ۱۷۰۸ع زو کړی او د شهامت پور په تور کي اوسیدی، پر ۱۲ کال ئې قرآن شریف یاد کي، حافظ رحمت خان ډیر عالم او فاضل او ادیب سړی وو، د پښتون نواب علی محمد خان سره ئې ښه خدمتونه وکړه، او هغه وخت چه د محمد شاه مغولی پاچا له خوا پر روهیل کنډ حمله وشوه، نو رحمت خان، علی محمد خان ته نجات ورکي، وروسته ئې نو پر سر هند د مغولو سره سخت جنګونه وکړه چه احمد شاه بابا لمړی پلا پر هند حمله وکړه، نو رحمت خان او علی خان دواړه د احمد شاه بابا ملګري شوه، مګر چه علی خان پښتون په ۳ شوال ۱۱۶۲ه، ۱٤ ستمبر ۱۷۳۹ع وفات شو، نو پر ځای ئې رحمت خان د روهیل کنډ پاچا شو[۱] ده د بنګښو پښتنو امیرانو سره ښه کومکونه وکړه. د احمد شاه بابا په دریمه حمله کي پر هند په ۱۱۷۰ه، ۱۷۵۷ع حافظ رحمت خان د ده سره د خپلوی او ملګری مناسبات درلوده[۲] او په څلورمه حمله کي هم ور سره ملګری وو، څو ډهلی ئې ونیوي.[۳]

احمد شاه بابا د دي خپل پښتانه ملګری پاچا سره خورا مینه درلوده، د ده او شاه ولی خان وزیر اعظم فرق ئې نه کاوه، د رحمت خان بړیڅ په

۱. حیات حافظ رحمت خان ص ۳٤ طبع د بدایون ۱۹۳۳ع د سیدالطاف علی بی ای.
۲. حیات رحمت ص ۷۹.
۳. سیر المتأخرین.

کوښښ، د هغه وخت ټوله پښتانه د هند امیران د احمد شاه بابا سره متفق شوه[1] لکه نواب احمد خان بنګښ او شجاع الدوله، حافظ رحمت خان بړیخ، د پښتنو د شهنشاه احمد شاه بابا رشتینی ملګری او شجاع او ښاغلی سپه سالار، او مدبر دوست وو، عالم، فاضل، متقی، عادل پښتون وو، رحمت خان د پښتو، پارسی ښه شاعر هم وو. مسټر برک لیکي، چه ده په خپلو تألیفونو او آثارو شاعری ژوندۍ کړه.[2] دامسټېر د فرانسه مشهور مستشرق د حافظ رحمت خان د پښتو شعر مجموعه په رامپور کي میندلې وه، چه اوس د برټش موزیم په مشرقی کتابو کي ده.[3]

حافظ رحمت خان عالم او علم دوست سړی وو، ده ښه کتب خانه هم درلوده چه اوس ئې کتب د اودهـ په کتابخانه کي دي او ډوکټور اسپرنیګر ئې فهرست په ۱۸۵۲ع کي شائع کړی دي.[4]

اسپرنیګر لیکي، چه څلویښت صندوقه کتابونه د رحمت خان پاته وه چه اکثر پښتو وه.[5]

رحمت خان یو کتاب خلاصة الانساب هم لیکلی دي، چه د انګلستان په موزیم کي ئې نسخه سته. یو بل کتاب ئې هم تألیف کړی دي چه نوم ئې تواریخ رحمت خانی دي، دغه کتاب په ۱۰۳۲هـ،۱٦۲۲ع کي لمړۍ پلا په پښتو لیکل شوي، او وروسته په ۱۱۸٤هـ،۱۷۷۰ع کي رحمت خان په

۱. حیات رحمت ص ۹۰.
۲. د برک ویناوی ج۳.
۳. د سر جان اسټریچی د روهیلو د جنګ تاریخ.
٤. سر جان اسټریچی د روهیلو جنګ.
۵. سر جان اسټریچی د روهیلو جنګ.

پارسی ترجمه کي، چه د لنډن د هندوستان په دفتر، او پټنه او آګره کي ئې نسخې سته.[1]

حافظ رحمت خان په شنبې ۱۱ د صفر ۱۱۸۸ھ،۲۳ د اپریل ۱۷۷٤ع د میران پور د کړه په جنګ د انګریزانو او شجاع الدوله په مقابله کي په عمر د ٦٧ کالو شهید، او د بریلی په ښار کي ښخ شو، مرحوم ډېر علم پرور پښتون وو، د روهیل ګنډ په لویو ښارو کي ئې لکه شاه جهان پور، بریلی ، پیلی بهیت لوئی لوئی مدرسې جوړی کړي وې، او ډېر علماء ئې هلته را ټول کړي وه.[2]

۳۸. بحر العلوم:

مولانا عبدالعلی د نظام الدین زوی مشهور په بحر العلوم د احمد شاه بابا معاصر دي، په هند کي لوی علمی شهرت لري، د مولوی بلخی پر مثنوی ئې مشهوره شرح لیکلې ده، چه بحر العلوم نومیږي.

په تصوف او فلسفه او علم کلام او نورو اسلامی علمو کي ښه لاس لري، د احمد شاه بابا ملګری پښتون امیر حافظ رحمت خان د پښتنو علم پالونکي مشر په ډېر اصرار دی شاه جهان پور ته غوښتي، او یوه خاصه مدرسه ئې ورته جوړه کړې وه، چه شل کاله مولانا تدریس پکښې کاوه.[3] علاوه پر دغه مولانا د بوهار په کلی کي د بردوان په ۱۱۷۸ھ کي هم تدریس کړي، او ډېر شاګردان ئې درلوده.[4] مشهور تصانیف ئې دغه دی: ارکان اربعه په اصول فقه کي، پر میرزا زاهد حاشیه، پر شرح تهذیب حاشیه، درې

۱. حیات رحمت ص ۲۹۸-۲۹۹.
۲. د هند مدرسې د ابو الحسنات ندوی ص ۳٤-۳۵ د اعظم ګړه طبع.
۳. رسالهٔ قطبیه.
٤. د هندوستان مدرسې ص ۵۹.

حاشيئې پر زاهديه، شرح سلم فواتح الرحموت، شرح مسلم، الثبوت، تکمله، تنوير الابصار، حاشيه د صدرا پر شرح، د فقه اکبر شرح، د توحيد رساله او د قيامت احوال.[1]

۳۹. نواب محبت خان بړيڅ:

د حافظ رحمت خان زوی وو، د پلار د شهادت پر وخت د ۲٤ کالو وو، د عمر پر ۵۹ کال په ۱۳ صفر ۱۲۲٤، ۱۸۰۹ع وفات او په لکهنو کې ښخ دي، په علوم عربيه او پارسی او سنسکرټ کې لوي عالم او استاد وو. په اردو، عربی، پارسی، پښتو ئې ښه او ډير اشعار درلوده، اسرار محبت او آمد نامه ئې دوه کتابونه هم تأليف کړی دي. په حربی کارو او موسيقی کې هم ماهر وو[2] د احمد شاه بابا د عصر يو ادب پالونکي عالم او اديب او نامور پښتون دي[3] دی وايي:

ز سر گذشت "محبت" زهر که پرسيدم
به عارض اشک پياپی چکيد و هيچ نگفت

٤۰. نواب الله يار خان:

د حافظ رحمت خان بړيڅ زوی، او د پلار د شهادت پر وخت د ۳۱ کالو وو، ۸۱ کاله ئې عمر وو په ۹ د شعبان ۱۲٤۸ه، ۱۸۳۲ع وفات سوی دي، دی هم لکه پلار د توری او قلم خاوند او عالم او محقق وو. په پښتو او هندوستانی ژبه ئې يو د پښتو ژبی خورا مهم لغت ليکلی دي چه اوس نسته.[4]

---

۱. تذکرهٔ علمای هند ص ۱۲۳ د رحمان علی خان، طبع د لکهنو ۱۹۱٤ع.
۲. حيات رحمت ص ۳۱۳.
۳. شعرا الهند ص ٤٤۸، ج۲.
٤. حيات رحمت ص ۳۳۷.

۴۱. نواب غلام مصطفی خان:

د حافظ رحمت خان زوی، او په پنجشنبې ۲۷ د ذیقعدې ۱۲۰۳ھ، ۱۷۸۸ع وفات شوی عمر ئې ۳۰ کاله وو. د پارسی او اردو لوی ادیب او تخلص ئې "مست" دی.[1]

۴۲. نواب مستجاب خان:

دی هم د رحمت خان زوی او د پلار د شهادت پر وخت د ۱۳ کالو وو، په دوشنبې ۲ د شوال ۱۲۴۸ھ وفات شوي، د عربی او پارسی او پښتو لوی ادیب او عالم وو. ګلستان رحمت ئې په تاریخ کي لیکلی دي.[2]

۴۳. شیخ علی حزین:

نوم ئې محمد، پلار ئې ابو طالب وو، په دوشنبې ۲۷ د ربیع الثانی ۱۱۰۳ھ په اصفهان کي زو کړی، او د مشهور شیخ زاهد ګیلانی له کورنۍ څخه دي. حزین د خپل عصر عالم او شاعر وو. په ۱۱۳۵ھ کي ئې یو کتاب په نوم د مدت العمر ولیکه، فرس نامه او نوری څو فلسفی رسالې او د اشعارو دیوان هم لري. د شهریار محمود هوتک د فتح پر وخت دي په اصفحان کي وو، د نادر افشار په عصر کي په ۱۱۴۶ کال لسمه د روژې له ایرانه هندوستان ته ولاړ. هلته ئې ۴۵ کاله تیر کړه.

په ۱۱۵۴ھ کي ده خپل تذکرة الاحوال کتاب وکښلی، چه په ۱۸۳۰ع کي بالفور په انګلیسی ترجمه کړی دي. په ۱۱۶۵ھ د احمد شاه بابا په عصر کي ده تذکرة المعاصرین وکښلی چه په ۱۲۹۳ھ په لکهنو کي طبع

۱. حیات رحمت ص ۳۴۴.
۲. حیات رحمت ص ۳۴۹.

شوی دي.[1] حزین په ۱۱۸۰ﻫ کي وفات شوی او پخپلو آثارو کي ئې د احمد شاه بابا د هندوستان د جګړو ذکر هم کړی دي. احمد شاه بابا د ده سره یوه مشاعره هم لري، چه د پارسی شعر په بحث کي به ذکر سي.

٤٤. آذر:

لطف علی بیګ آذر په ۲۰ د ربیع الاول ۱۱۳٤ﻫ په اصفحان کي زیږیدلی، او د نادر افشار په وخت کي د ایران د لار او د خلیج فارس د غاړو حاکم وو.[2] د احمد شاه بابا په عصر کي دی ژوندی او څه څه وقایع د دغه عصر لیکي، کتاب ئې تذکره آتشکده ده، چه په دغه کتاب کي دی د پښتنو سره تعصب ښکاره کوي د ۱۱۷٤ﻫ تألیف دي.

٤٥. نواب میر احمد خان:

متخلص په ناصر د دکن له آصفی شاهی کورنۍ څخه دي، د احمد شاه بابا په عصر کي په ۱۱٦٤ﻫ وفات شوي او د دیوان خاوند دي، دئ وایي:

ارستو شد ز فطنت باریاب بزم اسکندر
به حکمت میتوان گشتن مقرب بادشاهانرا[3]

٤٦. ولی رام:

اصلاً هندو دی متخلص په ولی، د احمد شاه بابا معاصر وو له کلامه ئې د توحید افکار ښکاره دي، په پارسی ښه دیوان لری، شعر ئې خوږ دئ، په کابل کي اوسیدي، دا غزل دده ده.[4]

---

۱. د پروفسور براون انګلیسی د پارسی تارخ ادبیات، ج٤.
۲. د پارسی ادبیاتو تاریخ، د براون ج ٤.
۳. د سر کشن پرشاد د دکن صدراعظم خطابه، ګلشن د تهران ۱۳۰۸ش.
٤. مجلۀ کابل ج٤ ص ۱٥۳ مفصلاً.

برو از کوچهٔ اسلام و کفر بر در صلح
برات نقد چنین ثبت شد بدفتر صلح
تعصبات مذاهب تمام پنج روز است
شنیده ایم بسمع رضا ز مخبر صلح
براه جنگ منه پا که در وحل مانی
عبور کرد توان بر فلک ز شهپر صلح
نگویمت که فرنگی و یا مسلمانی
بهر طریق که باشی مباش منکر صلح
رسد بمنمزل تحقیق چون "ولی" آنکس
دهد عنان ارادت بدست رهبر صلح

ولی یوه د تاریخ رساله هم په پارسی لیکلې ده، چه د ده د دیوان له منتخباتو سره یو ځای قلمی زما څخه سته.

٤٧ . هاتف اصفهانی:

سید احمد هاتف د احمد شاه بابا په عصر کي د ایران مشهور شاعر او ادیب دي، په عربی او پارسی اشعار لری، د آذر ملګری وو، په ۱۱۹۸هـ په قم کي مړ دي.[۱]

٤٨. عبدالعزیز خان د بخارا پاچا:

دا پاچا د بخارا له جنیدیه کورنۍ څخه وو چه له ۱۰۰۷ څخه تر ۱۲۰۰ پوري ئې په بخارا کي لسو تنو حکومت کړی دي، د دې کورنۍ آخرنی پاچا عبدالعزیز خان د نادر محمد خان زوی دي، چه لس کاله د احمد شاه بابا تر

۱. تاریخ ادبیات ایرن د ډوکټور شفق ص ۱۸۹ طبع د تهران.

جلوس وروسته په ۱۱۷۱ﻫ کي پر تخت کښېنستلي او په ۱۲۰۰ﻫ کي وفات شوی دي.

عبدالعزيز خان د احمد شاه بابا له علمی او ادبی او سياسی معاصرينو څخه دي، چه د شعر ښه طبع لری، او په پارسی ئې خواږه اشعار ويلی دي. دغه يو بيت د ده له اشعارو څخه را نقل کوو.[1]

ضبط آه و ناله خون دارد دل زار مرا

آخر اين پرهيز خواهد کشت بيمار مرا

۴۹. ابن محمد امين ګلستانه:

د پارس له ساداتو څخه وو، د نادر افشار د مرګ پر وخت د ده اکا ميرزا محمد تقی په کرمانشاه کي حاکم وو، د احمد شاه بابا د سلطنت پر اتم کال د ۱۱۶۹ﻫ په پای کي دی له ايرانه د هندوستان سواحلو ته و خپل اکا مير محمد اسحاق ته ولاړ، وروسته ئې نو د هند په بنګال کي ژوندون کاوه. ابن محمد امين ابو الحسن ګلستانه د دغه عصر اديب او مؤلف او مؤرخ دي. چه د هندوستان د مرشد آباد په ښار کي ئې لس کاله تر احمد شاه بابا وروسته په ۱۱۹۲ﻫ کال، يو تاريخ مجمل التواريخ بعد نادريه ليکلی او په ۱۸۹۶ع کال د ليډن د بريل په مطبعه کي چاپ شوی دي، په دغه کتاب کي دی د احمد شاه بابا د ايران فتوحات او سفرونه مفصل ذکر کوي.

---

۱. د مهاراجه سر کشن پر شاد د دکن د صدراعظم خطابه،د تهران ګلشن شماره ۱۲۱ ج ۱۳، ۱۳۰۸ش.

۵۰. میرزا علی اکبر بمرودی:

د احمد شاه بابا په عصر په بمرود کي اوسیدي، په پارسی ئې شعر وایه، احمد شاه بابا چه آخره پلا، پر خراسان لښکر ورووست، دغه شاعر د دې پښتون فاتح هجو وکړه.[۱]

۵۱. ملا شاهو اخوند:

په قندهار کي د مغرب خوا ته یو ځای دي، چه د ملا شاهو اخوند تکیه ئې بولي، د دغه ملا شاهو اخوند نوم ملا ارادت وو، چه د احمد شاه بابا د عصر یو مشهور او حق ویونکی عالم وو، او د ده په دربار کي ئې ډیر عزت درلود، لکه چه یوه ورځ د احمد شاه بابا په حضور کي د دې عالم د حق پرستۍ د امتحان دپاره څه ساز او سرور وو، ده هم د دغه حرکت شرعی حکم په خورا شجاعت د احمد شاه بابا په حضور کي تبلیغ کي او پخپله دی له مجلسه ولاړ، په سره غره کي ئې ځای ونیوي او بیا نه راغي.[۲]

۵۲. قاضی فیض الله خان:

قاضی فیض الله په قوم دولت شاهی د احمد شاه بابا له معاصرینو علماوو څخه دي، چه د قندهار وو، او د احمد شاه په ژوندون کي ئې د شاهزاده تیمور سره چه د هرات نائب الحکومه وو، نژدیوالي درلود، او د شاهزاده لوی مشیر او معتمد وو، د احمد شاه بابا تر وفات وروسته چه تیمور له هراته قندهار ته راتي، د بکوا و غربی خوا ته د قاضی فیض الله خان په

---

۱. مجمل التواریخ ص ۱۳۵ طبع د بریل د لیډن.

۲. سراج التواریخ ص ۳۰ د کابل چاپ.

تحریک او تشویق، وزیر اعظم شاه ولیخان مړ کړه سو[1] وروسته چه تیمور شاه د افغانستان پر تخت کښېنوست، نو قاضی فیض الله خان لکه د مملکت صدر اعظم مدار المهام او مشیر او مدیر د سلطنت مقرر شو.[2] دغه قاضی د احمد شاه بابا د عصر له لویو خلقو څخه وو.

۵۳. ملا عبدالغبار خان جدید الاسلام:

لمری هندو وو د احمد شاه بابا په عصر کي مسلمان او د ده سره یو ځای له هندوستانه افغانستان ته راغي، او دینی علوم ئې ولوستل، د دغه عصر ښه عالم وو، د تیمور شاه د جلوس پر وخت دغه ملا د مملکت د دیوان په استیفاء (چه پخوا ئې مستوفی الممالک او اوس ئې وزیر مالیه بولي) مقرر شو نور حال ئې نه دي ښکاره.[3]

۵٤. عنایت الله هروی:

د سید لعل شاه هراتی زوی وو چه پلار ئې د هرات د خوا لوی او زبردست عالم وو، په ۱۱۸۰هـ په هړند کي وفات شوی دي.[4]

۵۵. مولانا خان محمد:

د ملا ابو الفتح زوی د ملا عبدالحکیم سیالکوټی له کورني څخه لوی عالم دي، د احمد شاه بابا په عصر په ډهلی او جمون کي وو، وروسته نو

۱. سراج التواریخ ج۱ ص ۳۵ او تاریخ سلطانی ص ۱٤۹ طبع د بمبی ۱۲۹۸هـ.
۲. سراج التواریخ ص ۳۷ ج۱.
۳. سراج ص ۳۷ ج۱.
٤. حدیقه الاسرار فی اخبار الابرار ص ۲۷۹ د امام بخش افغان.

کابل ته د تیمور شاه په عصر کي د ده حضور ته راغي، او د افغانی دربار څخه ئې په کشمیر کي معاش او تنخوا درلوده.[1]

٥٦. مولوی هدایت اللّٰه:

د مولوی کرم اللّٰه زوی او د کشمیر اوسیدونکی د خپل عصر عالم او ادیب وو، د کشمیر تاریخ ده تألیف کړي، تحفة الاخوان فی مناقب النعمان ئې د احمد شاه بابا په عصر کي لیکلی دي، په ۳۰ د شعبان ۱۲۰٦ه په کشمیر کي وفات او ښخ شوي دي.[2]

٥۷. مولوی نظام الدین:

د شیخ الاسلام قوام الدین زوی، او د احمد شاه بابا له عصره په قاضی توب او خانی په کشمیر کي سرفراز وو. ډیر فصیح او بلیغ شاعر دي، د نظام الوقائع په نوم ئې یو کتاب کښلی دي، چه د احمد شاه بابا د عصر او وروسته وقائع ئې پکښي لیکلی دي، په ۱۸ د ذیحجې ۱۲٤۰ه وفات شوی دي.[3]

٥۸. سید غلام دهلوی:

په ۱۱٥٦ه زو کړي، په ۲ د صفر ۱۲٤۰ه په ډهلی کي وفات شوی دي، د خپل عصر لوی عالم او نقشبندی مرشد وو[4] چه د احمد شاه بابا مشهور عرفاني معاصر دي.

---

۱. تحائف الابرار د کشمیر د رجالو تاریخ د حاجی محی الدین مسکین لیک د امر تسر طبع ص ۲۰٤.
۲. تحائف ص ۳۰٤.
۳. تحائف ص ۳۰٦.
٤. حدیقه ص ۱۸۱، تذکرۀ علماء ص ۱٥٥.

۵۹. مولانا خالد:

په کردستان کي زوکړی په ۱۲٤۲ھ په سر هند کي وفات شوی دي، د خپل عصر مشهور عالم وو، چه هندوستان ته تللی وو.[۱] مولانا خالد د احمد شاه بابا د عصر په آخر کي د قندهار پر خوا، هند ته ولاړ، د قندهار له احمد شاهی علماوو سره محشور وو.

٦٠. خواجه عبدالخالق:

د حافظ یعقوب زوی، له اویسی کورنۍ ښخه وو، په بهاولپور کي په ۱۱۵۸ ھ وفات سو.[۲]

٦۱. شاه ولی الله دهلوی:

د مولوی عبدالرحیم زوی په ۱۱۱٤ھ په ډهلی کي زوکړی، په ۱۱۷٦ھ هلته وفات شو. د احمد شاه بابا د عصر لوی عالم او محقق او زاهد دي، تفسیر د فتح الرحمان او حجته الله البالغه او نور مشهور تألیفونه لري، لوی او مشهور عالم وو.[۳] شاه صاحب پخپلو مکتوبو کي د احمد شاه بابا د هندوستان د ورتګ ذکر کړی دي.[٤]

شاه صاحب په تصوف او فلسفه او دینی تطبیقاتو کي د خپل عصر امام دئ، دی د وروستنی عصر اسلامی لوی محقق ګاڼه شي، آثار ئې ډیر مفید او غوره دي.

---

۱. حدیقه ۱۸۱، حزینته الا صفیاء د مفتی غلام سرور لاهوری ص ۷۰۰ ح۱.
۲. حدیقه ص ۲۷۲.
۳. تذکرۀ علماء هند ص ۲۵۱، ابجد العلوم د صدیق حسن صان صا ۹۱۲ د بهوپال طبع.
٤. وګورئی اول مکتوب د کلمات طیبات ص ۱۵۸ د ډهلی طبع.

٦٢. میر عبدالرشید بیهقی:

د سید احمد بیهقي زوی، اود ظاهری او معنوی علم خاوند د خپل عصر لوي عالم وو. شیخ عبدالاحد سرهندی پخپلو مکتوباتو کي دی ستایي، د کشمیر اوسیدونکو وو په ٥ د رجب ١١٨٠هـ هلته وفات شوي دي.[١]

٦٣. خواجه عبدالرحیم نقشبندی:

د خواجه محمد شریف زوی، په دهلی کي د شیخ کمال په لقب د پاچا له خوا هشهور وو، په علم او سلوک کي شهرت لري، د احمد شاه بابا د سکانو په جګړه کي د ده لوی ورور شهید سوی دي. په کشمیر کي د عمر پر سلم کال په ١٢ د جمادی الاول ١٢٠٠هـ وفات شوي دي.

٦٤.شیخ سعدالله د نوښار:

د حافظ برخوردار قادری زوی او په نوښار کي زوکړی، هلته په ١١٧٥هـ کي وفات او ښخ سوي دي، د احمد شاه بابا د عصر عالم او طبیب وو.[٢]

٦٥. شیخ محمد عظیم قادری:

د لاهور په حدود کي تولد او په ١١٨١هـ هلته وفات شوي په حجره کي ښخ دي، د احمد شاه بابا معاصر عالم او سید دي.[٣]

١. تحائف الابرار ص ٧.

٢. حدیقه ص ٦١.

٣. حدیقه ص ٦١.

٦٦. سید سردار شاه:

قادری عالم دئ، په جحره کي د لاهور زوکړی، په ١١٨٤هـ په بابکوال کي د لاهور وفات او ښخ شوي دي، د احمد شاه بابا د عصر مشهور مرشد دي.[١]

٦٧. سید محمد رازق:

د سید هاشم زوی عمر ئې ٧٤ کاله وو په ١١١٠هـ زوکړي په ١١٨٤هـ وفات شوي، او د احمد شاه بابا د عصر مشهور قادری عالم وو.[٢]

٦٨. حافظ هدایت الله د پیښور:

په علوم نقلیه او عقلیه کي استاد، او د پیښور وو، په ١١٨١هـ کي هلته وفات شوي دي.[٣]

٦٩. شیخ عبدالوهاب نوری:

د شیخ رشید الدین زوی، او د احمد شاه بابا د عصر زبردست او مشهور عالم وو، په ١١ د ربیع الثانی ١١٨٦هـ په کشمیر کي وفات او ښخ شوي دي.

عین العرفان، فتحات کبرویه، قواعد عشره ئې تالیف کړي دي.[٤]

---

١. حدیقه ص ٦١.
٢. حدیقه ص ٦٢.
٣. تحائف الابرار ص ٢٥٣.
٤. تحائف ص ٢٥٥.

۷۰. ملا ابو الوفاء:

د احمد شاه بابا له خوا د کشمیر مفتي وو، په ۱۹ د محرم ۱۱۷۹ه هلته وفات او ښخ شوي دي، لوی عالم وو، د انوار النبوة کتاب ئې تألیف کړی او په فقه کي څلور جلده د مسائل فرعیه تحقیق لیکلی دي.[۱]

۷۱. ملا محمد:

د ملا اشرف چرخی زوی وو، په کشمیر کي اوسیدی، په ۱۱۷۹ه ئې وفات کړی دي[۲] عالم او شاعر وو.

۷۲. مولانا احسام الدین:

د شیخ الاسلام مولوی امان الله وراره وو، په ډهلی کي ئې علوم تحصیل کړه په کشمیر کي اوسیدی، ښه شاعر هم وو، په ۱۱۹۷ وفات شو.[۳]

۷۳. شیخ اسلام مولوی قوام الدین:

د مولانا سعد الدین زوی، او د احمد شاه بابا د عصر زبردست او جامع عالم وو، د بلند خان د حکومت په وخت په کشمیر کي د احمد شاه بابا په حکم په لقب د شیخ الاسلام قاضی شو، رسالۀ قوامیه د ده تالیف دي، په ۵ د ذیقعدی ۱۲۱۹ه په کشمیر کي وفات سو.[٤]

۱. تحائف ص ۳۰۲.
۲. تحائف ص ۳۰۲.
۳. تحائف ص ۳۰۳.
٤. تحائف ص ۳۰۵.

۷٤. بختیاور:

بختاور د ټهټه د ځای مشر او رئیس وو، د احمد شاه بابا معاصر دي، ده یو کتاب په نوم د تذکرهٔ لسانی لیکلي دي.[١]

۷۵. شاه حسین:

شاه حسین د سید نور محمد د سید محمد امیر زوی او له قادری حضراتو څخه دي، وفات ئې په ۲۱ د جمادی الثانی ۱۱٦۲ھ واقع شوي، او د احمد شاه بابا د عصر له قادری مشهورو عالمانو څخه دي.[٢]

۷٦. شیخ رحمة الله:

د حاجی برخوردار زوی او په نوښار کي د پیښور زوکړی په ۱۱٦۷ھ په نوښار کي وفات شوی دي. له قادریه طریقې څخه دي.[٣]

۷۷. نصرة الله:

نصرة الله قادری د برخوردار زوی، په نوښار کي متولد او په ۱۱۷۰ھ هلته وفات شوی او ښخ دي، په سیالکوټ ئې د علم تحصیل کړي، او د احمد شاه د عصر عالم دي.[٤]

۷۸. حاجی محمد شعید لاهوری:

د نقشبندی لویو خلفاوو څخه دي، چه په لاهور کي په ۱۱٦٦ھ وفات شوی او د احمد شاه بابا لوی عرفانی معاصر دي.[٥]

---

١. حدیقه الاسرار فی اخبار الابرار ص ٦٠ د امام بخش افغان.
٢. حدیقه ص ٦٠.
٣. حدیقه ص ٦١.
٤. حدیقه ص ٦١.
٥. حدیقه ص ۱۷۷.

۷۹. عبدالسلام مجددی:

په کشمیر کي زوکړی، په ۱۱۷۱هـ هلته وفات شوی او نقشبندی دي.[۱]

۸۰. خواجه محمد رضا:

د خواجه عبدالله احرار له کورنۍ څخه په کشمیر کي زوکړی، او په ۱۱۷۹هـ هلته وفات شوي دي.[۲]

۸۱. شیخ محمد اعظم مجددی:

په کشمیر کي زوکړی، هلته په ۱۱۸۵هـ کي وفات شوي، ښه عالم او فاضل او شاعر وو، ډېر تألیفونه لري.[۳]

۸۲. خواجه کمال الدین:

د خواجه نورالدین نقشبندی زوی او په کشمیر کي زوکړي په ۱۱۸۸هـ هلته وفات شوي دي.[٤]

۸۳. محمد عیاث الدین:

د جلال الدین زوی د شرف الدین لمسی، او د لکهنو د شاه آباد اوسیدونکي او د احمد شاه بابا د عصر مشهور ادیب او عالم وو. خپل مشهور کتاب د غیاث اللغه ئې په ۱۲٤۲هـ لیکلی دي. علاوه پر دغه مشهور کتاب، د سکندر نامې شرح مفتاح الکنوز، او باغ و بهار، او انشاء هم د ده

۱. حدیقه ص ۱۷۷.
۲. حدیقه ص ۱۷۸.
۳. حدیقه ص ۱۷۸.
٤. حدیقه ص ۱۷۸.

تألیفونه دي.[1] په پارسی ښه ادیب وو، غزلیات او قصائد لري، دغه عالم د احمد شاه بابا د عصر د اواخرو دي، نور عمر ئې وروسته تیر کړی دی.

٨٤. مولوی رفیع الدین:

د فرید الدین زوی، او د احمد شاه بابا د عصر مشهور عالم او مؤلف دي، په ١٥ د ذیحجی ١٢١٨هـ په مراد آباد کي وفات شوی دي، د عین العلم ترجمه، د نووی داربعین شرح، کنز الحساب، تذکرة المشائخ، کتاب الاذکار، تذکرة الملوک ئې مشهور تألیفونه دي، ده یو بل کتاب په نوم د تاریخ افاغنه هم لیکلی دی.[2]

٨٥. ملاح فرالدین:

په قوم عرب او د احمد شاه بابا د عصر مشهور عالم او ولی دي، چه وروسته ئې ډیر شهرت موندلی، او د میان فقیر الله صاحب څخه ئې استفاده او استفاضه کړې وه، لکه چه ډیر مکتوبونه د میان صاحب د مکتوبات د ده په نامه صادر شوی دي.[3]

ملا فرح الدین اخوند په ١١٥٩هـ زوکړی او په عمر ٨٢ کاله په ١٢٤١هـ په قندهار کي وفات شوي او د هرات بازار پخپله جامع کي ښخ دي. ملا صاحب د خپل عصر مشهور عالم وو، ډیر مشهور عرفانی شاګردان او مخلصین ئې درلوده، ده په پښتو یو کتاب منظوم لیکلي دي، چه تعداد الکبائر ئې بولی، دغه مصراع ئې د وفات تاریخ دی "رفت قطب زمین مدار زمان."

---

١. عیاث اللغه طبع د کلهنو.
٢. تذکرهٔ علماء هند ص ٦٦.
٣. وګوری مکتوبات د میان فقیر الله صاحب.

۸٦. محمد فاضل انصاری:

د میان فقیر الله معاصر او شاگرد دي، پلار ئې پیر محمد او نیکه ئې ملا الیاس انصاری دي، د خپل استاد مکتوبات ده سره ټول کړي، او د کتاب په ډول ئې مرتب کړی دي او ډیر مکتوبونه د هغه لوی عالم د ده په نوم لیکل شوي دي.[1]

۸۷. محمد علی خان مبتلا:

د مشهد دي چه د احمد شاه بابا د جلوس په لمړی کال ۱۱٦۱هـ ئې یو کتاب منتخب الاشعار، کښلی دي، چه قلمی نسخې ئې په بودلینا او لاهور کي سته.[2]

۸۸. برهان خان:

د پښتو له لویو شاعرانو څخه دي، چه د احمد شاه بابا معاصر وو، د ده له اشعارو څخه ښکاره ده، چه د احمد شاه بابا د پانی پت په لښکرو کي شامل وو، او د دغه تاریخی جنګ کیفیت ئې په شعر ویلي دي (۱۱۷٤هـ).

برهان خان ملی شاعر دي، چه پښتنو حماسی افکار ئې پخپلو اشعارو کي ښه راوستلي، او د پښتنو د ټولواک فتوحاتو په افتخار ئې خواږه اشعار ویلي دي.

د دې ملی شاعر نور احوال موږ ته نه دي ښکاره، فقط دغه څو بیتونه د ده له منظوماتو څخه لاس ته راغلي دي:

---

۱. وګوري مکتوبات.

۲. د لاهور د شرقی کالج مجله.

احمد شاه بادشاه په غوره وويله
د غزا په نیت ځمه له کابله
پښتني مغولی لاندي کړې کفارو
دا خبره مي په زړه وګرزیدله
یا به ننګ د پښتانه بیرته په ځای کړم
یا به بایلم ککرۍ پرې باندي خپله
د اټک په سیند ئې دوه پله تیار کړل
بادشاه پریوت په مانجه ئې میشته کړله
هر سپاهی ئې تر پنځو تنه کم نه وو
د روتاس دژ ئې بې جنګه واخیستله
مخامخ سو جنګ ئې خښ کړ په میدان کي
دوه رخه ئې توپخانه وچلوله
سمن خان، مؤمن خان دواړه شهیدان شول
احمد شاه د زړه ئې ستن ونړوله
اوه ورځی وه تیاره بیا رڼا ئې شوه
د باهوز غر ئې په وینو ولړله
مریټې په لور د غم ناري سورې شوې
د پښتون توره ئې هله ومنله[1]

---

۱. د کابل مجله ج٦ ص ۷۳.

په دې ډول برهان خان د احمد شاه بابا له ادبی معاصرینو او رجز ویلو او حماسه ویونکو ادیبانو څخه دي، ډارمسټېټر فرانسوی مستشرق وایي چه دی د نادر زوی او د سرحد د هزاره په علاقه کي اوسیدی.[1]

۸۹. افضل خان خټک:

د مشهور خوشحال خان لمسی، او د اشرف خان هجری زوی، او له پلاره او نیکه څخه ادیب او فاضل وو، چه د احمد شاه بابا له علمی او ادبی معصرینو څخه دي.

افضل خان خټک د پښتنو د علم او ادب په کورنۍ کي روزلی شوي، او د پښتو ژبی له مؤلفیونه څخه دي، چه په پښتو ژبه ئې تاریخ مرصع لیکلي، او د پښتنو د انسابو او تاریخی حوادثو ښه معلومات ئې پکښي یو ځای کړي دي. د تاریخ مرصع نسخې خورا نایابی دي، او فقط د انګریزی پښتو پوهانو په لاس کښیوتلي دي، چه یو باب ئې مسټېر راورټی انګریز پخپل کتاب ګلشن روه په ۱۸۶۰ع کال د هرتفرد په ښار کي چاپ کړي.[2]

او دغسی هم پادری هیوز انګریز په کلید افغانی کي نشر کړی دي.[3]

متأسفانه د دغه نادر کتاب نوری برخي نه دي چاپ شوي، او نسخې ئې هم نه دي معلومي. د افضل خان له تألیفاتو څخه بل علم خانۀ دانش[4] دي، چه د ابوالفضل کلیه او دمنه ئې پښتو کړې ده.

۱. د پښتونخوا د شعر هار و بهار، د پاریس طبع ۱۸۸۸ع.
۲. له یوه تر ۵۳ مخه د ګلشن روه.
۳. له ۲۰۵ تر ۲٤۰ د کلید افغانی د لاهور چاپ ۱۸۹۳ع.
٤. د راورټی د ګلشن روه دیباچه ص ۵.

افضل خان د خپل قوم خان او امیر وو، کابل ته ئې هم سفرونه کړی او د ۱۱۸۳ ﻫ کال د شعبان په میاشت وفات شوي دي، چه کاظم خان شیدا د پښتو نامتو شاعر او د ده زوی چه په ۹ نمره یی ئې موږ ذکر وکي، د ده د وفات تاریخ ئې داسي پیدا کړی دي.[۱]

تاریخ ئې دا رنګ د رحلت ووې
خرد و ما ته "میاشت ده شعبان" وه
کال د رحلت ئې له ما نه واوره
"بهشت ئې ځای شه دعا کوم زه"

۹۰. محمدی صاحبزاده:

د شیخ میا محمد عمر صاحبزاده زوی په قوم څوکني او د احمد شاه بابا د عصر له مشهورو مشایخو څخه وو، چه د ننګرهار او پیښور په خواوو کي ئې هستوګه درلوده. محمدی د پښتو ژبی خوږ ژبی شاعر دي، چه دیوان هم لری او د کاظم خان شیدا سره ئې لیک درلود، چه شیدا د خپل دیوان په دیباچه کي د دغه ذکر کوي، او وایي صاحبزاده محمدی جیده طبع او ښکلی اشعار لري.

د دې شاعر له دیوانه څو بدلي په کلید افغانی کي هیوز اقتباس کړی دي.[۲] خلاصه محمدی د احمد شاه بابا د عصر له پښتنو ادیبانو څخه وو چه تر ۱۱۵۰ ﻫ وروسته ژوندی وو.

۱. د شیدا قلمی دیوان چه د دهکن په حیدرآباد کي دی.
۲. کلید افغانی ص ۳٦٦ - ۳۸٤، ۳۸۵، ۳۹۸.

۹۱. کاظم

د پښتو له ادیبانو څخه دي، چه د احمد شاه بابا په عصر د ختکو د اکوړې په سرای کي میشته وو او په پښتو ښه اشعار لري، چه هیوز په کلید افغانی کي د ده له دیوانه یوه بدله چاپ کړې ده[۱] او کاظم خان شیدا د ده همعصر، او همنام شاعر د خپل دیوان په دیباچه کي هم د ده ذکر کوي.[۲]

**۹۲. میان نور محمد نور زائې:**

د احمد شاهی عصر له مشاهیرو او لویو علماوو څخه دي، چه په طریقت او سلوک کي د مشهور میان عبدالحکیم کاکړ مرید وو، او ډیر تألیفات لري، چه یو له هغو څخه مقالۀ عالیه ده په تصوف کي، او د دوی په امر د هغه عصر یوه مشهور مؤلف او عالم مرحوم ملا احمد قندهاری (و نمره **۹۳** ته رجوع) د تعلیم السلوک په نوم شرح پر لیکلې ده. میانصاحب په قندهار کي په علم او زهد او تقوی ډیر شهرت درلود، او مرقد ئې د منارې په کلی کي د قندهار جنوبی خوا ته دي، چه ۱۰۰ فټه جګه مناره د احمد شاه بابا په عصر کي پر جوړه شوې ده. میانصاحب په **۱۱۷۲ه** کال وفات شوی دي.

**۹۳. ملا احمد الکوزی:**

ملا احمد د اسماعیل ابدالی قندهاری زوی د احمد شاه بابا د عصر د قندهار له مشهورو علماوو او مؤلفینو څخه او د قندهار قاضی وو. ملا احمد په عقلیه او نقلیه علومو کي د خپل عصر عالم وو، او ډیر نامدار شاګردان او

---

۱. کلید افغانی ص ۳٦۷.
۲. د شیدا د دیوان دیباچه ص ۷-۸.

مؤلفین ئې زوولی او تعلیم ئې ورکړی دي لکه مشهور د قندهار محقق مولوی حبیب الله او نور.[1]

ملا احمد د قندهار په ښار کي اوسیدی، او تل به علماء او فضلاء پر ده ټول وه، تر اوسه د ده د علم او فضل خبری مشهوری دي.

د ده تألیفونه ډېر دي، په اکثرو علمو کي ئې نافع کتابونه لیکلی دي، چه له هغه څخه یو تعلیم السلوک، شرح پر مقالهٔ عالیه د مولانا نور محمد ده. په پارسی رسالهٔ کاشفه او په عربی ئې رسالهٔ فارقه په تصوف کي لیکلي دي، دغسی هم یو بل کتاب ئې بیان وافی فی الطوایف الصوفیه په عربی لیکلی، او په منطق کي ئې د قطبئې پر میرزا باندي شرح کړې ده، ملا احمد د احمد شاه بابا تر عصر وروسته ډېر عمر ژوندی، او په قندهار کي د علماوو مرجع وو، د عیدګاه دروازې دباندي په عمومی هدیره کي ښخ دي.

۹٤. ملا محمد نور توخی:

ملا محمد نور د محمد حسن زوی د عبدالحبیب لمسی، نورخیل توخی له هغو علماوو څخه دي، چه د احمد شاهی عصر په پای کي وو، او وروسته ئې زامن او لمسیان د تفسیر په علم او د قرآن عظیم په ترجمه کي د عامو مرجع وه او دي.

ملا محمد نور په طریقت کي د میان فرح الدین (رجوع نمرهٔ ۸۵ ته) مرید وو، له تألیفتو څخه ئې په عربی یو کتاب جامع السلوک سته.

---

۱. د محقق قندهاری قلمی د رسائلو مجموعه، او رجوع نمره ۱۳ ته.

۹۵. د نادر نامې ناظم

دا سړی اصلاً د خراسان، او د یوه خراساني ادیب قاسمی له کورنۍ څخه وو، چه د مشهور مستشرق پروفسور براون انګلیس په قول ئې د فردوسی د شهنامې په ډول اشعار ویلي، او قلمی نسخه ئې د انګلستان د کمبرج په دارالفنون کي سته.[1]

د دې شاعر نوم نه دي معلوم، یو کتاب ئې د نادر نامې په نوم د شهنامې په ډول د خراساني افشار نادر پر شرح حال په ۱۷ زره بیته د حسین خان فراهي په امر منظوم کړي دي، چه دغه حسین خان د احمد شاه بابا له خوا د خراسان حاکم وو، دا کتاب د اعلیحضرت احمد شاه بابا په نامه د ۱۱۷۲هـ د لمړۍ خور په میاشت پای ته رسیدلی دي.

په دې کتب کي د اعلیحضرت احمد شاه بابا د پلرو او نیکه ګانو کار نامې په هرات کي ذکر شوي دي، او احمد شاه بابا هغه لوړ اقدامات بیان شوي دي، چه ده د نادر شاه تر مرګ وروسته وکړه، د احمد شاه بابا ستاینه داسی کوي:

کنم خامۀ فکر را تازه سر بوصف شنهشاه نیکو سیر
جهاندار "احمد شه" سر فراز که در های دلهاست بروی فراز
خداوند دولت بر ایرانیان در درج اقبال در اینان
بعهد چنین خسرو سرفراز برویم شد این باب معنی فراز[2]

۱. د براون د فارسی ادبیاتو تاریخ.
۲. نادر نامه قلمی.

۹۲. عبدالعظیم رانی زی:

عبدالعظیم د نور خان لمسی د سوات دي، چه په ۱۱٦۷هـ په سوات کي زوکړی، او تر ۱۲۵۳هـ وروسته هلته مړ دی.

عبدالعظیم له هغو پښتنو شاعرانو څخه دي، چه د احمد شاه بابا په عصر کي لوی شوي، او منځ ته راغلی دي. عبدالعظیم د پښتو ژبی ښه شاعر، او د دیوان خاوند دي، په سبک کي رحمان بابا ته ورته دي، دی د خپل عصر ښه عالم هم وو، دا بیتونه د ده دي:

په جهان چه ستا د حسن کاروان پریوت
له هیبته په ګلونو خزان پریوت
چه دا ستا ښکلی ګلشن ئې په نظر شو
عندلیب له محبته حیران پریوت
تور د سترګو می په ډیره ژړا سپین شو
لړمانه وته مي تاو د هجران پریوت
خدای دي مړ ک کاندی میلمه په "عظیم" باندي
چه له لاسه ئې د صبر میزان پریوت

۹۷. ملا زبردست:

له هغی پښتنو ادباوو څخه دي، چه د احمد شاه بابا په عصر کي روزلی شوي دي، دی د کرم خان زوی د جلال لمسی او په قوم کاکړ وو، چه د قندهار په شاو خوا کي اوسیدي، ملا زبردست وروسته په ۱۲۲٦هـ یو پښتو کتاب روضته النعیم په لنډ مثنوی نظم کړي، او د ده اشعار دینی او اخلاقی رنګ لري، دی وایي:

من لم يظلم لم يظلم

ځوک چه ظلم پر چا نکړي — کله ظلم ځوک پرده کړي
چه بد نکړي بد نه مومي — نیکان کله بدی مومي
کښته خپله هر ځوک لو کا — خپل کرلی هر ځوک درو کا
نیکو کاره نیک رفتار کړه — له هر چا نیکي اختیار کړه[1]

۹۸. اخوند ګدا

اخوند ګدا د پښتو ژبی یو مصنف او شاعر دي، چه د احمد شاه بابا په زمانه کي ژوندی، او ده یو کتاب چه نافع المسلمین نومیږي منظوم کړی دي.

اشعار ئې ډېر دینی او اخلاقی دي، تر ۱۱۷۲ه پوری لا ژوندی وو، یو د غزلو مستقل دیوان هم لري، دا رباعی د ده ده:

د سحر چرګه خوږ شې په کومي — چه تا ناري کړې دلبر مي درومي
یو مي دلبر ځی بل رانه زړه وړي — زړه مي پدا وړي چه دلبر نومي

۹۹. قاسم علی افریدی:

د احمد شاه بابا د عصر یو مشهور پښتون ادیب دي، چه د ۱۱۵۰ه تر ۱۲۰۰ه پوری ژوندی وو. راورټی مستشرق لیکي چه د هند په فرخ آباد کي زوکړی دي، په انګریزی او تورکی ژبه هم پوهیدي او هغه وخت چه انګریزان لمړۍ پلا هند ته راغله، نو ده په یوه قصیده کي دغه حال داسي تصویر کړی دي.

---
۱. روضة النعیم، قلمی.

نصارا په هندوستان حکومت کاندی
چرته ولاړ هغه ځوانان شمشیر نګي
بقالان وه سپاهی په هندوستان شوه
درویزه کاندی اسراف چنګي چنګي[1]

۱۰۰. میا عمر څوکنی:

دا مشهور شاعر او عالم او روحانی سړی د احمد شاه بابا معاصر وو، دی د پیښور په څوکنو کي اوسیدي، او احمد شاه بابا د ده سره علمی او روحانی روابط درلوده، هره پلا چه به احمد شاه بابا پر دغه لار هند ته تي، د ده سره به ئې ملاقاتونه کول.

میا عمر علاوه پر نورو تصانیفو یوه د پښتنو اقوامو سجره هم په پښتو منظومه کړې ده.[2]

۱۰۱. مسعود ګل پاسنی:

د پښتو ژبی ښه شاعر، او د احمد شاه بابا له معاصرینو څخه دي، دی د میا عمر څوکنی سره ډیر ارادت لری، او د هغه مشهور روحانی ځني مناقب ئې په پښتو ژبه په خورا سلاست منظوم کړی دي، چه یوه نسخه ئې د لنډن په موزیم کي سته.[3]

۱۰۲. عبدالکریم کاکړ:

د قندهار له علماوو څخه وو، چه په ۱۱۵۱ه زوکړی، او په ۱۲۳۵ه چه د ځلور اتیا کالو وو، په قندهار کي وفات شوي دي، ده د عربی عین العلم

۱. د مسټر راورټی د پښتو ګرامر مقدمه ص ٤٦.
۲. صولت افغانی.
۳. شکرستان افغانی ص ۳۸.

ترجمه په پښتو نظم د زين العلم په نامه کړې او په ۱۲۳٤هـ ئې ختم کړې ده، هلته وايي:

| | |
|---|---|
| د ښه خوی ګټه ده ډيره | له ګڼلو تر اند تيره |
| هغه څوک چه اخلاقی وي | د هغه نوم به باقی وي |
| که د چا اخلاق ښه نه وي | د هغه به ژوند ښه نه وي |
| د اسلام خو ښه اخلاق دي | چه په درست اديانو طاق دي |
| د اسلام دين دی راغلي | پيغمبر دی پاڅيدلي |
| چه پوره کي ښه اخلاق | او پر ځای کي دا ميثاق |
| چه "انی بعثت" وروره | "لا تم" هم ګوره |

## احمد شاه بابا د اروپائی او نورو مؤرخينو په نظر کي

لاندي لنډ لنډ د اروپائي او نورو مؤرخينو او لويو مستشرقينو نظريات نسبت و احمد شاه بابا ته ليکو، چه هغو څنګه بللی دي؟ د مشرق وسطي په تاريخ کي خو د ده منزلت او عظمت ښکاره دي، بده نه ده چه د اروپا د محققينو په افکارو هم څه نه څه خبر شو.

د اروپا مشهور پښتو شناس ايچ، جی راورتی چه د اعليحضرت امير دوست محمد خان په عصر کي ژوندی وو، پخپل پښتو ګرامر کي د احمد شاه بابا ډير اشعار د مثال او سند په ډول ذکر، او وايي:

"احمد شاه ابدالی، د درانو د سلطنت لوی مؤسس، او د پانی پت د ميدان لوی بريالی وو، اشعار ئې يوه عشقی د تصوف پيرايه لري، چه ډير د احترام وړ دي."[1]

مسټر فرير فرانسوی مستشرق ليکلي دي:

"احمد شاه بابا په ښندنه او سخاوت داسي کارونه وکړه، چه په بل ډول ګران وه."

کلنل جی، بی مليسون انګليس مورخ د افغانستان په تاريخ کي ليکي:

"احمد شاه يو اتحادی حکومت، فيوډل سيسټم، جوړ کي، د ملت سرداران ئې پر کارونو مقرر کړه، او له پښتنو څخه ئې دا خواست وکي، چه د خدای دپاره ننګ وکړي، او يو موټی شي." [2]

مسټر جورج مکمن انګليس پخپل تاريخ کي د احمد شاه بابا فتوحات د امپراطور افغان په نوم په ښه ډول ذکر کوي، او د ده فتوحات په ښه ژبه ستايي.[3]

د فرانسه معروف مؤرخ او فيلسوف ډوکټور ګوستاو لوبون ليکي:

---

۱. د پښتو ګرامر ديباچه، طبع د کلکتې ۱۸۵۲ع.
۲. د مليسون انګريزی د افغانستان تاريخ له قديمی زمانې د ۱۸۷۸ع تر جنګه، ۲ طبع د لندن ۱۸۷۹ع.
۳. افغانستن له دارا تر امان الله تأليف د مکمن طبع د لندن ۱۹۲۹ع ص ٦٤-٦٧.

”د مرهټيانو ملا د پانی پت پر ميدان په ١٧٦٠ع کال پښتنو (احمد شاه) ور ماته کړه او دوه لکه لښکر ئې ور قتل کړه، او له زوره ئې واچوله.“[١]

سمټړی اې مارسډن انګليسی مورخ ليکي دي:

”احمد شاه په آساني د ډهلی پاچا سو، او لکه محمود غزنوی، او محمد غوری څو واره ئې پښتانه پر هندوستان را وبهول او د مرهټيانو دوه لکه لښکر ئې ووژل.“[٢]

سر جان ملکم انګليسی مؤرخ ليکي:

”احمد شاه څو واره پر هند لښکر وکيښ، هر وار ئې بری وموند، ده د قوم د فکره سره سم حکومت کاوه، ټوله ملت په احترام ورته کتل، د هندوستان او افغانستان لوی فاتح دي، مرهټيانو ته ئې لو ماته په پانی پت کي ورکړه.“[٣]

ګرانټ ډف انګليسی مؤرخ ليکي:

”د پانی پت جګړه د هندوستان د مها بهارت تر جګړې وروسته لو جګړه ده، په درو ورځو کي احمد شاه دوه لکه مرهټيان مړه کړه، او فقط شپږمه برخه ئې په ژوند وتښتيدله.“[٤]

علاوه پر دغو ځينو نورو د دې عصر مؤرخينو داسي ليکلی دي:

علامه شکيب ارسلان ليکي:

---

١. تمدن هند طبع د آګرې ١٩١٣ع ص ١٦٣.
٢. تاريخ هند ج ٢ ص ٢٦٧ طبع د ١٩٢٨ کلکته.
٣. تاريخ سر جان ملکم ج ٢ ص ١٢٧ بمبئی ١٣٢٣ .
٤. هسټری آف دی مرهټاز.

"د احمد شاه بابا دمخه د هندوستان اسلامی دولت په خطر کي وو، په ۱۷۶۰ع چه احمد شاه دهلی ونیولي نو هندوانو لکه د غزنوی یا غوری حکومتو په ډول د هند يو نوی دولت وباله، له هري خوا ئې مقابله ور سره وکړه، مګر ده د پانی پت پر میدان په ۱٤ جنوری ۱۷۶۱ع لکه پخوا بیرته اسلام ته بری ورکي."[1]

علامه فرید وجدی د مصر مشهور عالم لیکي:

"احمد شاه بابا پر هغو مرتیانو چه تیموری شاهان ئې عاجزه کړي وه ښکاره بری ومونډلي، او لویه ماته ئې ورکړه، دی زړه ور او پوه، او عادل او زړه سواندي او حازم سړی وو، پښتنو لکه مهربان پلار داسي باله، او د بابا لقب ئې ورکي."[2]

علامه سید سلیمان ندوی د هندوستان مشهور محقق لیکي:

"احمد شاه ذاتاً لوی او لوالعزم، او تجربه کار او فاتح سپه سالار وو، اما لکه نور فاتحین په انتظام نه رسیدي، د هندوستان مسلمانان پر دغه د ده ډیر ممنون دي، چه مرتیان ئې له شمالی هنده واسیتل."[3]

## د احمد شاه بابا کلام او مستشرقین

په اروپائې مستشرقینو، او د مشرق د ژبو په پوهانو کي راورتی انګلیس خورا مشهور، او د دې ژبی لوی خادم دي. ده د پښتو ژبی دوه مهم کتابونه

۱. حاضر العالم الاسلامی ص ۳٤۲ ج۲.
۲. دائرة المعارف د فرید وجدی ص ۸٤ ج۶.
۳. د علامه سید سلیمان ندوی یاد داشتونه.

نشر کړي دي، يو کتاب ئې ګلشن روه دی، چه په ۱۸۶۰ع ئې د هرتفرد په ښار کي په حروفی طبع چاپ کړي، او د پښتو ژبی د ۱۶ جلدو زړو قلمی آثارو څخه ئې انتخاب کړی دي، په دغه کتاب کي ۱۲ مخه د احمد شاه بابا له ديوانه نقل شوي دي، او راورټی احمد شاه بابا د پښتو يو ښه شاعر ګڼي (لکه دمخه چه ذکر شوه).

بل کتاب د راورټی د پښتو ضخيم ګرامر دي، چه په ۱۸۵۶ع په کلکته کي چاپ شوي او په دغه کتاب کي راورټی ډير د احمد شاه بابا اشعار د سند په ډول ذکر کوي.

پادری هوز انګليس په کليد افغانی کي چه په ۱۸۹۳ع په لاهور کي چاپ شوي دي، د احمد شاه بابا له ديوانه څني بدلی انتخاب کړي دي.

او علاوه پر دغه ډارمستتر فرانسوی مستشرق چه د پښتو په ادب کي ئې پلټڼي کړي دي، احمد شاه بابا د ملی شاعر په حيث پيژني.

## پارسی اشعار

احمد شاه بابا که څه هم پښتون وو، مګر په پارسی او عربی کي ئې هم ښه لاس درلود، ويل کيږي چه ده يو د افغانستان تاريخ په پښتو ليکلي، او په پارسی هم د اشعارو ديوان لري، مګر افسوس چه ورک دی، دغه دوه بيتونه په پارسی و ده ته منسوب دي.[1]

ما به صلحيم و فلک در پی جنګ است اينجا
دل ازين حادثه بسيار بتنګ است اينجا

۱. مجلهٔ کابل ج ٤ ص ۱۵۲.

ما تباهی زدگانیم درین بحر فنا
تختهٔ کشتئی ما پشت نهنگ است اینجا

دغه یو بیت هم د احمد شاه بابا په نوم اروېدل شوي دي چه د ده د پاچهۍ اصول او عدالت افکار ښه ځني ښکاره دي:

ای وای بر امیری کز داد رفته باشد
مظلوم از در او ناشاد رفته باشد

په دې مطلع احمد شاه بابا د خپل معاصر پارسی شاعر شیخ علی حزین د دې مطلع استقبال کړی دي، مگر په مقصد کي زموږ د پلار بیت ډېر لوړ او قیمت لرونکي دي، حزین وايي:

ای وای بر اسیری کز یاد رفته باشد
در دام مانده باشد، صیاد رفته باشد

د احمد شاه بابا د دغی بدلي نور بیتونه چه پخوا می اروېدلی وه، له یاده وتلی دي.

(۲)

# د احمد شاه بابا وینا

## مجموعهٔ کلام اعلیحضرت احمد شاه بابا

# بدلی

## (الف)

که ووایم زه رشتیا  وا به نه وړمه له تا
ما ناموس در باندي ایښي  که بد نوم مي وي په دا
بد نامي مي نیکنامي ده  که مي مینه وي رشتیا
چه رقیب په سترګو ونیم  توکل په ربنا
له اوله سر بازی کړم[۱]  په تیره توره دلا
که مي لانفي الا کړه[۲]  زه به تل اوسم بقا
اختیار ووت له لاسه  نندارہ "قالوابلیٰ" [۳]
معرفت "قالوابلی" دي  بیا ده نفي ماسوا
د وحدت پر مځکه اوري  هویت څرګه معنیٰ
دا ویل پریږده "احمده"
که ویل د مصطفیٰ (ص)

په خوا راغله محبوبا  عجب ښکار کا دلربا
دا پخپل. حسن غره ده  پر عاشق پروته بلا
علاج نه لري عاشقه  پرېږ کړه سر په تیغ دلا
که ته سر پریکړی راشې  دا به ووینې اعلا

---

۱. پ: لا اوله سر بازي کړم.
۲. اشارت دي کلمې شریفی ته چه لمړی نفی او وروسته په الاالله اثبات دي، او دا اثبات د حقیقی او معنوی بقا سبب دي.
۳. په آیت شریف تلمیح دي چه "الست بر بکم قلوابلی".

رقیبان دي په دا لار کي وایه تل "لاحول ولا"
که ته خلاص شوې له رقیبه کړې به سیر "الی الله"
"الی الله" سیرونه ډیر دي میوه واخله د بقا:
د بقا میوه هم پریبږده کړه د "هو" پټکی تر ملا
که د"هو" پټکی تر مال کړې جهان ستا تر ابدا
"احمد" خدای په مل اختیار کړ[1]
چي اختیار مشکل کشا

هسي ګرزي په زړه مینه د لیلی
چه مجنون تل نوم وائیینه د لیلی
وائې نخیست بل سبق پدا دنیا کي
سبق خط و خال لولینه د لیلی
ده ته خوب د بیغمۍ تل دغه وي
چه په خیال په شپه ورځ وینه د لیلی[2]
ځکندن که ئې د غم په توره کیږي
ارمان نکا چه مخ وینه د لیلی[3]
عاشقان چه تل لیلی کا واویلا کا
ځان فنا په نامه کړینه د لیلی
غم له ډیره غمه غواړي غم نه مومي[4]
اشنای تل غم خوښوینه د لیلی

۱. پ: احمد شاه ته اختیار کړی.
۲. یعنی باشد.
۳. د دمخه بیت سره تجنیس دي، یعنی میبیند.
٤. پ: نه ئې مومي.

د عشق درد به واړه وسوځي یکباره
چه وصال سر انجام سینه د لیلی
راسه زده کړه "احمد شاهه" له مجنونه
چه مجنون په عشق کي مرینه د لیلی

د یار زلفی پیچان زما ګوره تور ماران زما
مخامخ په کوځه راغله کبږې وروځې کمان زما
زه به ډېر هوس کوم یار دي نن مهمان زما
که مي نه وي نور بساط کړم به قربان ځان زما
یار که مي کړ خوښ په سر دا دي سر سامان زما
دا ده هسي شکر لبه ماتوي د قند دکان زما
وایه تل ثنا "احمده"
یو دی نګهبان زما

نن د تا د سرو لبانو مي ومارا
لوهه من یم دا د میولي و مارا
که سړی وجود د میني په اور سوځي
خوښ پدا یم او د میني سوي و مارا
کبږې وروځی دي د دوو سترګو میزان دي
دا ستا وزن د میزان دی ري و مارا
د ښایست بازار دی څه عجائب جوړ دي
هیڅ می نشته صبوری کالي و مارا
که په سر وی سر مي ته واخله دلبره
د سرو شونډو د خوږو تالي و مارا

که وي زهر که خواږه وي ستا له لاسه
چه عاشق یم دا دي نه وي هی و مارا
دا د تا نظر دي. تیغ د سر وهلو
سر پریکړی پدا تیغ یم ځي و مارا
دا د میني دریاب څه دی چه پی نشي
تویوم دریاب د اوښیو پی و مارا
بې له یار دي بل خواست د "احمد" چیري
شپه او ورځ نارې وهي چه دي ومارا

و بورجل ته دي ولاړ دی مینان ستا
که ئې وژنې خو په حکم دي روان ستا
ستا د سپیني خولې د ښهر علاج څوک کا
چه و جنګ ته مهیا دي زنګیان ستا
ستا د خولې بازار عجب ډک له شکرو
عاشقان دي د شکرو لبو طوطیان ستا
و طوطیانو ور کوي عالم شکري
دوی راغلي له هواده بندیان ستا
په کوهی دي د زنخ آبیحیات دي
عاشقانو زندګی په زنخدان ستا
څه عجب دي د خپل حسن په خم رنګ کړه
په عالم دي ښکاره شوي دا خمیان ستا
غړوندي د عشق په غاړه تل ولاړ دي
همیشه د هو نارې کړي قمریان ستا
"احمد شاه" ځکه نارې ستا په دربار کا
چه نیولی دي د حسن په فرمان ستا

که په زړه باندي هر څو کوم دوا
بې لیدنه به جوړ نشي راته دا
څما زړه که دلې وای ما به دوا کړه
باري وړی دی د یار مهر و وفا
معشوقه په هسکواله لکه اسمان شوه
و اسمان وته لاس نه رسي د چا
چه له لاسه نا امیده هم له پښو سي
بل امید ئې پاته نسي بې له خدا
مینه هیچیري په زر و په زور نسي
د شها مینه په روح ده زړه لتا
محبت که ئې په زور یا په زور وای
نن به مینه وه حاصله د هر چا
و ښه عشق لره فنا نشته هیچیري
سي فاني باقی، بقا سي هم فنا
چه فاني سي دا باقی، بقا فنا سي
عشق به سي فنا بقا هم بیا لقا:
نور به درسي ده بقا بې نهایته
تا به هله کا له عشقه بیا جدا
چه له عشقه دي جدا کړي څما جانه
در بسي معنی و تا وته دانا
دغه عشق به لتا نه ځي تل تتله
له سواوو به سوا کړې ته سوا
چه سوا ته له سوا ووکړې سوا
معرفت په معرفت به سي روښا

معرفت ګوره له یار سره دا دي
بې له ځانه به یار وینې هم اشنا
وائې غوست بوقلمیون کمیس "احمده"
نه دي رنګ له بله رنګ یک تنها

راسه راسه مرحبا! ته له خدایه غوښتې ما
همیشه مي یادولې! اې ځما د زړه صفا
آراسته که په دنیا یم زه بې څو کوم بې تا
همیشه زاري دعا کړم چه مي تل وای دلربا
مرګي ښه دی په دنیا کي نه چه څوک سي بې وفا
سر په تیغ پریکړی ښه دي تر بې پته په دنیا
چه زه سر په بورجل کښیږدم نور به څه کړې راته وا
چه ئې سر په مینه کیښود هغو یووړه محبوبا
چه مي مینه یادوله تیر تر ځان وم لا پخوا
اې دلبره زړه به ښه کړې که ته واروې دا زما
"احمد شاه" ته دواړه سرایه
په کار ندي بې له تا

چه معشوق عاشق ته وایې بې حیا[1]
بی حیاء دی عاشق نه وي بې ثنا
دا د عشق په اور صیقل د عاشق زړه دی
په هیڅ شي به دي نور نشي نا صفا
لیونی به د صحرا و لور ته راسي
که پر راسي ستا له مخه یو ضیا

۱. ب

که دستګیری مي دا ستا زلفیني نشوې
تل به یم د فقیرۍ په انزوا
هر یو زړه چه په مژګانو ستا زخمي شو
بې دا ستا له سترګو نه ویني شفا
چه په څه یار راضي کیږي "احمد شاهه"
که په سر وي که په مال وي ځموږ رضا

دا چه زړه مي ډیر ویېږي مصطفی "ع"[1]
په ثنا دي تل نازیږي مصطفی "ع"
چه ثنا کړم دا ثنا به همیش ستا کړم
رنځور زړه مي پر رغیږي مصطفی "ع"
دا نظر پر موږه باندی د ښه خدای وو
چه په نوم دي زړه صافیږي مصطفی "ع"
چه درود د خدای پر تار راغي رسوله
وسکه زره مي هوسیږي مصطفی "ع"
ستا امت نن فخر کا په تا نازیږي
ټول امت به در خلاصیږي مصطفی "ع"
"احمد شاه" به بیا هله د زړه هوس کا
ستا لمن تې لاس رسیږي مصطفی "ع"

ته چي ما ته وایې اې دلبره بې وفا[2]
ولي ته نه ګورې دغه خپل جور او جفا

۱. ب
۲. ب

زه بې وفا نه یم ستا په عشق کې که باور کړې
واغوسته لاله ځما له وینو سر و پا
واړه راز ځما د زړه و تا وته څرګند دي
پټ چه له تا ندی زه ئې څه کوم اخفا
ستا د دربار خاوري لوی شرف هسي پوهیږم
هر چه خاکساري کا مشرف سو سر تا پا
ستا له حسنه یاره د بل حسن نه سمیږي
کله برابر دی د ارذالو شرفا
ته مهر و وفا کړه له بیدله تل تر تله
څه ګوري دلبره د "احمد" مینه وفا

که زه نور یم ستا د کور یم محبوبا[1]
هسي نه چه د پیغور یم محبوبا
نه د اصل لاف کوم نه د خبرو
اور لړونی ستا د اور یم محبوبا
که دا ستا نظر پر ما وي تر نمر لوی یم
که نظر کړي همبره نور یم محبوبا
که قدم ځما پر سر ږدې اې دلبره!
زه خو خاوري ستا د لور یم محبوبا
چه قدم مي ستا د خیال په خاطر راسي
زه خو ستا د خیال انځور یم محبوبا
زه پدا له نور عالمه بیګانه شوم
چه له زړه په عشق خمسور یم محبوبا

۱. ب

له "احمده" مه غواړه بې وفايې
ستا په مينه سره تور يم محبوبا

ستا له ميني په عالم کی سوم رسوا[1]
لږ و ډير خو د زړه حال و ما ته وا
چه دي حسن له دنيا څخه عروج کړ
ګڼه ځما خټه خمير وه په عشق ستا
تور طالع به ځما سپين پر دنيا نشي
مګر ستا ميني پر وکړه تجلا
نور د حسن دي تمام له ځانه بيل کړم
ځکه نور د جهان نه وينم بې تا
چه مي زړه هسي دا ستا د نور دفتر شو
دغه زړه په زړه خبر کړم لا پخوا
"احمد شاه" هميشه خوښ اوسه له خدايه
چه مرآت د زړه دي خدای کړه محبوبا

# (ب)

لاس و ما وه ته په ورو راوړه طبيب[2]
مهر وکړه حال مي وګوره حبيب!

---

۱. ب
۲. دا بدله په (ب) نسخه کي نسته.

وسکه زړه ځما هر ګوره ډیر خوږیږي
له قسمته آشناي نه ویني قریب
دا په حسن ډیره ډیره ښایسته ده
زړه مي ځکه څله کاندي بې ترتیب
محبوبا که په خوله ډیر کوي دادونه
ولي هر څوک بخر مومي له نصیب
که هر څو ورته کوم ډیري زاری
راته وایي مکړه غم، ستا یم غریب
که زه زړه ور ځني پریکړم نه پریکیږی
چه دا ډیره ده په اصل کي نجیب[1]
توري زلفې پر سپین مخ باندي ځړیږي
په ښایست ده شوخ و شنګه خوش ترکیب
چه دلبرو ته خدای حسن د ګل ورکړ
ترو به ولي چیغار نکا عندلیب
"د احمد" اروا طوطی کا چیغارونه
د اشنا له ملکه راغي بیا نه سیب[2]

ستا خمارو سترګو مست کړم بې شراب
ځکه ګرزم مست او تر هسي بې تاب
خپل نصیب مي هسی وویل و ما ته
خلاص به نسې ته د میني له ګرداب

۱. دا کلمه او د وروسته بیت آخرنۍ کلمه په پاي کي (ه) لري مګر فقط د ضرورت له جهته ئې په زور اکتفا شوې ده.
۲. په اوسنۍ املا (بیا نه سي به) یعني بیا به نه سي چه مطلب ئې دا دي بیا به ولاړ نسي، په (پ) نسخه کي (بیا نصیب) هم راغلی دي.

د ساقي پر خوا فرار کړه له وطنه
ځو به سوی سینه ته ګرزي کباب
د دې زړه له حاله څه وایم و چا ته
واروه غوږ دي نژدې ونیسه رباب
په خلوت کې یار لما سره جوړ شوی
زړه مي ریږدی له رقیبه زړه خراب
تل چه هسي ته په ځان باندي غره وې
د اوبو پر سر خراب ګرزه حباب
محبوبه مي له ازله ښایسته ده:
په ښایست ئې سیالي څو کوې مهتاب

بڼغ په ورو کوه رباب	دا به ویښه شي له خواب
که دی ویښه کړه له خواب	دا د زړونو ده قصاب
څه سیالي کوې مهتاب	چه ښایست لري نایاب
په ښایست وه انتخاب	هم خوشبویه تر ګلاب
د رحمت لویه سحاب
"د احمد" زړه کړه سیراب

اې دلبره په طلب یم ستا د لب[1]
پــه رشــتـیا نــه پـه دروغ یم مـذبـذب
زه غریق د خپلو اوښیو په دریاب یم
بیا پدا دریاب کې تږي لکه کب
عاشقۍ مي و زړه هسي صافی ورکړه
بې صورت، صورت د یار وینم عجب

---

[1] ب

دا د عشق بازار د سر دي ځما جانه
ګوره ندی دا بازار بیا په نسب
بې زحمته راحت ندی چا موندلي
د مچۍ په دود له ځانه خوره رطب
چه د عشق په ژرنده ووړ شي له نګاره:
د حنا په دود به یو سي خپل مصلب
ستا د حسن ادب مي ولیده په سترګو
ځکه زه "احمد شاه" ناست یم په ادب

پر اوبو چه ته غره ګرزې حباب
د دنیا عمر دي کوم دی بې حساب!
که یو دم ته پخپل ځان سره غره سې
لاس خالي به سې د کبر له شراب
لږکی فهم فکر وکړه چه ته څه یې؟
له هستۍ به په نیستۍ سې ژر خراب
دغه خپله هستي ستا په ځان بلا ده
ته ځان نیست کړه چه روښان سې تر مهتاب
د معشوق لوری دي هیر کړ بې خبره
د خفاش په څیر ته ړوند شوې له آفتاب
ته په تنده د یار څو ګرزې "احمده"
طلب کړه چه له دید نه شې سیراب

زه به هم ستا سم مرغوب؟ ای د چا کوزړ و محبوب!
پخپل ځان به دریغ ونکړم که خبر سوم له اسلوب
په دیدن چه څوک غالب سي اندیښنې ئې کړي مغلوب

شپه او ورځ وي پطلب کي طالب غواړي خپل مطلوب
چه مین سي "احمد شاهه"!
څوک قیاس کا زشت له خوب؟

# (ت)

محبوبا ووته ښکارتَ[۱] بیا دا نه ګوري ولارتَ
څو پوره مدعا نه کا را به نه یشي په بیارتَ
چه د خیال توسن دا زین کا په دماغ نه ګوري یارتَ
د سرونو ښکار به وکا بیا به راسي و بازارتَ
جوړ به حسن آراسته کا د دیو زړونو و ناتارتَ
د ښایست تعریف ئې نسي هک حیران یم و دې کارتَ
چه محبوب په سترګو ویني وزګار چیري و خپل چارتَ
عشق خو دا رنګه څیز نه دي چه محتاج وي و مقدارتَ
د بلبل په دودي ئې عمر چه ثنا کړي و ګلزارتَ
د سر سترګي پر ګل باسي تحمل نکا و خارتَ
زړه به څرنګه دریږي دا د زلفو و تور مارتَ
څه ضعیف تن ئې "احمده"
حیران ستا و درانه بارتَ

۱. ت په اوسنۍ املا (ته) لیکي، مګر په اصلی نسخو کي په زور لیکلې ده نو دپاره د امتیاز له ضمیر مخاطب څخه موږ پر خپل حال پریښووه.

ځه به وایم دلرباتَ خود خبره له حالاتَ
زړه مي یاره پدا چوي رقیب لور ښئي و ماتَ
یاره ستا په کوڅه پروت یم ستا ستم وایم و چاتَ
که هر څو رقیب رهزن دی لاس نه اخلم له حیاتَ
آشنائي څما حیات دی د حیاته ځم بقاتَ
په آشنا به خبر نه سم څو خبر نه سم له ذاتَ
که له خپلي خودئ تیر سم خود به زه سمه مرآتَ
معرفت مي به روزی سي که فاني شوم و فناتَ
دا د یار مینه خوږه ده په پریکړي سر ده زیاتَ
عاشقان په عشق ژوندی دي غافلان ګڼه امواتَ
عاشقان چه سر فاني کا فاني خود وکا اثباتَ

سر فاني کړه ''احمد شاه''
یار به ووینې مخ راتَ

نن چه یار ګوري و ماتَ بیا د بخت مخ دي دې خواتَ
پدا بخت به هوسیږم چه دلبر وینم مخ راتَ
څما بخت نه دي نور څه دي؟ چه منظور یم دلرباتَ
هغه داغ چه مي د زړه وو اوس ئې ورکړ و لا لاتَ
نن ګلزار څما په لاس دي خبر وړه باده شیداتَ
چه مړوند څما په لاس دي ځاي به ور نکړم چوړاتَ
و رقیب ته وایه راسه مخ دی تور کوټه دي ماتَ
د یار وصل مي روزي سو ستا دی مخ سي و بلاتَ

''احمد شاه'' دا دي بخت دی
چه نن یار ګوري و تاتَ

بې وفا دغه دنیا د غم درياب ده
په هر لوري موج وهينه بې حاجتَ
د دنيا مينه ته پريږده و اغيار ته
د عاشق خو ياد د يار د زړه راحتَ
هر چه سر د يار د ميني په لار پرې کا
د هغو له ياره خود سي دلالتَ
که د زړه پيژاند ګلوي شوه ستا له ياره
د ظاهر سبق به پريږدې نهايتَ
"احمد شاه" که ته د يار په مرضي کار کړې
ځان به خلاص کړې ته د نفس له سياستَ

هغه څوک چه مي محتاج سی ستا و ورتَ
د هغو به څه اميد وي و بل سرتَ
څه اميد به دي و بل طرف ته کاندي
چه توبری ئې پريوتلي و ځګرتَ
د ذرې په دود چه ستا د مخ په نمر شو
هغه زړه به څه نظر کا و بشرتَ
زره شان چه ستا د مخ په نمر فاني شو
دی باقی دي که فاني شو ستا نظرتَ
و خواږه ته د دنيا به څه نظر کا
چه نظر وي ستا د لبو و شکرتَ
چه صورت نه وي پکار پر تا مين سي
سر چه پريوزي سترګی ګوري بيا صورتَ
"احمد" څه شو که و يار ته سر تاوان کا
تر يار پوري بيګانه دی و خپل سرتَ

لمبې راغلې د عشق سرتَ[1] څه به ګورم و بل سرتَ
بیا له ځانه ئې بې ځان کړم سوم حیران و دا اثرتَ
چه و نمر سپوږمۍ ته ګورم نه رسیږي ستا بشرتَ
د عشق راز په ځان خبر کړم ځان بې ځان و دا خبرتَ
د باغ سبر کله رسي؟ ستا د ښه قد و نښترتَ
کږې ورځې ئې محراب دي
"احمد" وګوره دلبرتَ

ته لږ وګوره ځما د زړه واورتَ[2]
طاقت نه لرم دا ستا د عشق و زورتَ
دوه مین چه ئې یو حال سره شریک وي
حیف دي دا چه دغه حال وایي و نورتَ
هغه زړه چه ستا په عشق سره رسوا شو
التفات نکا د خلقو و پیغورتَ
چه په عشق د عاشق زړه له کوره بیل سي
بیا ئې میل هر ګز نسي و خپل کورتَ
د عاشق قدر دي وي پر تا دلبره
چه خپل ځان ئې دي تړلی و دې تورتَ
"احمد شاهه" ته په پټې سترګې دورمه
څه به ګورې د دنیا و شرو شورتَ

---
۱. ب
۲. ب

# (ث)

هيڅ خبر نه يم له دله الغياث
نه مي زړه شته، يم بيدله الغياث
که آشناي وته وګورم نه پوهيږم
خيژي سوړ آه له کوګله الغياث
دا د زړه ملک چه ئې ونيوه بې جنګه
بيا په زور رضا کوله الغياث
مهرويان که قسم وخوري څه باور دي
خلقه ئې وسيځله الغياث
"احمد شاه" د حسن زور دي چا سهلي
هر عاشق ناره وهله الغياث

د هجران له لاسه داغ يم الغياث[1]
په افسوس د زړه ...[2] يم الغياث
په وصال کي يې قرين وم د بلبلو
په هجران قرين د زاغ يم الغياث
ښه هوس ځما د زړه د يار د مخ وو
بې له ياره بې فراغ يم الغياث
مخ د يار لکه ډيوه هجران مي شپه ده
په دا شپه اوس بې څراغ يم الغياث

---

۱. ب
۲. دا کلمه په اصلي نسخه کي نه ويله کيږي، په نورو نسخو کي نسته، چه ځني تصحيح شوې واى.

اور د هجر تر دماغه پوري راغی
په سامان کي بې دماغ يم الغياث
زړه ځما لکه بورا په زړه تپيږي
تل د ګلو په سراغ يم الغياث
"احمد شاه" ځما پر حال نکړي پوښتنه
په زړه داغ لاله د راغ يم الغياث

# (ج)

دا د زلفو له تاراج اخلي سر و مال په باج
که ته سرو و مال کښيږدې دا په هيڅ نه ده محتاج
تعلق د زلفو هسي مين کورته نشي اخراج
مينه خيري په لاس راوړې که سل حجه وکړې حاج
نه په زرو نه په زور سي بادشاهان باسي له تاج
چه د حسن قافلې ځي څه پروا ئې له خراج
حسن رنګ په رنګ جلوه کا خريد کوي د زړه له ناج[1]
"احمد شاهه" حيرانيږم
عشق نکړم بې احتياج

[1]. د ناج کلمه کټ مټ وليکله شوه حل غواري.

ځما دله په دیدن د یار محتاج[1]
د یار میني و ایستې له احتیاج
کوم عاشق دي چه رواج د دنیا کاندي
چه ستا مینه سړی باسي له رواج
عشق یو اور دي له دلبره پیدا کیږي
هسي نه چه پیدا کیږي له مزاج
کوم کاروان دي چه به بې خراجه درومي
یو د عشق کاروان دي درومي بې خراج
د آشنای سترګي دي باز زړه مي دراج دي
مخامخ له بازه کله شي دراج
"احمد شاه" چه و خپل یار ته ځان تسلیم کړ
غم به نکړي د دنیا له تخت و تاج

# (چ)

خدای دي ورک کړه د ناسوت د غولي مچ
چه هیڅ خوله به پاته نه وي ستا له مچ[2]
چه پر زخم دي مقام سي نو هغه به
تل تر تل په غم اخته وي ستا له رچ[3]

۱. ب
۲. په دې بیت کي تجنیس دي، لمړی مچ (مکس) دوهم مچ (بوسه).
۳. د اودنکو ږمنځ، چه د اودلو پر وخت کار ځني اخلي، یا ریچه.

درست جهان دي يو د بله سره ګنګ کړ
ستا لا خوله نه سي له بدو ځني وچ
درست عالم په تا مردار او هم خراب دي
له ارمانه دي لا لاس موړې له غچ
اې غافله دا د مچ خويونه پرېږده
دا بينا سترګي دي خلاصي کړه له لچ
ته بنده يې خدای وغواړه بل مه غواره
بې له خدايه ژوندون کم ګڼه تر پچ
هم يقين او هم باور در سره واخله
د ګمان خونه دي سپينه کړه له ګچ
کميني او عاجزي د تا کمال ده
د نفس تند خويونه مه واخله له مرچ
هغه خپل اصل به ته هله بيا مومې
چه د کبر غاړه وباسې له خرچ
"احمد شاهه" د همت توره در واخله
نفس شيطان کافر دي وباسه له کچ[1]

که می خلاص کړې د رقيب له بده غچ[2]
چه بد درد ئې دي بهتر تر بده لچ
د غماز لويی پتا ده اې دلبره!
ګڼه دی په اصل سپک دي لا تر پچ

١. کچ د کراچی جنوب ته يوه جزيره ده، چه پخوا د پښتنو فاتحينو په لاس کي وه. په دغه بدله کي (وچه، پچه) چه دواړه مؤنثي کلمې دي، د ضرورت له پلوه بې (ه) ليکلی شوي دي.
٢. ب

دا اغیار یې بیا په ځان سره ژر پوه شي
که په خوله ئې کړه د غم د لاس خمچ
دا ستا غم په مثل غوچ په مخه راغي
څو به ځان ژغورم دا ستا د غم له غوچ
د عاشق صورت به ولي نیږی نه وي
چه ستا غم ئې په صورت شو لکه رچ
د عشق اور مي په سر کښیوت نه پوهیږم
که بیلتون مي د خاطر ریښه کړه وچ
که "احمد" بادشاه د یار په ور قبول سي
څه پروا کا د رقیب له دې لالچ

# (ح)

اې د عشق د ښار فتوح ښه راغلې ته ځما روح!
ځما ستا سره وعده وه چه دا نفس به کړو مذبوح
نفس په منځ ځموږ رقیب دي نصیحت سي له نصوح
په معنی به سره پو شو معنی ځما ده ستا اې روح!
که مي اصل په لاس راغي اصل به وصل سي مشروح
که د اصل خبر واخلې
دا تیاره به سي صبوح

زړه درد من په هغه درد چه له صباح[1]
ځکه دی په اوښیو غرق دي تر رواح
هر سړی له خپله چا نه صلاح کاندی
بې عاشقه چه له چا نکا صلاح
د اشنا له غمه سترګي ځما رودونه
بیا بې سترګو نور څوک نه وینم ملاح
دا صورت لکه قفس زړه مي طوطي شو
خلاص به نشي څو نه وي د عشق جناح
د یقین ډیوه د عشق پر لار پیدا کړه
په تور تم کي دا یقین د زړه فلاح
نور عالم که نوره مدحه د جنت کا
"احمد شاه" دي د خپل یار دور مداح

## (خ)

د یقین په غشي وله د ګمان رخ
د ګمان رخ وي په هر دانا منسوخ
څو دي لاس وي ځما وروره صرفه مکړه
دا دي نفس رقیب دی و باسه له ټوخ
هر دانا د بل نادان خبره پند کا
هر نادان به د دانا خبروي ستوخ

---
۱. ب

که صفا کړې خپل باطن ځما لالیه
د معنی ګوهر به بیل کړې له کلوخ
تکبر دي له شیطانه مه ئې نغوړه
چه په کبر به شروچ کړې لکه لوخ
"شاه احمده" ته رشتیا هر چا ته مکړه
چه رشتیا خبر په هر چا لګي زموخ

په تورتم په روڼا درومم ستا د مخ[1]
جهان زیب کا چه د چا دي دا ګلرخ
دا د حسن جذبې هسي په ځان یو وړم
چه بې یاره نور نه وینم د چا رخ
د زړه ګل یاره په لاس در لره راغلم
چیري نه وي چه دښمن کا پر تا ستخ
خپل نظر که چیري قیاس کړې اې دلبره
و شهباز ته ګوره څه دي خوار ملخ
نسیم بوي د لونګین و ما ته راوړ
دغه هسي بوي د چا دي په زړه سخ
که هر څو خپل ځان ژغورمه نه ژغوریږي
بې له تا به څوک رقیب کا له ما چخ
"احمد شاهه" ورځ هغه له یاره غواړه
چه رقیب مدعی وباسي له مخ

---
۱. ب

## (ځ)

د هغو چه نه قرار وي، نه آرام په شپه او ورځ[1]
نه ئې وي له څپله یاره، ښه کلام په شپه او ورځ
زړه به سي ذرې ذرې، لکه ښیښه د غم په غروړو
یا به مړ شي که ئې نه وي، د لب جام په شپه او ورځ
شپه او ورځ په هیله ستا دي، که وګورې اې دلبره!
د عاشق عمر تیریږي، څه ناکام په شپه او ورځ
که دي خال په زړګی داغ کړم، تا به یاد کړم اې صنمه
دغه ستا نخښه ګڼمه، ستا پیغام په شپه او ورځ
ګرزیده له تا اشنایه، جوړ په مثل د زړه کفر
هغه څوک دي چه په کفر، کړی مقام په شپه او ورځ
د "احمدبادشاه" زړګی به هم پدا سره خوښیږي
چه د خپل دلدار صفت کاندي تمام په شپه او ورځ

## (د)

شهسواره له سمند عجب راغله سپین مړوند
ده زیرکه خود پسند هم له عقله دانشمند
مخامخ دغه دی راغله د چا خون ته آرزومند
د اختیار پر میدان کاندي جنګ په وروځیو له دردمند

---

۱. ب

چه پیزوان ئې سرې لمبې کا　　　زړه سیځي لکه سپند
توري زلفي پر مخ زانګي　　　څوک به خلاص شي له کمند
نه ده پټه چه مخ پټ کا　　　تل ئې حسن دي څرګند
صنوبر به لا خجل کا　　　چه ښکاره کړی قد بلند
خو ویل ئې زړونه خپل کا　　　خوله ئې ډکه ده د قند
چه ته داد د خولې پر وکړې
"احمد شاه" کړې سر بلند

خسته زړونه آلوده دي محمد (ص)
نظر وکړه چه پوده دي محمد (ص)
په نظر د تا چي خاوري سره زر کیږي
نظر کړه زړونه زده دي محمد (ص)
که دا نفس و شیطان ډیر کوي جنګونه
ستا اعلي را سره دي محمد (ص)
زه له نفسه له شیطانه نه ویریږم
ستا نومونه مي کره دي محمد (ص)
دښمانان دی کښیوتلي په دوزخ کي
تر قیامته شرمنده دي محمد (ص)
دا یاران د تا ګلونه د بهار دي
هم پخپل علم پوره دي محمد (ص)
عالم واړه ستا له نوره پیدا شوي
ځني زر ځني جیوه دي محمد (ص)
د "احمد" لاس په غه سخته ورځ ونیسه
اوښي ویني مي سره دی محمد (ص)

# (ړ)

د بلبلو په ځاي مه واى هيڅ زاغان ګړ
په بوستان د ګلو تل واى دا ياران ګړ
ګل چه بې د يار له مخه ليده کيږي
جوړ د سترګو نظر وي په خارستان ګړ
ګلستان د يار له مخه سره زيب کا
بې له ياره مکړي زړه په ګلستان ګړ
غه[1] اوره چه د کرم اوبه ئې نه وي
غه اوره مکړې په مخ د دې آسمان ګړ
تار د زلفو چه ئې پريوزى په مخ باندي
بې له سره نه وينمه بل تاوان ګړ
د يار مخ دى لکه ګل مړاوي ئې مکړې
دغه ګل دى تل تازه وي په بوستان ګړ
د خزان باد چه هر کله ګل پريشان کا
کشکى دا باد کړي سړى په نارستان ګړ
"احمد شاه" د بيلتانه غمونو سوى:
بيا کړې دى ته په ټوليو د ياران ګړ!!

---

١. غه مخفف د هغه دى.

# (ذ)

خوښ په مینه یم ترخه ده یا لذیذ[1]
ما خو مینه ده څکلیه ستا لذیذ
عاشقی که ده په بخره د رندانو
په رندي کي وړې ما ده بیا لذیذ
که پیاله د زهرو وي هم د شکرو
زه د زهرو پیاله اخلم دا لذیذ
که ترخه پیاله ښه نه وای د شرابو
چا به څه کړه د ساقی مینا لذیذ
چه د ګلو بوی لري رنګ ئې د میو
ساقي راکړه هسي جام و ما لذیذ
ته هم غوږ په ترانه کړه اې مطربه!
ښه په ما لګي د تا صدا لذیذ
دغه نفس به د پتنګ په څیر پر کښېږدم
عشق که اور دی تر ګلزار پر ما لذیذ
که د میني په اور مړ شوم باري څه شو
چه پر ما تر ژوندون مرګ دي لا لذیذ
که مي ژوند پر اشنا باندي فنا کیږي
دا فنا پر ما تر دا بقا لذیذ
آشنائي او غم سره دي له ازله
"شاه احمد" د یار غم پر ما لذیذ

---

۱. د دې بدلي د پاي کلمات اکثر د تأنیت هې غواړي، مګر د پاره د حفظ د قافیې پر خپل حال پرېښو شوه.

# (ر)

شو کرم د کردګار
بیا ئې نوی کړ بهار
ګل جهان به آراسته کا
پرې بلبل به کا چغار
بڼ بڼ رایشه مینه!
ته وګوره لاله زار
چمن خپل ځان آرائي کا
د بلبلو پرې کوکار
باغوان خپله باغواني کا
عاشق بند دی په رخسار
هغه باد پر یار را مه سه
چه ئې زلفي کا تار تار
د خزان باد دي تاړه سي
چه بلبل بسي په خوار
جدائي سخته بلا ده
چه بې یاره وي بیمار
د بلبل خو ګل په کار دي
ژوند بې یاره څه په کار؟
دغه شمعه چه خندا کا
پتنګ ولي ناقرار؟
وایي دا ځما دیدن دي
چه کړم ځان باندي نثار
نن د یار پر پت چه مړ سم
سبا نه یم خوار و زار
پر یار مرګ دي ځما بخره
هم مي وصل هم دیدار
که بورا ده په ژوند خوښه
د دې عمر نا بکار
پر یوه سکونت نکا
د هر ګل ده یا زغار
دا عاشق مه سه دو بینه
دوبیني په عشق کي عار
بوراوی د ګل مین یم
چه ګل دي په څیر د یار
مدعا د هر چا یار دي
ګل بڼه دی د دلدار
د هر چا وطن یادیږي
ځکه زاښي کا کوکار
ډیر دي وویل ”احمده“
له ویلو شه قرار
مرګه وار ورکړه ”احمد“ ته
چه رقیب کا په ناتار

که پر یار مین ئې ډېر    نسي زړه مين پرې سير
که پر یار زه برابر سم    خراب زړه نه سي دلير
مخامخ راته ولاړه    نسوه وړېږي سترګه سير
د یار مینه ده ګلونه    د اغيار مينه ګنډېر
زړه مي. دغه شها وړی    پر ګردن څينې چاپير
دا په حسن ښايسته ده    هم تر درست جهان را
تير"احمد شاهه" ته نو بس کړه
بې له یاره کړه نور هير

دواړه جار شه تر دلبر    هم مي سر هم مي کشور
زړه مي دغي ښکلي وړی    چه څليږي لکه نمر
مينان ئې په اور سوي    سور پيزوان لکه اخګر
زړه ته کله پند وايه سي    مخ ئې نمر غاښ ئې ګوهر
طراري او هم شوخي کا    لاس ئې توري وهی سر
په سرونو صرفه نکړي    د عاشق. کاږي څګر
که د یار په عشق سر کښيږدي
"احمد" هاله کا اختر

وريځ راغله د بهار    ټول جهان به کي ګلزار
څه زړګی مي هيوسيږي    بيا به ګل و کاندي خار
ښاخ د خار کا سره ګلونه    دا قدرت د کردګار
د قدرت اوبه ئې ورکړې    وچ ښاخونه کړي اثمار
هيڅ نښان د ثمر نه وي    سي په څو رنګه اظهار
له قدرته ئې نازيږم    غر سي ډک هم له اشجار
چه جهان په تازه کيږي    تل دی اوسي دا بهار

"احمد شاه" شپه ورځ ثنا کړه
عقل څه رسي په کار؟

بیا د جنګ په شان راغلې زه پوهیږم ستا په طور[1]
د عاشق کور به تالا کړې، څه پروا لرې د جور
د مخ حسن دي آفتاب غندي، شعلې کا په ملکونه
د هر ملک تیاره شوه ورکه، یاره ستا د مخ په دور
که دي حسن بیا په ښکلي څیر ښکاره کړ اې دلبره
د باغ ګل به قدمبوس ته خوله غنچه کاندی بالفور
سرې لمبې دي د پیزوان لکه بریښنا په زړه خنجر شوې
اوربل واخله که به کړې ته د دې سوي زړګي غور
که له غره پریوزی سړی ژر ژر ولاړ سي نه ویریږي
هسي رنګ لکه ویریږي عاشق ستا په هورزور[2]
د عاشق په زړه به بیا منګلي سرې کړې پرې پوهیږم
چه د خیال شاهین دي هسي شان زه وینم لکه بور[3]
"احمد شاهه" که دي یار ته سر په مځکه دي ښائیږی
چه د یار د مخ آفتاب دی جلو کا په څه ښه طور

| | |
|---|---|
| که شاهی ده که مي سر | ټول به جار کړم تر دلبر |
| راته یو دی بحر و بر | څه که سمه وي که غر |

---

۱. ب
۲. یعني منت او جفا خوشحال خان خټک وائي: مینه د مجنون په لیلا شوه ډیره ډیره ـ څو به چه عالم ورباندي وکړه هورزور.
۳. یعني پړانګ، پلنګ لکه چه خوشحال خان خټک هم ویلی دي: بار در باندي مه وه زه هم زړه لرم ویریږم ـ باز خوري د زړه غوښی یا ئې ته خورې یا ئې بور.

په همت به ئې تسخير کړم شاهانه په شان و فر
که مي زړه دی که ځکر دواړه وريت دي په اخگر
توری خاوري ستا د ور دی توتيا ځا د بصر
نه مجنون يم نه اوتر عشق دي کړم په ځان خبر
"احمد" شو په ځان خبر
خاوري شو د يار دور

نه رغيږي په دوا ځما ځګر
مګر پيښ سي د خوبانو يو نظر
عاشقي ده لکه غرونه پر ما باندي
د دې غرونو څه طاقت دي د بشر
زيب د ګلو چه مي چيری په خيال راسي
نه په آب ستا له رخساره برابر
د خطا هوسۍ په خلقو کي ياديږي
ولي ستا زلفو جهان کړ معطر
چه ئې ستا په زنخدان باندي نظر وي
هغه کله نظر کاندی پر کوثر
د "احمد" د زړه مدار هم پدا کيږي
چه مدام ذکر ثنا کا د دلبر

## (ړ)

ځما زړه ګوره چا یووړ — په دوو زلفو لیلا یووړ
ځکه دی سو بې آرامه — چه له ما محبوبا یووړ
مخ یې نمر راته تاویږي — زړه ذره نمر ګویا یووړ
که می زړه ته نصیحت کړ — درد بې پنده لما یووړ
د جهان پر مخ ئې مخ کړ — مخ ئې مخ د دنیا یووړ
چه په خپل قوت غره وم — تا قوت په تالا یووړ
دا کتاب ځما د سترګو — سیلابو د ژړا یووړ
څه بازار چه مي د زړه و — نن ستا حسن په غلا یووړ
حسن باج د چا ورنکړ — ده جهان په یغما یووړ
ما ویل چه مینه نکړم — زړه بې واکه شها یووړ
مینه نه وي چه آرام وي — ځما د زړه آرام تا یووړ
قراري د زړه مي نسته — بې قرار زلفو ستا یووړ
دلاور د یار په مخ وم — زړه حیا بې حیا یووړ

دا تمام عالم ښادي کا
"احمد" غم د اشنا یووړ

په قدرت دی ګل کړ جوړ — بیا په لبږ عمر کي زوړ
چه چمن په ده ښایسته و — اوس ئې باد وړی لکه پروړ
په کوم صبر دي صبور کړ — غه بلبل چه ئې غم خوړ
په لیدو ئې مړتیا نشوه — اوس د یار غمو کړ موړ
لکه ګرز هسي ئې وکړ — بیلتانه په ژونده ووړ

هیڅ یاري بې غمه نه وي
په یاري زړه نشوې سوړ

# (ز)

که پټ ووایم څه راز
کور دي ورک سي د غماز
ما لا حال ویلي نه وي
بیا د ده په خوله آغاز
په مطلب ئې نه پوهیږم
سریکار ئې دي له آز
و دلبر ته حیرانیږم
چه د ده په خوله کا ساز
که یار وګوري و ما ته
بیا به ما کړي سرفراز
دا په زړونو مړه نشوه
زړه خوري کا لکه باز
شها ګله شوه لا کله
چا ته نه ګوري له ناز
که سختی کړي یار "احمده"
په سختی اوسه سر باز

# (ږ)

اې رقیبه باسه غوږ
درته وایم په لوړ غږ
ځما ستا دښمني تل وه
هسي نه چه وشوه سږ
همیشه غواړم چه کړمه
ستا پر غاړه چاړه جږ

بد خويي ده ستا له ذاته          د   ليوه   لړې   اورمېږ
چه د سپی په دود تل غاپې          زړونه مات کړې په ډېر زوږ
له "احمده" څخه لاس واخله
دی د توری دي دروږ

# (س)

ای څما زهيره نس![1]          څه خفه يې له نفس
په اشنای پسې تلاښ کړه          څو دي لاس وی له دسترس
پچاوڼ خپله بوريا کړه[2]          لاس کوتاه کړه له بکرس
د مکې شرف دي بيا موند          بزرګی ستا توره اطلس
اور په ځان باندی قبول کړه          هنر زده کړه له ککنس
سر زکوة کړه نور به خلاص سې          د ناسوت. له دې قفس
تور وربل ئې د مخ واخيست
"احمد" خاندي له هوس

---

۱. ب
۲. په دې بيت کی پچاوڼ د خونی لوی فرش ته وايي او بکرس کټ مټ وليکل شو، حل غواړي.

## (ش)

که په زړه کې مې لږ ډېر وي څه دانش
یاره ستا مینه به زه نکړم الیش
شپه او ورځ پدا آرزو یم باور وکړه
که نصیب مې سي دا ستا د خولې خورش
په یارۍ کې یاره تول د زړونو نشې
تول هله سي چه په ذات کې لري غش
هیڅ متاع به ئې کوټه په بازار نشي
هر سالک چه ستا پر لار لري روش
د عاشق خپل رنګ شاهد دي بې له یاره
د عاشق و هیڅ ته نکا زړه تپش
خپل سر کوز ګوره تر هر چا که دانا یې
سر تیزی مکړه چه نسې سر زنش
"احمد شاهه" په تلاښ به یار نه مومې
څو چه نه وي د خپل یار له خوا کشش

## (ښ)

ګوره بیا په سره ګلزار کښ لاله رنګ په سپین رخسار کښ
لونګین ئې تل په غاړه بلبل مست کا په چیغار کښ
هوسیږم ورته ګورم خزان سوي په ناتار کښ

د وصال نوبت مي دا دي  نن د ګلو په بهار کښې
يار مي. ګل او ګلبدن دي  لکه زرکه په رفتار کښې
مخ ئې نمر غندی ځليږی  زلفی مښک دي په تاتار کښې
رنګارنګ ګلونه ډير دي  د بلبل عشق په ګلنار کښې
تا چه حسن د ګل واخيست  زړه به څه وي په قرار کښې
څه علاج څه ئې طاقت وي  چه شها سي په سينګار کښې
هميشه ئې روزګار دا دي  مين زړه نيسي په ښکار کښې
ليندۍ وروځی باڼو غشي  عاشق ولي په کنار کښې
ناري وکړه "احمد شاهه"
د روغ خوي نسته بيمار کښې

ستا په رنګ به بل يو نه وي په جهان کښې
پلو واخله يار به مړ سي په ارمان کښې
هميشه سوي سينه در پسې ګرزم
چه ستا ځای نه دي په مځکه په اسمان کښې
قلندر يا به ملنګ پر جهان ګرزم
يا به اوښي تويوم پخپل ګريوان کښې
د سحر باده نسيمه! خبر راوړه
د زړه ګل مي خندا نکا په بوستان کښې
چه ناري کوم يا ژاړم، مراد مي دا دي
زړه بلبل واي ستا د مخ په ګلستان کښې
ستا د حسن له تاراجه زړه ژړا کا
چه بلبلی هم ژړا کا په خزان کښې
په جهان به زړه خلاص نه وي له تاراجه
زړونه سوځي عجب اور دي په پيزوان کښې

ملامت د خلقو هيڅ به پر ځان نړدي
په نارو عاشق ولاړ پدا ميدان کښ
په هيڅ جور او په جفا به لاس وا نخلم
"احمد شاهه" که زه جوړ وم په سامان کښ

د زړه ويني مي راغلی په ليمو کښ
د صورت نو مي ويليږی په غمو کښ
زړه مي ډيره ځله هيله د ديدن کا
د بدن د روح قوت دي په ليدو کښ
هميشه چه يار را ياد کړمه سوليږم
او د زړه آهونه کاږم په ساهو کښ
د سړو آهونو شمار به په څو وکړم
ځکه هر نفس مي خيژي په آهو کښ
د هجران اور دي بل سوي خدای دي نکا
مين زړونه به وسوځی په لمبو کښ
جدائي مثال د اور سهلاي نشم
جدائي لکه ميخونه ځي به زړو کښ
په شمال د بيلتانه به راضي نشم
زه په خوښ يم که وصال وي په اورو کښ
په وصال د يار به څرنګه جوړيږي
هغه زړه چه بيلتانه کړ په چرو کښ
نوم مه اخله د بيلتون ای "احمد شاهه"
له بيلتونه ريز مريز يم په هلو کښ

وړي له مخه ستا لاله په لالستان کښې
عجب زیب دی ستا د مخ په ګلستان کښې
ستا د مخ په څیر به نه وي که نظر کړم
ښایسته ګلونه واړه په بوستان کښې
ستا د شونډو د رطبو هسي خوند دي
چه دا خوند نسي مونده په نخلستان کښې
هسي شان دي ستا د ناستي اې دلبره
لکه ناسته د شهباز په کوهستان کښې
له رخساره دي په سرو سترګو تل ژاړي
د ارمان سینه ئې چاک په نارستان کښې
د شهلا سترګو رانجه دي شهلا واخیست
ځکه فخر کا شهلا په نرګستان کښې
د وصال آرزو ئې ویستم له خلقه
تش کوګل نارې وهم په نیستان کښې
"احمد شاه" که غواړې یاره اوربل واخله
د اوربل سیاهۍ کړ ورک په تور جهان کښې

د پیزوان له پټه تا به یم بیهوښ[1]
د سرو شونډو له شرابه یم بیهوښ
چه په خوب کي د خپل یار صورت ووینم
چه را ویښ شم بیا له خوابه، یم بیهوښ
چه دي بوی د کاکل راغي تر دماغه
ځکه هسي مست خرابه یم بیهوښ

---

۱. ب

ستا د حسن په ګلزار کې مخمور ناست يم
زه بلبل له دې ګلابه يم بيهوښ
چه نسيم په سهار بوي د زلفو راوړي
عندليب غندي بې تا به يم بيهوښ
د بورا په څير پر بوي د ګلو راغلم
د خزان له پيچ و تابه يم بيهوښ
"احمد شاه" چه مي ځان وليده حيران شوم
پخپل ځان کې له دې بابه يم بيهوښ

## (ص)

اې په مينه د اشنا دله رقاص
بې له دې ميني بيا کومه مينه خاص
چه په مينه دا د عشق پر لاره راغلې
پر دا لاره سر بازي ده د اخلاص
د معني در به له خپله دله واخلې
که ته پوه سې څوک چه ميني کړ غواص
بندګان دي د دې لاري که پوهيږې
په يقين سره د هري لاري خلاص
په خنجر د تورو سترګو ويني توی کا
دا په ذات کې بې پروا ده له قصاص
په اخلاص د جانان اوسه "احمد شاهه"
چه د زرو ځای به نه نيسي رصاص

## (ض)

هسي خوښ یم ستا د حسن له فیاض
چه بلبل به نه وي خوښ له ښه ریاض
همیشه به په رشتیني لاري دروهم
عاشقي هیڅکله نه سي له اغماض
زه به هله ستا په مینه سره پوه سم
که خبر سم ستا د میني له اغراض
هره شپه ځما له زړه سره وعده کړې
چه بیا درسمه کوې را څخه اعراض
که په رنځ د "احمد شاه" چیري نظر کړې
دی به خلاص سي اې طبیبه له امراض

## (ط)

نه دروغ کړي له رشتینو اختلاط
د رشتینو عشق د زړه دي ارتباط
چه د دوو تنو د میني نښت یو سي
نه پریکیږي، وي د عشق په انبساط
چه آرزو ئې د انګې لري په زړه کي
حذر وکړه مړده پښه بې احتیاط

دا چه زړه مي هوس کا د یار و لور ته
چيري نه وي پر دا لاري شي اسقاط
عاشقی ګویا یو اور دي چه بليږي
عاشقان ئې ځکه وسوه په افراط
ای "احمده" تا چه مينه پر ځان پور کړه
نو وفا کړه، د دنیا فاني رباط

## (ظ)

نفس غليم راته ولاړ دي ستا په لار یم یا حفيظ
تل په یاد ستا د بري دی انتظار یم یا حفيظ
چه مي نفس و شيطان دواړه په مثال لکه داور دي
زه خسته په داد وه اوره ګرفتار یم یا حفيظ
خپل عمل مي د زړه نسته چه به زه پدا غره یم
ځکه زه هميشه سر پدا ګفتار یم یا حفيظ
که دا ستا نظر پر ما وي ځما څه غم دی له اوره
ولي زه په ويره بيا د خپل کردار یم یا حفيظ
ته نظر کوه دلبره چه عالم در هوسيږي
که نظر را باندي نکړې زه په نار یم یا حفيظ
زه پخپل عشق هوسيږم چه په تا باندي مين یم
بې له تا نور نا اميده په هر چار یم یا حفيظ
"احمد شاه" به بيا هله پر دا سيالانو سر لوړی کا
که منظور په نظر ستا د لوي دربار یم یا حفيظ

## (ع)

نن می راوړ دا متاع        و به نکړم امتناع
د زلفین خرید به وکړم        که هر څو ده دا مناع
که مي سر پریکړې دلبره        و به نکړمه وداع
که په سر وي که په مال وي        وا به نه وړم دي مطاع
څو به مینه په نور چا کړم        چه دي کړی یم ابداع
زړه که وچوي ”احمده
وایه دا چه یې شجاع

همیشه دي ښه وینا بویه شفی
چه په ښه وینا عالم دی سي مطیع
بیا په هره وینا بویه ستا نظر وي
و پوهیږه وینا لږ معني رفیع
چه په ژبه هر سړی گرفتاریږي
فهم وکړه دا د عقل کرسۍ وسیع
که مي قهر کړ مغلوب عقل غالب کړ
نو د عقل تاج به لوړ وي له جمیع
مربی د هري چاري عقل هوښ دي
د ناپوهه ناپوهی په ځان تصدیع
د ”احمد“ ویل خوابږه دي غور وکړه
تر ښه بد ولي و تا ته شوه بدیع

عاشق مړ سو څو ئې اخلې اطلاع
چه ليده ئې ستا د مخ د ګل انواع
عاشق کا درته سر پيښ، که ئې قبول کړې
چه بې سره بله نه لري متاع
مزری زړونه دي چه تښتي ستا له مخه
چه په اصل کي په حسن يې شجاع
عاشقان به د دنيا تر ښادو تير سي
که حاصل ئې په ليدن سي انتفاع
زه "احمد" په زړه ذره يم ستا و مخ ته
که ښکاره کړې ستا د مخ د نمر شعاع

# (غ)

شيرين عمر چه تيريږي دريغه دريغ
د اوبو په څير بهيږي دريغه دريغ
ولی زړه په خبر نه دي له رفتنه
چه دا هسي ژر تيريږي دريغه دريغ
ولی هسي سوې بې غمه ځما دله
عمر باد غندي چليږي دريغه دريغ
که هر څو په نازو جوړي کړې ماڼۍ
په ارمان ځني پاتيږی دريغه دريغ

دريغه دريغه آخر دريغه ځما دله
چه مين ځله بيليږي دريغه دريغ
دا ياران لکه ګلونه د بهار دي
د خزان په تاو رژيږي دريغه دريغ
دا هجران مثال دوزخ بيلتون ډبري
د عاشق په سر لګيږي دريغه دريغ
که مقصود دي آشنائي ده بيلتون خپل کړه
ستا له لاسه در رسيږي دريغه دريغ
آشنائي په مثال ګل حاصل ئې خار دي
خار شي سخت هاله څرخيږي دريغه دريغ
"احمد شاه" به څه هوس کا وخت د غم دي
د بيلتون نوبت ږغيږی دريغه دريغ

څو به کرزم په دا سيل د هر باغ[1]
نه رغيږي بې ليدنه د زړه داغ
د بيلتون تياره ځما به روښا ورځ سي
چه ښکاره سي د اشناي د وصال څراغ
ستا په دم به مي دم روغ سي اې نسيمه!
که د يار له لوريه راوړې بيا سراغ
دا بلبل او زاغ په رنګ کي دواړه يو دی
بيا بلبل په خوي د عشق شو سر له زاغ
د خپل حسن ګل که ته پخپله بوي کړې
د عاشق په عشق به خوښ لري دماغ

۱. ب

د "احمد" و زړه ته کله ګوره
ستا له غمه هر ګز نه لري فراغ

زړه مي سوځي د بيلتون له سخته داغ
چه هميش مي لوګی خيژي له دماغ
که نسيم چيري د ګلو پر لور راسي
دا ويده بلبل به ويښ کاندي له باغ
زړه بلبل ځما ويده نه دي په سترګو
انتظار ئې و نسيم ته له سراغ
زه د اوښيو باران وورم غنچه خاندي
خدای دي نکا دا هوس د ګل له زاغ
زه "احمده" د يار پر لوري په سر درومم
د بيلتون په تياره هسي بې څراغ

## (ف)

ډيره څو کوې ته لاف — سينه کړه له زنګه صاف
ته ئې ميني ته پيدا کړې — ولي ځې ځني خلاف
د الف په دود سم بويه — ته کجي پريږده د کاف
بيا مدام پر تورو زلفو — شيرين سر دي کړه معاف
شاهانه درومې "احمده"
د بزرګانو په الطاف

عاشق ستا یم، ته پر ما وکړه الطاف
یم بې وزلی له عاجزو کړه انصاف
ځما لافه یاره ستا په یاري کیږي
بې له تا ده دا ځما لافه ګزاف
چه دا ستا د رخسار ګل په نظر راغي
زه بورا منع به نسم له طواق
ته هله پلو پر مخ نیسه دلبره
که ځما مینه پر تا وي بیا خلاف
په نظر په کاته ستا زه ډیر ویریږم
ستا کاته خنجر بیا وزي له غلاف
"احمد شاهه" له ارذالو احتراز کړه
د وفا ثمر به مومې له اشراف

# (ق)

کشکی مه وای په دنیا غم د فراق
چه ډوب نه وای زړه پدا یم د فراق
یار په مهر او په وفا نتلی مشه!
که نتلی دي عاشق غم د فراق
د عاشق زړګی به ولي زخمي نه وي
تیرې توري خوري په هر دم د فراق

اندیښنې لکه مارونه تر چاپیر سي
چه اغزي ئې سي په زړه سم د فراق
په دا تاو سره به غرونه هم اوبه سوه
که په راسي آتشګون دم د فراق
سبر قده سر نګون شوه "شاه احمده"
مشه ستا قامت په بار خم د فراق

زه عاشق ستا د دربار یم هم مشتاق[1]
پښپل قصد نه یم که ستا وي اشتیاق
که هر څو د نمر ښایست شو بیا ته ګوره
ستا پر حسن وي د زړونو اتفاق
همیشه په مهر ګوره و خپل یار ته
خوار عاشق مه وژنه یاره په فراق
بې له تا د عاشق څوک دي چه ئې ګوري
بې له تا ده پر عاشق دنیا طلاق
مخ د نمر او د سپوږمۍ ځکه زیړی سو
چه خبر شوه ستا د مخ په طمطراق
چه د عشق پر میدان پوښي څوک پوهیږي
په څه خیال سره دا ستا د خیال براق
که تر یاق څوک مار خوړلي لره غواړي
د "احمد بادشاه" د یار لیدل تر یاق

---

۱. ب

راشه تر سر تیر شه، اې په سره پېزوان عاشق[1]
سر پرېکړه پالنګ ته ځه د خپل جانان عاشق
ځي په ژوند و اور ته،، ځکه نوم د ده پتنګ سو
ځه په ژوند و اور ته اې په نارستان عاشق
راسه اې بلبله و وطن ته د سرو ګلو
درومه و بهار ته اې په ګلستان عاشق
مات کړه د صورت قفس طوطی له بنده خلاص کړه
درومه بڼ د عشق ته په دا باغستان عاشق
سير د معني کړه، دا خبري په زړه اوره
سه خاموش په حرف د "احمد شاه" پوهان عاشق!

# (ک)

نن عجب چست و چالاک | چه مين باسي له ژواک
که زه هر څو ورته ګورم | کاته زړه باسي له واک
چه خبر د زړه له حاله[2] | په ليدو، ولي بلاک
په قد سبر صنوبره | زړونه ځکه ګرېبان چاک
د ښايست مخی ئې نسته | هم ده ښکلې بې ادراک
بې حجابه ده و. يار ته | د اغيار په مخ رداک

۱. ب
۲. ک، که، کا، يعني کوي د کول له مصدره د حال فعل دي، قدماوو په درې سره املا ليکلی دي، ځکه نو موږ هر ځاي پر خپل حال پرېښو، اما کله (ک) په معني د امر حاضر د (وکه) پر ځاي هم راځي.

له وحدته را بیرون شوه　　لون لون تماشاک
څرګند نمر د معرفت شو　　ځکه درست عالم ثناک
چه دا پاک نور منور شو　　منور ویل "لولاک"
که د میني یاران ډیر دي　　باري ځني ځان تالاک
چه ئې نور بریښید "احمده"
روڼ عالم سو هم افلاک

نن مي بیا زړه څه بلاک　　ولاړ له لاسه بې ادراک
په هیڅ لوري نه پوهیږم　　مګر خضر مدد راک
هسي ډیره بیتابی کا　　لیونی شو او غوغاک
چه نامه د یار ور واخلم　　ځي له ځانه دی بې واک
وایي دا چه لیلی چیري　　زه مجنون یم غم خوراک
خوږه شونډه سپین عبغبه　　ځما خونه به تالاک
یار شیرین لکه شیرینه　　فرهاد ځکه ځان هلاک
ښه نامه ئې تر قیامته　　چه د یار مینه رشتیاک
مینه کړه شاه "احمده"
چه به مینه تا پاچاک

چه را جوړ مي یو وار زړه ک　　نور ئې بیا ولی تاله ک[1]
رنګارنګ ګلونه ډیر دي　　ولي داغ پکښي لاله ک
چه ئې داغ په زړګي کښیښو　　بلبل ځکه پر ناله ک
نور ئې سود، ور ځني نه وي　　په ژړا خپل زړه ماله ک
ترو به ولي دی نه ژاړي　　چه خزان ئې دنباله ک
یو څو ورځی ئې ښادي وي　　باري غم ئې یکساله ک

۱. تالا.

خزان وکړي. هسي چاري　　چه د هجر پر ژاله ک
تیر غمونه کړه بلبله!　　لکه نر چه نواله ک
هیڅ ئې مه ګڼه "احمده"
که د زهرو در پیاله ک

بلبل مینه پر لالاک　　خپلي میني کړ هلاک
دی ناپوهه نه هوښیار دي　　خپل نصیب ئې مبتلاک
له دې لومي نه خلاصیږي　　که هر څو نارې غوغاک
تور د سترګو دي جنګی دئ　　باڼو غشی دي غزاک
برابر مین په ولې　　سړی وباسي له ژواک
مینه پټ ساتلې نشي　　مښک که پټ کړې بوي رسواک
د هر چا مینه یشوه نه　　عاشق راغی سینه چاک
اور د میني لګیدلی　　دود د زړه ځي په افلاک
چه یار خوښ، په هغه خوښ دي
"احمد" څه خپله رضاک

د ناسوت توره لک لک　　په خوله څو کوې کړک
د هوا پیوست دي پریښو　　پر اوبو درومه څک څک
اصل په اصل. وي ګنډلی　　انسان نه زیږی له سګ
روحانی رفتار دې پریښو　　ولویدې په دې لومک
قدم ږده د عشق په لاري　　لار به طی کړې بې له تک
بې له عشقه شعر وایې　　له ویلو شرم ته ک
عشق په خوله ندی "احمده"
ته د سر سپما پرې مه ک

زاړه فکرونه، ځوانان هوس ک[1] | عاشقان مینه، ملایان اودس ک
نقیب د عمر، هر لور نارې کړي | غافله پاځه، فریاد د جرس ک
د عاشق فخر دئ په عاشقانو کي | که ئې یار سر د بورجل خس ک
کاروان د عمر، مدام چلیږي | نه له هیڅ چا سره وفا نفس ک
مرګی تاړاک دي د بدو غلونو | تاړاک بیلتون ئې سړی بیکس ک
اروا طوطی دی، وطن به مومي | بیا که دي مات د نفس قفس ک

که رضا غواړي د یار :"احمده"
پر اور ئې ځان ته، لکه ککنس ک

اوس به بیا دلبر د حسن جوړ بازار ک
عاشقان به واړه خرید د سپین رخسار ک
د کرم اوره چه بیا په کرم راشي
تشنګان به د کرم، مخ په بهار ک
پر چمن به بیا لاله کا پیالې جوړي
خوار بلبل به په مستي د دې ګلزار ک
په ښادی د لیدو دی غم به د یار خوري
دا خپل غم ئې تل زړګی د غم په دار ک
چه د خار خنجر د ګل پر زړه وویني
که بلبل وي په زړه څرخ خنجر د خار ک
بې له یاره مي بهار په سترګو اور دئ
که هر څو د غمجن غم ورک مرغزار ک
په بریښنا د توری ژوند کوه "احمده"
د بری جولان په لور د هر دیار ک

---

۱. ب

زړه ځما د ځان په ځان دغه یقین ک[1]
چه ئې عشق وي عاقبت به ئې زړه شین ک
یار له یاره چه د زړه په رشتیا راست وي
بد دي نه وړي درست عالم پر آفرین ک
په رشتیني بازار تل قلبي کوټه ځي
سخ د هغو چه پدا بازار مخ سپین ک
که هر څو ښه له اغیاره سره وسي
بیا د زړه سزا به ستا دغه کج بین ک
له اغیاره سره ښه د خپل زړه خار سي
چا چه وکړ پخپل ځان باندي نفرین ک
"احمد شاهه" که جهان و بله ورشي
که یار نه وي درست جهان به دی غمګین ک

زړه مي خیال دا ستا د زلفو لور پر لور ک
نه پوهیږم بیا به څه غمونه نور ک
په وصال سره دي زړونه تازه کیږي
دا هجران دي خسته زړونه سوی سکور ک
لکه خاوري په بهار چه چمن زار سي
د دیدن باران دي هسي زړونه نور ک
هر یو زړه چه سي په مینه کي رشتینی
کله هغه اندیښنه د بل پیغور ک
باد نیوه نسي په لاس کي څه به نسیم
زړه د باد په څیر چه ستا پر لوري زور ک

---
۱. ب

"احمد شاهه" بیا په عشق کي رشتیا بویه
د پتنګ په څیر چه مینه ئې باغ اور ک

محبوبا چه په زلفینو همیشه د زړونو ښکار ک[1]
نه ئې ویره له چا کیږي، د مینو تل آزار ک
که هر څو سړی په زیب او په زینت سره ښایسته وي
چه نظر د څښتن نه وي، څه به زیب څه به وقار ک
له دې اور سره د میني هم د چا کله روزګار سي
بې عاشقه چه په اور لکه کباب زړګی قرار ک
د عاشق خودي زړګی پخپل معشوق پوری تړلي
چه له یاره ئې زړه نه وي، غه عاشق به نور څه کار ک
تندرسي ځما هیڅکله، وفا نه لري دلبره
ولی ستا د تور سترګو اړول سړی بیمار ک
"احمد شاه" په دا سبب سره ډېر فخر په عالم کا
چه دی شپه او ورځ محبوبه هم سجود ستا په دربار ک

عجب دور د ګلونو د بهار ک
چه بلبلی همیشه باندی چیغار ک
د بلبلو حال ته ګوره په بوستان کي
چه مدام پر هر یو ګل ثنا د یار ک
د عاشقو هر څو غم که پر سر بار سي
چه یار راسي غم به واړه تار په تار ک
کبلي سترګي له عاشقه څخه ځغلي
د هوسۍ په دود چه تښته په کوهسار ک

۱. ب

د مینو بیا هم خوښ هغه ساعت دي
چه معشوق ئې پر سر باندي منت بار ک
هیڅ یو کار په زخمی زړه نشي دلبره
هغه زړه چه په یار روغ وي هله کار ک
و "احمد" بادشاه ته څه ګورې عالمه
چه خپل یار ور سره مل وي افتخار ک

# (ګ)

که د زړه وي دا غورځنګ تیر به سي تر نام و ننګ
د غرڅه په دود که تښتم پای مي دئ د عشق ګړنګ
که قلنګ د زړه ور نکړم را څخه اخلي ئې په جنګ
زړه تهنګ په سیند د مینې یا په اور کي دي پتنګ
نه له هغه وویریږي نه له اوره دي پتنګ[1]
که توبري ووری "احمده"
ته جولان کوه د جنګ

ځما د یار بشر خو شرنګ[2] زړه ئې صاف کړ بیا له رنګ
ګرېږي وروځي ئې لندۍ دي همیش نه وزي له جنګ
عاشقان پر ځګر ولی دوی هیڅ نه وایي له ننګ

۱. د پتنګ او په تنګ تر منځ تجنیس تام دي.
۲. ب

د نظر غشي دی ووري          څوک دی خلاص ستا له خدنګ
د بریښنا په دود ګزار کړي          هر ګزار دی ستا بې درنګ
"احمد شاهه" که یار غواړې
نور نو لیري کړه له څنګ

ته چې هسی تیره غشی همیشه ساتې تر څنګ
دا عاشق به څرنګ ویره نه کوي ستا له خدنګ
دغه ستا د تیز نظر صیاد چه چیري چیري خیال کا
د عاشق له سره یاره خولۍ پرې باسي بې درنګ
په تش یاد ئې د عشاقو شیرین خوب تښتي له سترګو
نه پټیږي د چا سترګی ستا د سرو باهو له شرنګ
تر دا بې پتي و یار ته مرګ بهتر دي هزار ځله
خدای دي نه کا په یاري کي څوک بې پته بې ننګ
ګرزیده د یار په مخ کي "احمد شاهه" ادب بویه
که ته نه اوړې هیڅ رنګ د مخامخ غشیو له جنګ

د زړه ویني مي مدام پر مخ بهیږي ځما ګلرنګ!
پرې پوهیږم په لیدو دي بیا دریږي ځما ګلرنګ!
د مژګانو په خدنګو دي تمام سوری سوری کړم
نور دي پریښووم نه ګورې چه تیریږي ځما ګلرنګ!
ځلبلاند دي د هجران د اندیښنو کړم ځما یاره
جدائي دي لکه اور، په زړه لګیږي ځما ګلرنګ!
سخ د هغو عاشقانو چه خپل یار وته به ګوري
خوار شو هغه چه ئې یار ور نه رسیږي ځما ګلرنګ!

زړه ځما لکه غرځه تل په توبرو د نظر ولې
ستا د سترګو له ګزاره څوک رغيږي ځما ګلرنګ!
اې دلبره د "احمد" له حاله وګوره قياس که:
چه بې ياره په بيلتون کي څوک سهيږي ځما ګلرنګ!

زه اوتر سوم له هجرانه جنګ پر جنګ[1]
نه خلاصيږم له اسمانه جنګ پر جنګ
که د تورو زلفو تار مي په لاس کښيوزي
بيا ويريږم له چشمانه جنګ په جنګ
د باڼو غشي ئې تل تر تله ووري
چرته ځم له دې بارانه جنګ په جنګ
که د صيد په دود سم غلي نه خلاصيږم
له شهۀ ابرو کمانه جنګ په جنګ
له رقيبه سره روغه هر ګز نشي
قرب د ده لمبه سوزانه جنګ په جنګ
"احمد شاه" بې له لمني لاس وانخلي
که څه راسي له جهانه جنګ په جنګ

زړه مي هسي په تا باندي تازه کيږي شوخ و شنګ
لکه ګل چه د پسرلی چيري غوړيږي شوخ و شنګ
د خاطر غبار به څه غواړې ځما له دواړو سترګو
چه سپين مخ دي لکه نمر غندي ځليږي شوخ و شنګ
سپين رخسار دي لکه ګل زه ئې بورا يم اې دلبره
ځما نفش ستا په هستي سره چليږي شوخ و شنګ

---

۱. ب

که مي زړه دا ستا له غمه ياره ډک سو باک ئې نسته
پـه وعده دي د ليدو بيا هوسيږي شوخ و شنګ
د بيلتون تياره به هله دا ځما د خاطر واخلي
که سپين غاښ په سرو لبانو کي مسيږي شوخ و شنګ
د ليدو چمن دلبره که ته چيري آراسته کړې
دا بلبل زړه مي به څرنګه نازيږي شوخ و شنګ
"احمد شاه" له نور چا نه له خپله بخته مدام ژاړي
کنه بحر د کرم دي تل بهيږی شوخ و شنګ

# (ل)

نن بيا ولی دا ژړا کړې ځما دل
هميشه آه و غوغا کړې ځما دل
لکه خپل کبلی چه ورک کاندي هوسۍ
هسي شان الابلا کړې ځما دل
ګوره بيا په نصيحت دي صبر نسي
ګريوان چاک په واويلا کړې ځما دل
لکه اور ته نا قراره ځي ستۍ
خواږه عمرو ته شا کړې ځما دل
په دا ډير ډير ښورا ښور دي نه پوهيږم
هسي نرم زړګی چا کړې ځما دل

بیا هله به ته د غم له ویره خلاص سې
چه د زړه ترکه هوا کړې ځما دل
د شها د انګڼ سیل سي "احمده"
که تسلیم خپله رضا کړې ځما دل

میني ځنګه ناقرار کړې ځما دل
ځو به ته نارې کوکار کړې ځما دل
د پسرلی ګلونه ډیر دي په جهان کي
ځو بلبل غندي چیغار کړې ځما دل
توره شپه به روڼا ورځ سي په تا باندی
که پتنګ غندی نثار کړې ځما دل
دا د عشق غوټۍ به ښه تره تازه کړې
که یقین ابر بهار کړې ځما دل
د بیلتون شپه به هیڅکله پاته نسي
که اخلاص ته پر دا لار کړې ځما دل
همیشه به ته د یار په لیدو موړ یې
که تاریک خاطر سهار کړې ځما دل
"احمد شاه" بله دعا نزده عالمه
په لیدو مي ئې وزګار کړې ځما دل

زه بلبل عاشق د ګل یم، بلبل ستا د مخ پر ګل[1]
په هر ځای کي چه ګلزار وي مین ستا د مخ پر ګل
باز د سترګو دي زه یووړم لږ نظر وکړه دلبره
که شهید سم شهید ښه یم بیا دا ستا د مخ پر ګل

۱. ب

زه هوس بې خپله یاره د هیڅ باغ او چمن نکړم
که هوس کړم ځما هوس دي یاره ستا د مخ پر ګل
بیا بهار د عاشقانو دا د یار د مخ ګلزار دي
اور دي ګل ګلزار، مین یم یاره ستا د مخ پر ګل
که له مځکي تر اسمانه جهان واړه سره ګل سي
نرسیرې په ښایست کي دغه ستا د مخ پر ګل
محبت لمبې لمبې کا دا ځما زړګی په سوځي
همیش سود کا په لمبو ځما زړه ستا د مخ پر ګل
زه ”احمد“ بادشاه پدا له خپله ځانه په ځان خوښ یم
چه مین تر خپله ځانه، زه یم ستا د مخ پر ګل

که ته ما پوښتې ځما د زړه له حال[1]
حال خو دا دي چه بې تا یم زه ملال
د جمال نقش مي زړه دي زه په پایم
که دا نه وي زه تل اوسمه بې حال
زړه مرغه وو ستا و لور ته ئې پرواز کړ
د بیلتون په شهین پروت بې پرو بال
که مي غواړې چه زه درسمه دلبره
په هوس مي نیست و پاي ځي لا محال
که زړه پټې کړم باندي ځمه نه ځوریږي
ستا و لور ته په آرزو د ښه وصال
که لیدوله دي بها واي اې صنمه
په لیدو دي عاشق تیر تر سرو و مال

۱. ب

که "احمد" له خپله ځانه مخامخ کړي
څه به وسي ستا د حسن له جمال

## (م)

زه هر ګوره نن د لوړو په حصار ځم
مثل نلرم هیچیري چه پشمار ځم
که مي خپله بلندی سي را موجوده
لکه باز هسي ده غرونو په کنار ځم
له وحدته چه په امر را بیرون شوم
د کثرت په ملکو هره خوا په ښکار ځم
دا د میني ملک مي خپل کړ سر تر پایه
ځکه زه بندي د زلفو په هر تار ځم
د ناسوت په وهم ورک شوې عندلیبه
زه غه ګل یم چه د میني په بهار ځم
خپله مینه مي ښکاری تعلیم مي ورکړ
زه غرڅه په ګړنګونو د کهسار ځم
ملکوت ګوره چه خاص د صومعې کړم
همیشه د می خوارانو په بازار ځم
بلبلان له سادګۍ خبر نه دي
لکه ګل هسي په لاس کي د اغیار ځم

هله ګل وم چه هیچیري مي سیال نه و
ولي اوس له اشنایۍ په زړه خار ځم
که اشنا مي چیري ناز را باندي وکا
دا مي نسته چه یمین او یا یسار ځم
که هر څو د تا د میني وری دروند دي
ولي بیا ستا د مینو په قطار ځم
"احمد شاهه" ته د زړه بورجل ته ګوره
بې ما څوک دي چه دا هسي په ګفتار ځم

نن بیا هسي د ګلزار په ننداره ځم
چه له یاره سره خوښ همکناره ځم
توري سترګي سره لبان او شنه خالونه
ستا د لب په میو مست او مستانه ځم
مسته درخته د چندڼ زلفي ښامار دي
رقیبان که غاښ چیچی سر بریده ځم
چه رقیب د رقیبانو خدای فنا کړ
په ټولۍ د ښو یارنو همواره ځم
چه بر کړی مي خدای لاس په رقیبانو
ترو به زه د هند پر لور په تماشه ځم
چه د هند د ملکو فتحه مي روزي سوه
نور ایران لره په توغ په نغاره ځم
پر دا کړي داد دي خدای نسي پښیمانه
تر نګین مي ایران لاندي شاهانه ځم
معشوقې د ایران ډیري ترکي شوخي
خدای چه را که ترکی هند ته دوباره ځم

زه تسخير د ولايت د خداى په داد کړم
په مدد د حبيب هره خوا ته زه ځم
چه ځما د ولايت فتحه روزي شوه
ترو به څه د يار له نازه کناره ځم
زه "احمد" دنيا فاني ګڼم چه نسته
دنيا پاته له ايمانه به سره ځم

راشه نن ټټر کباب يم و مي ګوره زړه خراب يم
زه مقتول. د. نور چا نه يم ستا د سترګو د قصاب يم
ځما ژوند. د تا ديدن دي بې ديدنه په عذاب يم
ستا د حسن له حيرته: تل په غټو سترګو خواب يم
که هر څو پر زړګي زور کړم په کاته دي ډير بيتاب يم
لږ. پر حال کوه پوښتنه بند د زلفو په طناب يم
دا ځما هستي لتا ده نن لتا سره کامياب يم
ساقي جام د ميو راوړه غرق د اوښيو په درياب يم
څو مي. دا مستي. په سر ده زه بې غمه له حساب يم
دا جفا د يار قيامت دي بيلتون اور پکښي کباب يم
خداى دي يار کا مهربانه نور د هر غم د ځواب يم
زه به څو کوم صبرونه ډير مين ئې پر جناب يم
يار مي ګل د نوبهار دي
په ژړا "احمد" سحاب يم

که هر څو په زړه نادان يم ستا د زلفو قدر دان يم
که بادشاه د درست جهان يم غلام ستا ماه تابان يم
په صورت که سلامت يم له خوږ دله خون افشان يم

د رقیب له ډیره دروهه    په وصال دي هم ګریان یم
پخپل ځان هم. نه پوهیږم    په دیدن ولي حیران یم
د دیدن مقام حیرت دي    چه د عشق سروسامان یم
چه ځي نه. وینم غمجن یم    په لیدو بیسد لرزان یم
د دې دوې ملالي سترګي    په کاته ځي سر غلطان یم
یو څو ورځي مي رضا کړه    جانه څو ورځي مهمان یم
که هر څو په بهار درومم    آخر پاڼی د خزان یم
که بلبل و ما ته ووې    ما هم زده وچه ژړان یم
عمر باد غندی تیریږي    ترو به څه لره ښادان یم
دا دنیا فاني ''احمده''
باری خوښ به په ایمان یم

هسي نه چه یک تنها یم    زه په هیله[1] د ښه خدا یم
دا هستی ځما له کومه    سکه د ده په هستی پا یم
که جلوه را باندي وسي    په جلوه به زه روښا یم
ځما هله هستي نه وه    اوس په شوق د میني پا یم
چه عدم وم وجود راغلم    اوس عدم وجود نما یم
د عدم وجود کثرت سو    له کثرته یک تنها یم
یقین هسی پوهه راکړه    چه د لوی ګرنګ عنقا یم
که ځان وګوري ''احمده
له همه غیرو ورا یم

د دلبره ګل اندام    د چارده ماه تمام
د عاشق په بخت راغلیه    پر غافل باندي حرام

۱. زه پخپله.

عاشقان ئې صاحبی کا　　　غافل څه زده له اکرام
واړه تشي شلومبې شاربي　　　خبر نه دي له پیغام
له فرښتو به ئې صحبت وي　　　چه ئې ستا پیاله انعام
چه دا هسی بخره مومي　　　همیش مست له مي و جام
څوک د. یار. په غم ویشتلی　　　د چا غم د صبح و شام
عمر شپه او ورځ تیریږي　　　ولې ناست یې ته ناکام
غم په غم ډوب کړه "احمده"
و به وینې خوښ خرام

میني یار پسې ملنګ کړم　　　اوس به ځم غمونو تنګ کړم
ستا پر. لوری. تللای نسم　　　نپوهیږم میني لنګ کړم
دا سفر په نعمت نسي　　　اوس به زه شړیه[1] لنګ کړم
ما وې ټینګ پر نام و ننګ یم　　　تا بیرون له نام و ننګ کړم
بیا زخمي په زړه هر ګوره　　　ستا د تور باڼو خدنګ کړم
که یار بد کا ځما قسم دي
چه پر زړه "احمد" زنګ کړم

زه چه یاده ستا وفا کړم　　　آواره فاني دنیا کړم
څه حیات څه مي ژوندون دي　　　و ژوندون وته به شا کړم
څو مي لاس وي دا ژوندون به　　　صدقه د دلربا کړم
په دیدن ئې نه پوهیږم　　　ورته ګورمه ژړا کړم
له همایه سیوری وشو　　　په سایه ئې زه سوا کړم
د دې سیوری څه کرم وو؟　　　زې پر سپین رخسار شیدا کړم
چه له زړه څخه خبر نسوم　　　عشق له زړه څخه جدا کړم

۱. د دمخني او دغه بیت د لنګ په کلمه کي بشپړ تجنیس دي.

که جفا کا که وفا کا زه به تل له ده رضا کړم
څو له یاره وصل نه وي زه ژوندون به یک تنها کړم
څه درونډ بار د امانت دي
زه به څه پرې "احمد شاه" کړم

زه د یار غمو بیمار کړم یا بیمار غمو د یار کړم
زړه به څرنګ بیمار نه وي چه په زړه زلفي تار تار کړم
زړه مي تورو زلفو بند کړ اوس ارمان د سپین رخسار کړم
مهرویان لکه ګلونه زړه بلبل د کوم ګلزار کړم
چه د ګل په څیر ئې مخ دي پرې بلبل غندي چیغار کړم
زه بیده وم خبر نه وم د بلبل نارو بیدار کړم
و اشنای لره به درومم دا خپل سر به ور نثار کړم
د اشنا چه سر په کار وي بې ویلو بې تر جار کړم
"احمد شاهه" که یار مل وي
پر رقیب به زه ناتار کړم

اې نادانه خام خپله چار کړه سر انجام
د نفس هوا ده لویه ته ئې کوزه کړه له بام
که دي کوزه کړه له لوړه خپله چار به کړې تمام
عشق یو واسطه دي و دلبرو ته د کام
واسطه ور لره بویه چه ته ورسې له مقام
چه ورسې ته تر مقام چیري نه سې بې آرام
د حسن له پرتوه ځان به ورکړې تر مدام
چه ته ځان ورکړې له ځانه و به وینې خوشخرام
د شهئ زلفی تار تار دي احتیاط بویه له دام

"احمد شاهه" چه څوک سم سو
هغو چار مونده تمام

زړه له درده بې آرام یم — په آرزو د مي و جام یم
د غنچې په شان ئې خوله ده — سکه عاشق زه د ګل فام یم
که ته جام د شونډو را کړې — نو شاکر په صبح و شام یم
که مي څه پوښتې له حاله — کشته ستا سترګو بادام یم
چه په سترګوویني ژاړم — څه به ښاد بې ګل اندام یم؟
زړه مي ډوب د یار په غم دي — ترو په کوم زړه به آرام یم
که د یار په نظر نه وم — له مقامه بې مقام یم
که مي. غم کا بې آرامه — بیا آرام په خوشخرام یم
که یار بڼغ را باندي کاندي — له ادبه لا کلام یم
پختګی د کار په یار ده — بې له یاره په کار خام یم
نظر که یاره ستا وي
زه "احمد" په کار تمام یم

زه حیران دا ستا د مخ نګارستان کړم
بیا دي قتل د دوو وروځیو یاغستان کړم
که خپل سر په سودا راوړم نه ئې پیری
هسي ورک دا ستا د حسن ښارستان کړم
د دلبر ځای دي مینده نسي چه وګورم
بیلتانه دي لیونی په کوهستان کړم
د فراق په ځوز می زړه سوری سوری سو
د هجران غمو دي ګلهٔ په خارستان کړم

دواړه وروځی دي لیندۍ خال کا وهنه
هم اسیر دي د زلفینو زنګستان کړم
لاله ګون رخسار دي تورو زلفو پټ کړ
مخ ښکاره کړه ډوب د زلفو شبستان کړم
مخ لاله سترګي پیالې د میخورانو
د پیالو خمار ئې مست په لالستان کړم
د رخسار ګلو دي ویستم له کاره
چه نظر د تا د مخ په ګلستان کړم
ننداره د سرو ګلانو دلبر یاد کا
د رخسار لاله دي داغ په باغستان کړم
د پیزوان لمبو دي ویستم له خوبه
بې لیدنه څه روزګار په نارستان کړم
دا د خپل زړه حال به څه وایم و چا ته
زه په پټه خوله نارې په نیستان کړم
"احمد شاه" دي پر دې دوو سترګو مین کړ
اوس دي سیل د شهلا په نرګستان کړم

ناګهان پر لاری تلم په زړه مین سوم[۱]
په ژړا ئې اوس له غمه زه لیچن سوم
د ناصحو نصیحت می په کار نسو
زه پوهیږم چه بلبل د دې چمن سوم
پر دلبر که زه قبول که نا قبول یم
شکر کاږم چه زه ستا د مخ دردمن سوم

۱. ب

چه مي یار په سترګو نه لیده زهیر وم
چه مي ولیده په دوو سترګو روښن سوم
که مي زلفي ستا د مار په څیر خوږمن کا
خوښ به زه یمه د دوی په خوږ کړمن سوم
که ګدا وم اوس پادشاه یم ځما جانه
اې دلبره چه دستګیر ستا د دامن سوم
ما "احمد" د ښایسته وو خیال چه ځیر کړ
که بې صبره وم په صبر په ایمن سوم

بیا په زړه ولی دا ستا میني رنځور کړم[1]
زړه مي چوي له دوو سترګو دي زه دور کړم
ستا کاته لکه د باز دی زړونه ریږدي
که سم ګورې زه به زړه درته حضور کړم
که صورت له منځه واخلې غم به نه وي
خپل صورت دي چه له یاره ئې مهجور کړم
چه ستا تیغ مي تل پر غاړه را ځکیږي
ځکه سر په باغ کي هسک لکه کجور کړم
دغه عشق دي چه دا رنګه رنګریزي کا
لاله شان ئې په زړه داغ په وینو سور کړم
"احمد شاهه" که صورت له منځه واخلې!
زه به هاله دغه ستا صورت خپل نور کړم

---

۱. ب

دا ستا غم به یاره هیر کړم په کوم غم[۱]
کوم یو غم دي چه ستا غم دي تر ده کم
ستا جمال به زه د چا په جمال هیر کړم
هر جمال دا ستا له حسنه وړی رقم
څوک چه بوي کا ستا د مخ زیبا ګلونه
بې لتا نوره ښادی سي ورته غم
چه ئې ستا په حسن زړه ښایسته صاف سي
هغه زړه دي په مثال د جام جم
هر چه بې له تا نور سمع د چا نکا
د هغو د ویر رباب سي زیر و بم
که د نفس کمند زه واخلمه له ځانه
ستا د غره هوسۍ به ښکار کړم په هر دم
که هوسۍ مي یاره ستا د ګړنګ ښکار کړم
زه پوهیږم پر انګڼ په ږدم قدم
"احمد شاه" که د همت توره در واخلې
بیا به وکړې په رقیب باندي ماتم

زه که نن د ملک پادشاه یم[۲] مغرور کله پخپل جاه یم
دغه ستا نظر پر ما دي که نه خاوري ستا د راه یم
بیا هم ستا په مهر شین سوم مهر که نه وي وچ ګیاه یم
ته کریم یې زړه مي ریږدي چه بنده د بې نیاز شاه یم
چه وګورم ستا لوئۍ ته په زاري د صبحګاه یم

۱. ب
۲. ب

یاره لاس و "احمد" ور کړه
ډوب د خپل عمل په ځاه یم

خپلي میني اې دلبره زه په دار کړم[1]
د دنیا په کار و بار ئې بیا بیکار کړم
لکه څنګې چه حصاري ستا د مخ دي
دغه هسي اوښیو ځما د مخ حصار کړم
بوالهوس زړه مي دا ستا د مخ هوس کړ
د مژګانو تیر دي یاره اوس پر لار کړم
ما وې زه به د زنخ په ځاه اوبه سم
خبر نه وم دام د څڼیو ګرفتار کړم
د بیلتون له اوره زه بیا نه ویریږم
که لیدل نه وي خپل سر به پرې نثار کړم
په زړګی به مي قطار سي ستا غمونه
پر بارخو باندي د اوښیو جوړ جویبار کړم
چه دنیا بې غمه نده "احمد شاهه"
ترو څه غم وي خو به غم د خپل نګار کړم

راسه جانه ځما جانه بل جان نه لرم[2]
که روزی شوې ځما نور به ارمان نه لرم
همیشه مي زړه په تا پسې نولیږي
که وصال د خپل اشنا وي فغان نه لرم

---

۱. ب
۲. ب

د بیلتون له اوره زړه ځما ګریان دي
که وصال وي دغه زړه به ژړان نه لرم
بیلتون اور دي ځما زړه پکښې وریتږي
په دا هسي اور زړه څرنګ سوزان نه لرم
زه ذره دا ستا د مخ په نمر ښکاره یم
چه جهان کي بې له تا نه پاسبان نه لرم
د صورت اسباب مي ستا په مهر جوړ دی
بې له تا د صورت سروسامان نه لرم
"احمد شاه" پخپل دلبر سره نازیږي
بې دلبره زه بیا ځان و جهان نه لرم

زه چه تل نظر دا هسي لور پر لور کړم
په هر لوري د خپل زړه صیقل بیا نور کړم
نه پوهیږم زړه ځما د کوم آشیان وو
د یار میني بیګانه له خپله کور کړم
چه ځما ایمان روڼا، روڼا ایمان دي
نور به څه لره دفتر د زړه بیا تور کړم
که پر زړه ځما د غیرو واښه شنه سي
زه بې غوڅ د خپل یقین په تیره لور کړم
یاره ستا میني له ځانه څخه بیل کړم
اوس له ځانه په ځان ځم غیر به خپور کړم
چه د تورو سترګو تور دي په زړه راسي
سیاهی پر سیاهی باندي د زړه اور کړم
د "احمد" پادشاه یو ځان و په عشق وسو
که وګورې ځان به بیا له ځانه پور کړم

څه سوه زه که په ظاهر صورت زهیر یم
چه د خپل یار نطر سته په زړه امیر یم
بدائي هر ګز پخپله لوئی نکړم
همیش ستا د قدمونو دامنګیر یم
که مي برق د سپیني توری بیا بریښنا کړه
ستا په مهر په هر لوري عالم ګیر یم
و بل لوري ته مي هیڅ مخ مخي نسته
یاره زه چه ستا و ورته تل فقیر یم
د رقیب له لاسه نه ژاړم و تا ته
د بیلتون په توره شپه "احمد" په ویر یم

زه دردمن دا ستا په درد یم، چه مدام پر ځګر داغ بړدم
چه ته نه یې خدای دي نه کا چه قدم پر لور د باغ بړدم
چه په تا غندی دلبر دماغ و نکا مرد به نه وي
ځکه زه له رقیبانو خپل قدم تل په دماغ بړدم
ستا د مخ په څیر دی یاره ځکه زه ئې دا عزت کړم
چه پر سر باندي د فخر همیشه لاله د راغ بړدم
دغه ستا د جفا توری، نن بې سرو او سپرزه کړم
لکه شمعه په کوګل کي، د خوبا د یاد څراغ بړدم
چه اروا ځما دلبره ستا د بڼ طوطی دی ګوره:
زه "احمده" ځکه دا هسي خپل قدم د نفس پر زاغ بړدم

ستا په مخ که پټه خوله یم بیا په زړه کي ګرفتار یم
که باور په عمر نسته ستا و لور ته په رفتار یم

ځو مي ستا د ښو غشي دي پر زړه باندي خوړلی
د زخمی مرغه په څیر له خپله سیله اوس کنار یم
ګوره څوک به په دا قید په اور راضي سي بې له ما نه
چه راضي په قید هر کله ستا د زلفو په هر تار یم
که بلبل نه یم دلبره، اوس بلبل ستا د چمن سوم
چه مشغول په ثنا ذکر تل دا ستا د مرغزار یم
په اوبو به د کوثر زه اوبه نسم پرې پوهیږم
چه په تنده همیشه د عاشقۍ د جویبار یم
که مرغه غندی پرواز کړم تمامي جهان وغوارم
زه "احمد" پادشاه مین بیا دغه ستا پر ښه دیدار یم

ولي نه پوښتې له حاله ځما همدم[1]
چه په روغ صورت رنځور یم ستا له غم
چه مي دا غشی پر زړه دي روغ به نسم
مګر ستا لیدل مي وسي اې صنم
لا به کله روح له تن وه وداع کړیه
که امید نه وای بیا ستا له ښه کرم
دا د میني په روزګار د زړه له اوره
همیشه مي سترګي ډکي وي له نم
چه سپاره د بیلتون هسي په جهان وه
کشکي لا پخوا زه خاوري وای بې دم
"احمد شاهه" بیا مړتیا[2] د سړی نسته
که ټول ملک د دنیا رانیسي له جم

---
۱. ب
۲. موړ تیا.

## (ن)

زړه مي تل په دا افسوس له ګلستان[1]
چه به څه رنګه رژيږي له خزان
هغه دم چه تيغ د هجر سر بيرون کا
د بلبل سينه سي چاکه له ارمان
د هغو پر مخ تياره کله را درومي
هر چه ويني نمر د مخ دا ستا روښان
که د زړه داغونه اخلې زه پوهيږم
په خندا به لاله سي له کوهستان
د بيلتون عمر که ډير سي په پوهيږم
بې اجل د عمر پاڼه وي لرزان
تکليفونه به مي ورک د انديښنو سي
که دلبر د "احمد شاه" وي قدردان

هميشه سر په صحرا يم جان جان
بيا په سر او مال فدا يم جان جان
ميني ستا مي پر زړه هسي اثر وکړ
چه له کور کليه جدا يم جان جان
څو مي درد دا ستا د ميني دی نوش کړي
له سوا نه ماسوا يم جان جان
بلبل نه يم چه هميش په ژړا ژاړم
ستا د مخ پر ګل بورا يم جان جان

---

۱. ب

د باڼو غشي دي څو له زړه وکاږم
ستا د درد په تمنا یم جان جان
زه "احمد" د زړګی سود مدام پیدا کړم
چه مین یمه، پر تا یم جان جان

راوړه اې نسیمه، یو خبر څما له جانان [1]
زړه له وینو ډک سو، بیا تېر هم لارمان
غم به له خاطره څما هیڅ رنګه بدر نسي
زه مګر ووینم په دوو سترګو لب خندان
زړه مي سره ریږدي بیا هڅونه مي سکاره سي
پاڼه مي د عمر ستا له غمه سوه لرزان
څما د زړه له داغه دا لاله لا خبر نه وو
چه خبر ئې سوله حاله نو ژړا کړي په بوستان
د مژګان توبری ئې کاندی بې دریغه ګذارونه
"احمد شاهه" هله ویاړه که ګوی یوسې له میدان

# (و)

نن څما په مخه یار سو ښایسته په ده ګلزار سو
د هوس په دود چه راغلم په خندا له ما کنار سو
له ادبه مي یون نکړ په مخ جوړ د زړه جویبار سو

---
۱. ب

چه دا هسی نازنین دی آفرین ئې په رخسار سو
که د باغ ګلونه ډېر دي باري یار مي ګلعزار سو
په یوه ژبه یار ستائې د بلبلو وچ منقار سو
چه له یاره. ګل سیالي کړه له خزانه پر ناتار سو
له رخساره ئې ګل ووري آرایش ئې بې نګار سو
چه دا هسي دلبر ویني ترو دا زړه ولي بیمار
سو "احمد شاه" به ترې خلاص نسي
ستا په زلفو ګرفتار سو

چه سهار سهار سهار سو د مین زړګی بیدار سو
د اشنای له ډیري میني نن مي پټ په زړه انګار سو
نور عالم کا روز ګارونه ځما بې یاره کوم روزګار سو
چه یار نه وینم په سترګو څه مي ژوند څه مي وقار سو
چه له یاره څخه څوک بیل وي که صورت جوړ، زړه بیمار سو
مینه اور، ویني په جوش کا سترګو ځکه یو جویبار سو
اور، د میني دی لګیږي نو د چا زړګی قرار سو
په خوله یار په زړه انکار وي دا سړی په جهان خوار سو
ده تنګسه د مړو تله په تله د شي مقدار سو
"شاه احمد" په تنګسه کي
ګوره کوم یار وفادار سو

یو څه عجب ساعت وو ځما ستا سره خلوت وو
د مخ زیب لکه ګلونه زړه بلبل پکښي رخصت وو
د لیدو په مینه مست وو له رقیبه فراغت وو
د هجران له ډیره سویه نن دیدن پر ده جنت وو

چه هما ئې په سر راغي    دا ساعت د سعادت وو
زړه به ولي هوس نکا    چه پر تل د غم هیبت وو
پر هغه چه یار نظر کړي    تل به بخت په فرصت وو
یو بې مثله یار ځما وو    زیات تر ګلو ئې زینت وو
ډیر سبرونه د چمن دي    ځما یار تر خوش قامت وو
"احمد شاه" ئې تعریف څو کا
درست عالم ئې په صفت وو

زړه زخمي دا ستا د زلفو په ښامار وو
ارمان نکا چه مین دي د رخسار وو
لکه ګل چه په اوبو سره تازه وي
زه به هم هسې تازه یم که دیدار وو
نصیحت مي په زړه هیڅ اثر نکاندي
چه په لاس مي یاره ستا د زلفو تار وو
چه مي ولیده بهار دا ستا د حسن
زیب د هر چمن، زینت د هر بهار وو
که هر څو مي زړه لتا پټاوه یاره
عاقبت خو بیا دئ ستا د منګل ښکار وو
"احمد شاه" به اوس په کوم یو زړه هوس کا
چه بې یاره ئې خپل زړه ګوره په نار وو

که مي زره یاره دا ستا په لیدو موړ سو[۱]
پرې پوهیږم چه د عشق رونق ئې جوړ سو

۱. ب

همیشه دي د دیدن و لور ته ګورم
لږ وګوره زړه مي ستا په مینه زوړ سو
ځما دلبر عجب دلبر که باور نکړې
زړه ځما له خپله ځانه پسې خوړ سو
جدائي سړی رنځور کاندی بې شکه
که ظاهر په صورت روغ وي زړه ناجوړ سو
په دیدن که مړتیا وای غم به هیڅ نه و
راته وایه څوک په عمر سره موړ سو
فلک بیا څه د بلبل په خاطر وکړه:
"احمد شاهه" چه د ګل پر ځای ژیړ پروړ سو

دا ځما پر زړه راغلي یو غزل وو[1]
چه صفت د سپین رخسار او تور اوربل وو
توره شپه چه پر ما باندي روڼا ورځ وه
په نظر مي شیرین یار لکه مشعل وو
زړه می فخر په صورت باندي په دا کا
چه د مهر په نظر مدام صیقل وو
توره شپه تاریکې ولاړه ځما له دله
چه د عشق پر لاره یار را سره مل وو
زړه ځما لکه طوطی ځکه پټیږي
چي لیدلی ستا د عشق د باز منګل وو
زه "احمد" پدا له خپله زړګی خوښ یم
چه تر ځان مین پر تا باندی اول وو

---
۱. ب

زړه مي ستا په هوا والوته مرغه سو[1]
د عشق غم پر راغي درست سره اوبه سو
دغه زړه مي لکه غر ډير پر ډاډ وم
اوس د عشق په اور ويليږي ترې سکاره سو
د عشق اور دئ په ليدلو ښه بليږي
بې ليدلو دی هم زړه پر تناره سو
هغه زړه چه مي د يار پر لوري ورک وو
چه د يار په ليدو راغلم زړه بيا څه سو
اوس بې زړه زه په روڼا د ديدن ګرزم
که زړه راغي بې له ياره ملک تياره سو
زړه و يار، او يار و زړه سره خو يو دي
چه د زړه په ځاي يار راغي بيا زړه نه سو[2]
"احمد شاه" په زړه خپل يار غوښت زړه يې وريت کړ
ځکه ځان ئې ډوب د اوښيو په واله سو

زړه ګڼه نادان وو چه په تا باندي مين سو
زړه که بيا نادان وو دانا دان په څه ايمن سو
د حسن له غروره بيا به کله ستا باور سي
د خپل يار خبر ناخلې چه په دوو سترګو ليچن سو
زړه پتا مين سو هيڅ حاجت د ګمان نسته
نه اروې چه تا ته ياره تل په ګريستن سو
قوت د خوار عاشق ستا د ديدن دی که پيرزو سي
اوس به چيري پائي بې ديدنه چه کړمن سو

---

۱. ب
۲. دلته سو له او سو ځله څخه مشتق دی.

زه خو د بلبله سره مل سوم چه اشنا سوم
لا مي په نارو د بلبل زړه په غم غمجن سو
زه او بلبل دواړه په فراق کي "احمد شاهه"
د زړه ارمان ځموږه د خپل يار د مخ چمن سو

# (ه)

هې توبه د بيلتانه بده کر کنده
چه هميش کا پر مينو زړونو منده
ښه ياران ځبله تار په تار جدا کا
د هجران شپه دي تل خدای ولري لنده
چه دا هسي بې ارمانه غشي ولي
د آشنای خونه خالي دری ګور هنده
بې ژړا ئې بل راحت د زړګي نه وي
لوند ګريوان اهونه کاږي لکه کنده
د يار غم ئې د ادب ګريوان پاره کا
چه ئې اوښي کا د سترګو واله ژغنده
زړه به څرنګ غوښي ويني ژړا نکا
د بيلتون اوښي په سترګو ترې ډنده
فراق هومره و عاشق ته وار ورنکړ
د زړه ويني ئې تر سترګو ځي کنده کنده
و هيڅ خوا ته ئې اميد نه وي چه ګوري
خپل صورت سي پر ده باندی د غم پنده
که غم زور در باندي وکړي "احمد شاهه"
له اخلاصه ته و خدای ته وکړه منده

کړه له بدو چارو منده — ته به خلاص سې له دې ډنده
که ته خلاص سوې، په اخلاصه — لار به ووينې برمنده
په يقين به خپل يار مومې — نفس نوميد کړې لکه شنده

معرفت څراغ بل کړي يقين وباسه له څنډه
پر دا لار چابک روي ده دا چار مه غواړه له ټنډه
نفس غافل دي ويده شوي لاندي دي تر لو کر کنډه
"احمد شاهه" که يار غواړي
ليري کړه د ګمان پلنډ

زړه مي رغړي هميشه لکه کر کنډه
د اشنای پر لوري درومي نفس کنډه
بې صبري تر هسي حده پوری راغله
د اشناي د بيلتانه له خاره خنډه
چه را ياد سي يار د اوښيو باران ووري
خپلی اوښي مي پر مخ باندي شوې ډنډه
دا قسمت دی که ديار مي بې مهری ده
چه د هجر غم سو ځما د زړګي ونډه
آشنائي ده چه په ما کا هسي چاري
د اشناي له غمه نه سي سينه ټنډه
که بيلتون دی چيري زور را باندي راوړ
ستا و لور ته به زه وکړم ياره منډه
"احمد شاهه" څه چاره ده ستا له ميني
چه دی بار سوه اوس پر سر د ميني پلنډه

مخامخ راغله حضوره زړه خوښي کا له دې نوره
زړه به چا ليدلی نه و که دانه وای په صدوره
ذاکران به ذکر نکا که خبر سي له مذکوره
يو بې. مثله ذکر وايي له ما تا پټ و مستوره

د یقین جلب در واخله — ته زړه مات کړه له غروره
ځو غرور لرې په سر کې — خلاص به نسې له ضروره
ګوره دا ویلي یار دی — ځو ګمان کړې له ما دوره
په نظر زړه صورت باسه — زه پدا نظر منظوره
د عارف پر زړه جلوه کړم — د غافل له زړه مهجوره
"احمد شاهه" ګمان پریږده
واخله ته د اخلاص توره

تا ویښ کړی یم له خوابه — اې د زړه چنګ او ربابه!
چه دا هسې دی اوتر کړم — ستا د زړه کاسه خرابه
که نارې وکړې ربانه — زه به سم سینه کبابه
که زړګی و ده ته ټینګ کړم — په کاته ئې زړه بې تانه
د دې مخ ته کاته نسې — ښایسته ده بې حسابه
د دا زړونو طاقت چیرې — سر تر پا ده عشق جوړابه
خلقې ئې کړې خرابې — جوړ د زړونو ده قصابه
غافل خوب د بې غمۍ کړې — جهان درست د غم دریابه
دی په اصل خبر نه وې — دې خودبین لکه حبابه
د عاشق مینه له یاره — تل په اوښیو وې غرقابه
"احمد شاه" ستا په لیدو کې
پر بارخو اوښې سیلابه

نن ځما دله کبابه — په اشنا هسې خرابه
مینې هسې لیونی کړې — سروکار دې له ربابه
د لیدو طاقت دې نسته — چه حاضر ووینې ما به
عشق د عشق به میو مست کړې — بیا له دې دی اضطرابه

بيګانه له کور و کلی    پر صحرا کرزې ناتابه
يو کوکار دي سو په بخره    مينی ويستې له خوابه
څو به زه و تا ته وايم    د يار مينه بې حسابه
دا وصال ئې آسان چيري    جدائي ده له عذابه
د ديدن مستي ”احمده“
تيری کاندي له شرابه

نن ځما سينه کبابه    ولی ږغ نکړې ربابه
يوه چنګ و ترانه ده    چه سينه سوځي خرابه
په ناسوت باندي ږغ وکړه    موج وهي د عشق دريابه
که دا ستا باور په نسي    زده کړه مينه له کتابه
که د ميني کتاب زده کړې    ژوند به ورکړې بې حسابه
که تر خپل عمر ته تير سې    دا به درکا مى شرابه
هسي رنګه مى به در کا    تل به مست يې بې له خوابه
وخت د مرګ چه درله راسي    روح به ورکړې بې عذابه
مرګ ژوندون به سره يو سي    که خبر سې له دې بابه
”احمد شاه“ تل ويني وائي
دا د ميني له آفتابه

د دنيا خواږه که ستا سي عندليبه[1]
پدا ځله به موړ نسې بې نصيبه
که هر څو د چا دردونه لا دوا سي
څو ژوندی وي ځله کاندی له طبيبه

---

۱. ب

درد د زړه د یار په یار سره دوا سي
بې له یاره چه څوک پائي دا عجیبه
د اشنا په آشنائي کي زړه ویلیږي
ولي دا چه وصل وي، هجر قریبه
ما ماڼۍ د وصل ولیدې په سترګو
د هجران په غم خرابي بې ترکیبه
دا رفتار د دنیا ندی مګر بخت وي
چه اشنای د چا روزي سي بې رقیبه
که پر سر باندي اوربل راوړې "احمده"
بیا له نازه کله ګوري دا نجیبه!

څه عجب خو شرنګه نته[1] چه دا زانګي په زینته
دی دوه در ئې په پیودلي بې بها دی له قیمته
په رخسار باندي زنګیږي ملک ئې خپل دي پورته کښته
دا صورت ور باندي زیب کا بیا خارجه له صورته
د شهی خبري ډیري مبرا ده له جهته
نه زړیږي نه ځوانیږي له اوله خوش قامته
لکه پټ. هسې. ښکاره ده کړه ئې واړه له حکمته
"احمد شاه" فکرونه پریږده
بخره مومه له حیرته

په زړه سوځم همیشه ستا له هجرته[2]
څو به ډوب یم پدا غم لدې فکرته

۱. ب
۲. ب

ستا غمونه به په زړه باندي هوار کړم
هیله کړمه یاره ستا له ملګرته
که ئې پیښې سوم د رخسار پر ګلو باندي
دا د زړه هوس په ډېر وي له عشرته
بیا به څه و بلی خواو ته زه ګورم
چه تعلیم مي ستا د حسن له حیرته
دا رقیب که ځما بد و تا ته وائي
وا به نوړمه د میني له غیرته
چه له تا پر ما تیریږی زه راضي یم
ستا پر مینه به دریغ نکړم له صورته
"احمده شاهه" که رضا خپله تسلیم کړې
ځان به خلاص کړې د رقیب له کد ورته

دا ځم د صورت خته · په څلور عنصره پته
که څلور عنصره واخلې · پخپل ځیر ده دا کټ مته
کل جهان به ورته مخ سي · مخ به ویني یې له څته[1]
د یقین واښه خوندي کړه · چه ګمان لکه سکروته
د غفلت خویونه مکړه · زړه خبر د زړه له نته
کړه سینه له زنګه صافه · د ناسوت توره خرګته
که سینه دی سي صیقله · معرفت به کړي بې وته[2]
د باطن سترګي بینا کړه · په یقین به وکړي ګته[3]

۱. که کجي واخلي له څته (پ).
۲. غیر به عین وینې بې وته (ب)
۳. یار به ناست وینې پر کته (ب).

څو خبرې کړې "احمده"
ځاي ته وړه د ایمان ښته

بله مه وایه ځما غټه محبوبا سوه له ما پټه
دا ځما صورت که نه وای دا ځما وه کټه مټه
جدائي ده له صورته زړه ځما وزي له موټه
و مین ته نه وي سخته چه جدا کا سر له ښټه
لکه ګوي هسې غلطان کا او په سر ونکړي نټه
"احمد" راز کوي له یاره
دا رقیب دی لکه جټه

زره مي ریږدي د هجران له سخته موټه[1]
چه سخت غر ذرې ذرې کا لکه لوټه
چا چه نوش ترخي پیالې د بیلتانه کړې
هم هغه تر مرګه ریږدي له دې ګوټه
که شربت د شونډو ورکړې مسیحا یې
دا عاشق په مرګ خو خوري د هجران چوټه
که ځما پاره ګریوان وته وګورې
جوړ به سم که ګورم ستا د ګریوان غوټه
بیلتانه دی و ما هسي سختي راکړه
د دنیا خواږه مي ښبې په خوله پوټه[2]
یو رقیب دی پدا منځ نه وي "احمده"
نور نو هر څه په ښغستا کي راته شوټه

1. ب
2. پټه په شعري ضرورت سره پوټه سوه.

راسه یو څله له پاسه[1] اې د وچ ګیاه غیاثه
ځما زړه دې مستي وړی چه ئې تل ده دا دساسه
چه په خوب کې هسې راسی هغه خوب ندی اضغاثه
"احمد شاهه" قدم واخله
ځو به ته ګرزې لهاثه

ګوره بیا راغله په مخه هغه مسته شاه ګلرخه[2]
که سلام ورته څوک وکا سر وهي لکه سپندوخه
که د ګل په څیر ئې څیر کړم پر ښائیست ئې د ګل رخه
عاشقان چه ئې ثنا کا دا ثنا لګي پر سخته
ګهې پټ ګهي ښکاره سی معرفت له یوه رخه
د شها پر دربار باندي هی هی زړه وزي له تخه
قناعت "احمده" تل کړه
هر چه درغله په مخه

زړه مي ستا له غمه ریږدی څه به وایم لاله مخه[3]
دغه غم می په زړه تل په واویلا یم لاله مخه
په دا تش ګمان ته زړه له خپله یاره مه جار باسه
چه زخمي زه د مژګانو په تیر ستا یم لاله مخه

---

۱. په (ب) نسخه کې نسته.
۲. په دې بدله کې تجنیس دئ د لمړی بیت ګلرخه یعني ګل مخی، د دریم بیت ګلرخه یعني پر ښایست ئې د ګل رشک او حسد راځي، رخه په پښتو حسد او رشک ته وائي، په پنځم بیت کې رخ په معني د خوا دي.
۳. له (ب) نسخې څخه.

که پسرلی وي چه لاله نه وي بلبل به ئې بیا څه کا
هسي زه لکه بلبل مړ د آشنا یم لاله مخه
چه له چا آشنائی نکا زړه نه غم کا نه پروا کا
آشنائي ده چه کترې کترې جدا یم لاله مخه
په تیاره دي سپینو غاښو په عالم باندي سبا کړ
اوس دا ستا د سپینو غاښو زه شیدا یم لاله مخه
که د خپلو تور زلفو په تارونو مي بیا نیسې
زه بادشاه نه یمه ستا یم[1] تل دي ستا یم لاله مخه

نن د زړه ژبه ګویا ده
سکه راغلیه دا په خوا ده
د زړه حال به ور بیان کړم
د دې لویه کبریا ده
هله پټه خزانه وه
اوس د هر چا محبوبا ده
اوس ته ووایه محبوبي
پټه مینه څه بلا ده
چه دا ستا مینه پر کیبري
ما پریښې هم رضا ده
چه دا خپله رضا پریږدي
مدعا د هغو ستا ده
چه د یار په نام و ننګ وی
دغه دود دی له فرهاده
په دا ډیرو عاشقانو
بیا شها ولي تنها ده
چه دا هسي یې څرګنده
پر موږ څه پروته بلا ده
خپل دانش په ځان بلا سو
ګڼه جوړه مهیا ده
دا هستی ئې همیشه وه
معرفت ئې مدعا ده
چه ئې خپله هستی نه وي[2]
تر دا ښه هستی د چا ده
موږ چه تل بقا لیدله
اوس کاسه د سر فنا ده
دا د سر کاسه پرې مکړه
د فنا کمال بقا ده

---
۱. تجنیس دئ، لمړی ستا یم یعني از تو هستم، دوهم یعني صفتت میکنم.
۲. ب

له ناسوته تر لاهوته د یار هو جلوه رښتیا ده

"شاه احمده"[۱] هوسیږه

چه نن ستا په مدعا ده

اې ځما دله دردمنده شها زموږ د کور میرمن ده

که هر څو زیرک مرغه یې خلاص به نسې له کمنده

ته چه حب کړې د خالونو خال دانه ده لار پرې بنده

عندلیب به ژړا نکړه خوله غنچه ده یاسمین ده

چه لاله جوړه پیاله کړه بلبل ځکه دی په تنده

چمن ځکه ځان لويي کا چه ګلاب د یار ماننده

نرګس سترګې پرې مخې عاشقان باسي له ژونده

له دې حسنه څه ئې وایم ملا ویښته ده قد بلنده

د ښایست هوسناک ډیر دي د چا چا زړګی سپنده

په تلاښ ئې هم هر څوک دئ له چا ورکه چا بیا مونده

د ناسوت په تنده لیري د وحدت له لویه سینده

د "احمد" هیله رسول ته

چه د ده لویه لمن ده

چه په حسن مهیا ده دا د زړونو محبوبا ده

څه سیالي به ئې ګل کاندي چه تر ګل لا هم زیبا ده

څه خوشبويه عطر ناکه زړه فریبه دلربا ده

پري مخه، سپوږمۍ ډوله چه د نمر په څیر علیا ده

خوږه شونډې سیم غبغبه مو کمره یک تهنا ده

وروځې لیندۍ باڼو غشي په زړه سخته تر خارا ده

---

۱. په (ب) نسخه کې داسی دي: احمد خانده هوسیږه ــ چه نن ستا په خوله ګویا ده.

په تیره غشی دا ولي    له ګزاره کم خطا ده
"احمد شاه" خو ئې صفت کا
چه د زړونو مقتدا ده

نن ولاړه محبوبا ده    په ډیر حسن مهیا ده
بخته تا به ننګومه    چه عجبه یک تنها ده
چه و مخ تې کاته نسي    هم له لمره لا زیبا ده
له ښایست ئې نه سمیږي    که سپوږمۍ که ثریا ده
زه تعریف یې ولی نکړم    دا د دوو کونو شها ده
د کمال مخي ئې نسته    له ښوونی بې پروا ده
د کمال له برکته    هر عاشق وائي ځما ده
په ښایست ئې جهان ونیو    نن د هر زړګي روڼا ده
و عاشق ته وایه راسه    خدای را کړې نن وړیا ده
چه عاشق په روڼا درومي    پر غافل تیاره بلا ده
چه د یار په بورجل ورسي    که سر پرې کا ځموږ رضا ده
په سر تللو نه ویریږم    ویره دا چه بې وفا ده
زاري کانده "احمد شاهه"
پر انګڼ ولاړه دا ده

چه ځما مینه پر تا ده    نو په کار مي ستا رضا ده
زړه مي خدای هسی مین کړ    چه و خپل ځان ته ئې شا ده
زه پوهیږم مینه اور ده    خو په خوښ یم چه پر تا ده
که زه سر پر مینه بایلم    بیا نو څه ګله ځما ده
چه سر ستا پر ننګه بایلي    د هغو ولی ژړا ده
پر ننګ مړ خو څه مړ نه دی    د بې ننګه ژوند جفا ده

هر میړه چه سی بې ننګه پلار ئې سپی وي مور ئې غوا ده
لاس به وانخلم له ننګه که په ننګ پاته دنیا ده
چه سر پریکړي "احمد شاهه"
د هغو مینه رشتیا ده

قافله د عشق راغلیه له کوم خوا ده[1]
پر زړګي باندي میشته کا څه غوغا ده
پرې پوهیږم زړه به بیا له ما څخه یوسي
چه دا هسي نن راغلیه دلربا ده
ټوله یو دی که غلجی دی که اودلی[2]
ښه هغه چه ئې د زړه ښیښه صفا ده
چه عمل ئې د نیکئ وي میړه هغه
که اغوستي ئې ګدله له خمتا ده
د خالق په ور قبول دی نیکو کاره
نیکو کارو څخه د لوی څښتن رضا ده
پښتانه دی ټوله لاس سره یو کاندی
چه مو نن غزا هر لوري شا و خوا ده
بې زحمته راحت چیری مونده نسي
د "احمد" ځکه په هر لوري غزا ده

دا دلبره ګل عذاره په زلفینو ده مشکباره
نازنینه پري مخه ده راغلیه له ګلزاره

۱. دا بدله په (ب) او (پ) نسخو کي نسته.
۲. اودلی یعنی ابدالی چه د درانو پخوانی نوم دي. په پښتو کي متل دی"چه اودلی ودوی ترین یې ورا ده."

توری سترګي ئې ګولۍ　　خطا نه ځي له ګزاره
عاشقان ئې زخمي کړي　　په قد سبر د جویباره
شوخه شنګه ده هر ګوره　　څه بلا ده یا ستاره!
دواړه زلفي ئې کمند دی　　ویره نکا له آزاره
سوری کړي ئې دی زړونه　　لا مړه نه ده له ښکاره
دا د زړه پر میدانونو　　همیش ګرزی شهسواره
چه دا هسي ښایسته ده　　شرم ستا ښائي ګلزاره!
سیمین تنه ګل بدنه　　هوسۍ سترګی زړه آزاره
عنبر بویه سنبل مویه　　پوره وړې له عطاره
ګل به حسن ځني پور کا　　که خبر سي له سینګاره
په اورو سوځي پیزوانه　　همیش ډک شي له انګاره
ته د یار پر شونډو پروت یې　　خبر نه یې له کوکاره
زړه می سوځي تر قیامته　　شونډي سرې ده ګل رخساره
په نظر کي تیز نظره　　کاته نه کوي غفاره!

بل پناه د "احمد" نسته
مل ئې سې پروردګاره

رایشه ته نن وګوره　　دغه مسته شاه سر توره
که اشنا یې له یقینه　　مه شرمیږه له پیغوره
برابره نښانه ځي　　د دې مست بازو له زوره
چه د میني غشي ووري　　سکه د زړه سوه وینه توره
چه د عشق لښکري راسي　　خراب زړه باسي له کوره
بې سوځلو آرام نکا　　بیګانه له پلاره موره
دم په دم ئې یار یادیږي　　تېر سوی لکه سکوره
همیش وچي شونډې ګرزي　　بیا له غمه ګونه توره

درد ئې سخت د اشنايۍ　　　جدايی ئې ده له اوره
بيلتون وصل ګڼه يو دی　　　زړه خلاص نه د غم له شوره
يو د يار غم سي "احمده"
د رقيب طعنه لا نوره

نن زما شها دلبره　　　ده عجب شير و شکره
دل آرايه عطر سايه　　　مه جبينه، مو کمره
هوسۍ سترګه، ګل اندامه　　　زړه آرامه مه پيکره
توري سترګي دلربايه　　　خوږه شونډه قد عرعره
در ګفتاره، خوش رفتاره　　　جوړه سبر، صنوبره
هم سپين تنه ګل بدنه　　　جهان ګيره سراسره
پر طربه، سپين غبغبه　　　خوش آهنګه تيز نظره
د دلبري له صفاتو
"احمده" چيري دی خبره

څه وايم د ميني زوره　　　چه سړی سيځې بې اوره
هم په درست عمر نوليږي　　　وچي شونډې ګونه توره
په ژړا ژړا دی درومي　　　ياد ئې يار وي نه له نوره
که ئې سر په تاوان ورکا　　　نه خلاصيږي له دې پوره
چه د ميني هسي غم وو　　　کاش پيدا نه وای له موره
چه جهان تې نظر نه وو　　　ميني وياسته له کوره
هم ئې تير تر نام و ننګ کړه　　　شرم نکا له پيغوره
جدائي يې د زړه اور ده　　　سر ښندي د عشق په توره
ستا په نام دی بد نام شوي　　　د اشنای په سترګي ګوره

"احمد شاه" دا وای دلبره
د رقیب خولې ته مه ګوره

که هر څو په زړه ډیر ډک یم اې دلداره[1]
چا ته وایم د زړګوټي له پرهاره
له اوله مي زړه ستا پر څڼيو بایلو
اوس مي خپلي میني زړه ویوست له کاره
چه لمبه ئې د پیزوان په زړه بلیږي
که مین وي دی به مړ سي له چیغاره
چه د باز په دود بیا چیري نظر وکړې
زړه مرغه سي په هوا کي نا قراره
یار هر څو که پر مین جورو جفا کا
عاشق خوښ دي د دې حسن له درباره
که په شل تیغه بلبله حلالیږي
دا به کله سي خاموشه له ګلزاره
"احمد شاهه" دلته جوړه سربازي ده
د لوړتیا خرید کوه له دې بازاره

ځما جانانه! زړه مي چوي اې دلداره
تل د زړه ویني بهیږي په رخساره
نه پوهیږم د اشنای په زړه مي څه دی
پدا فکر مضطرب لخپله کاره
چه شها مي تل پریشاني زلفي ګوري
زړه مي ریږدی د مژګانو له ګزاره

---
۱. ب

و کاته ته ئې کاته برابر څوک کا
چه کاته د یار خنجر ګڼه آبداره
په ښه زړه "احمد" د یار په عشق ورتیږي
د پتنګ په دود بې ړغه بې چیغاره

په اشنای پسې تل ولي سوې څما دله اوتره[1]
که شهینه د عشق ریزدې همیشه لکه کوتره
مګر سرې لمبې دي خیژي دا د هجر له دماغه
چه د سر له سترګو ووري د زړه ویني له څګره
دغه عشق په هوس چا موندلی ندی څما جانه
دا ګولۍ له خپله یاره پر څګر سي برابره
یو اشنا د بل اشنا له حاله مه سه بې خبره
خاموشي پر یار له یاره د اسمان لګي ډبره
هر یو حسن په دنیا کي بیا زیور او تکلیف غواړي
مګر خدای دا یو ستا حسن ښایسته کړ بې زیوره
عاشقان دی څما یاره لور په لوري خورا ډیر دي
"احمد شاه" ستا د دربار دی مه ئې باسه له نظره

بړ بړ رایشه څما تازه بهاره
چه د ګلو تماشې سي له ګلزاره
چه دا هسي آرزومن وو ستا و لور ته
بلبل څکه مدام ګنګ وله چیغاره
که نسیم سهار وړمه د ګلو راوړي
د عشاقو زړه به خلاص سي له آزاره

---

۱. ب

درد مندان کله په درد سره پوهیږي
په هر ځاي چه ګفتګو کیږي له یاره
د فراق ویني به څه غوارې له مخه
د هغو چه سترګی ویني ستا رخساره
د عاشق به څه هراس، ویره په زړه وي
چه ستا اسم ئې اوده له دې ښاماره
په دا حال پوښتنه څه کوې "احمد"
په سر خرید دي تل د حسن له بازاره

په زړه ډک یم له سروره[1] ستا د مخ له ښه حضوره
که نظر دي پر ما تل وي نفس به ووژنم په توره
که مي نفس له منځه ویوست ځان به ډک کړم ستا له نوره
زړه مي زخم په تیز نیښ کړ دې رقیب لکه زنبوره
په امید ستا د لیدن کي زه ځان نه وینم صبوره
پخپل خم دی "احمد" رنګ کړ
ځکه سو هسي مشهوره

خلاص به نسم په هیڅ رنګ د عشق له پوره[2]
دا د عشق لښکري راغلې لور د لوره
خراب زره مي مدام سوځي لاندی باندی
محبوبا دا ستا د سره پیزوان له اوره
له دې غمه به غر هم هسي نولیږي
څه طاقت دي د دې غره د عشق له زوره

۱. ب
۲. ب

چه دا ستا دلبری نه وی اې دلبر
د مین پدا سبب وی سترګه کوره
بې لتا ئې سر انجام په دنيا چيري
د عاشق دا مینه سویه تکه توره
که هر څو صبر د زړه کړم صبر نسي
د خیال آس دی یاره تند وینم هر ګوره
یاره ستا د حسن هسي راز کشش دي
بې اختیاره "احمد شاه" باسي له کوره

نن مي وليده ولاړه محبوبا په ژيړه غاړه
د اخلاص جنګ ئې له ما کړ په ستنه را څخه ولاړه
په ژړا مې زړګی ورک و په خندا راته ولاړه
راته ووې حال دی څه دي اې ځما په غم ويجاړه
زه هميش له تا سره يم بيا پخپل اوطاق مي غواړه
که له تا سره زه نه وم بيا هاله را پسې ژاړه
ته خو تل غوټه ګريوان يې او د عشق مزی په غاړه
دا ويل به "احمد" نکړه
که پرې عشق نه واي لتاړه

څو در نسي تا ته اور د عشق له سوزه
خبر دار به نسې ته له دې رموزه
دا د عشق خبري چيري دی اساني
کړه د کبر خولۍ ته له سره کوزه
ته ځما پندونه واروه که پوهيږې
يقين باسه د ګمان له دې تموزه

دا ګمان لکه واښه یو پر بل کښېږده
بیا د عشق په اور ئې وباسه ډډوزه
څو ډیوې د علم دي همیشه بلې
د غفلت په تیاره څو ګرزې عجوزه
دا یقین، علم له ځانه سره مله کړه
د همت په وزر والوزه الوزه
رضا خپله زړه د یار نه سي ”احمده“
ګڼه چا په لاس نیولی دوه تربوزه

ته چه هسي په خیال خیال ګورې له نازه
نه پوهیږم نه خبر یم ستا له رازه
لږې ځما په وینو ترې پنجې نګاره!
ستا پنجې که نګار وي یم سر فرازه
د پیزوان لمبې تر زړه چاپیر هوس کړم
ګندي مومم ستا وصال له دې ګدازه
”احمد“ یار چه په زړه نه وي لمونځ به څه کا
چه بې یاره لمونځ کوی هغه بې نمازه

ته له درده مه ویریږه
ستا کمال دی وسهیږه
چه له ځانه دي بی ځان کا
په خبرو و پوهیږه
معشوقه ترخه ویل کا
په ترخو ئې مه کهیږه
لکه قهر هومره رحم
په دا قهر مه نولیږه
د اشنای لیده باران دی
لکه مځکه په اوبیږه
د دیدن ګل به زرغون سي
ته بلبل غندی جاریږه

"احمد" نفس سره دعوه ده
ربه ته پرو رحمیږه

که هر څو راسې دپاسه — عشق به نه وي بې هراسه
چه پخپله زړه مین کا — کا ارمان له خپله لاسه
و عاشق ته څواب ورکا — بیا نارې وهی چه راسه
څما مینه پر تا ډیره — ولی ته یې کم اساسه
هوښیاری بویه "احمده"
چیري پرینوزې له آسه

اې کم بخت لکه ګورکښه — څو به خورې د سړی غوښه؟
د دنیا په کارو زغرد یې — تراه له دین، لکه له لښه
نفس شیطان به راضي نکړې — کوم دښنه وي له چا خوښه
نه پخپله ښه وغواړه — د نفس څه یې ته بار کښه
"احمد شاهه" نفس دي وله
غشي کاږه له تیر کښه

که ووایم له تحقیقه — کلمه ده څما رفیقه
د ړندو سترګو ډیوه ده — بې له دې نسته طریقه
دا د دوو کونو کلی ده — تل له خپله له صدیقه
موږ بې غمه سوو له کفره — د کلمې له ښه توفیقه
په اسلام سړی اصیل دي — څه پوښتنه له فریقه
د توحید کلمه لوله
"احمد شاهه" له تصدیقه

دلربا نن دا ویله و عاشق ته وار ازغله
هر عاشق چه ځما هوس کړی سر ئې نه ووړ له بورجله
هر چه سر پر بورجل بایلي هغه زه کړم په سر خپله
ځما د میني می به نوش کړي روغ به نه وي له کوګله
ځما رخسار به ئې یادیږي ویني ژاري تل تتله
هر عاشق چه په عشق راست وي زه له ده نه یم غافله
که مي دی په لبره یاد کړي زه بې یاد کړم یو په سله
د اشنا سره مي راز دی غیر محروم دی له اوربله
برایی چیری وې "احمده"
شها سپینه خوله ویشله

تاسي و پوښتي بلبله چه څه وائې دا له ګله
د خزان لښکر خپرې کړې خبر ندی یو له بله
د بلبل زړګی به څه کا خزان پرې یاسته پر بله
چه ګلان ځني بیلیږی بلبل آه وکړه له دله
کتای نسم د یار لور ته زړه مي چوي له کوګله
زه په غټو سترګو ګورم یاران والوت یو ځبله
په ژړا مي سترګي ځکه چه جرس ناره وهله
جدائي لکه اورونه په دې اور سینه چوله
په مرګ نه یم چه به مړ سم سل ارمان توره اوربله!
د ارمان ژړا پر دې ده چه بیلتون سینه ورژله
دا نړۍ ګوره "احمده"
چه په څه ویر تیریدله

اې څما خرابه دله!          ورسه و پوښته بلبله
د بیلتون یو هسې اور دی          دود ئې خیژی له کوګله
په نور رنځ خو صبر کیږي          دا رنځ دی بې تحمله
د بهار ارمان به نکړم          ستا بهار دی تل تتله
چه دی حسن چمن وینم          تل تازه اوسې اې ګله
محبوبا که مستغنی یې
بیا هم ګوره ما ته کله

دلبره خوش خرامه          په حسن ده تمامه
په حسن ده تامه          زړه ئې یوړ بې آرامه
زره ئې یوړ بې آرامه          دا د عشق له سر انجامه
دا د عشق له سر انجامه          عاشق سو تل ناکامه
عاشق سو تل ناکامه          دا د سرو شونډو له جامه
دا د سرو شونډو له جامه          زړه تل دی بې آرامه
زړه تل دی بې آرامه          عجب خاندي ګل اندامه
عجب خاندي ګل اندامه          نن را کوزه شوه له بامه
نن را کوزه شوه له بامه          غه مسته ده ګل فامه
غه مسته ده ګل فامه
"احمد" ولیده تمامه

زړه مي تا یووړ صنمه          کړې مدام د دیدن تمه
که دی ښاد په لیدو نکړ          دی به ومري ستا له غمه
پر ګدای که نظر وکړې          ستا لوئي به نسي کمه
زړه چه ستا په لیدو ښاد وي          هغه زړه وي تل بې غمه
تل د ګل په دود خندا کړی          هم خالی وي له ماتمه

مېني هسي ډېوه راكړه　　دا ډېو په لاس كي ځمه
چه د مېني شاهی مومم　　بادشاهی به څه كومه؟
تل د مېني پر لار درومه
دغه لار "احمده" سمه

ښايسته د باغ ګلونه　　پر مخ زيب كا شنه خالونه
د ښايست مخی ئې نسته　　سره لبان سپين ئې غاښونه
هم خوشخويه عنبر بويه　　توری زلفی تور مارونه
په قد سبر صنوبره　　سپين چوړا ئې مړوندونه
په څه شان كوی زيبونه　　چه دا سره كا سره لاسونه
ګل رخساره لاله مخې　　ورته چوی مين زړونه
ليندۍ وروځې باڼو غشي　　پر عاشق ئې ګزارونه
دا جهان ئې مسخر كړ　　هميشه كا ناتارونه
د ياقوت په شان ئې شونډې　　په خزان وچ سه پانونه
د غاښو ئې تجلې ځې　　بې بها لكه درونه
لونګين ئې دی په غاړه　　پر زړه كاندي رفتارونه
دلبري يې رنګ په رنګ ده　　سره نوكان لكه لالونه
آشنايي يې نا قراره　　ګاه ښادی، كله غمونه
ځان په حسن آراسته كا　　څه عجب ئې خصلتونه
"احمد شاه" د ښې طوطی دی
وسكه ډېر كا چيغارونه

څه عجبه نازنينه　　توري چينې مه جبينه
يو دا هسي مخ لرينه　　ناليدلي زړونه وړينه
زړه آزاره شوخه شنګه　　تل په وروځيو جنګ كوينه

خوش آهنګه پري مخه ګوره زړه اخلي په مینه
سبر قده ګلعذاره خوش رفتاره ځي مهینه
هوسۍ سترګی ګلبدنه تل په زړونو تاخت کوینه
سپین ئې غاښ دی مرغلري بې بها قیمت لرینه
سنبل مویه کوږ رفتاره تل د زړونو سر وهینه
ناز پروره ده مهرویه دا غمزه ئې زړه سیځینه
خوږه ژبې خوش زبانه څه شو اور که لګوینه
د خوبا تعریف مې وکړ مینان به ئې لولینه
په دعا دی "احمد" یا کا
هر چه دا غزل وائینه

زه به څو کړم ارمانونه مینان په هجر ځونه
د راتلوو لاری نسته بیلتون کاندي ګزارونه
دا دنیا د غم رباط ده پردیسان ځي تېپي زړونه
چه یاران ځبله بیلیږي ولی نه چوې لړمونه
نیاز من ډلي ډلي درومي په ارمان پریږدي کورونه
ساندي وایم د یارانو په فراق زړه پرهارونه
"احمد" نه وائې یوائې
سینې ډیري کبابونه

پسرلی شو زیړ ګلونه پرې بلبل کا چیغارونه
د سهار لمر چه راوخوت پرې چمن کوی بړیبونه
لمر روڼا ورځ کړله ولاړه توره شپه په ارمانونه
محبوبا په سیل راغله په خندا سپین سپین غاښونه
مخ ئې لمر غندی ځلیږي آراسته په شنه خالونه

د چا لاس ور نه رسیږي پیزوان اور سیځي کورونه
د عاشق په ښکار راغلیه خال دانه زلفي دامونه
د شمال منت را باندي چه پریشان ئې کړه تارونه
د پیزوان اور نه لګي
د "احمد" زړه سو داغونه

لور په لور د باغ ګلونه[1] یادوي کښلی مخونه
بهار ښه دئ زړه تازه کا بد خزان وچ کا ګلونه
ما بلبل پر ګل ناري کړې کړم خزان په زړه داغونه
ناپوه زړه مي صبر نکا تر دا میان شوه هوادونه
زړه مي چاک دئ روغ به نشي د شهي په شنه خالونه
د یار وصل مي ګړنګ سو ورسي د چا لاسونه؟
وصف د یار به تمام نه وي
"احمد" جوړ کړه کتابونه

زړه مي بایلو بیا دا ستا پر شنه خالونه[2]
نه پوهیږم څه به پیښ سي روزګارونه
همیشه روزګار د عشق د درد و غم دي
درده رد ستا په دیدن سي ملهمونه
چه روزي د چا وصال د اشنا نشي
خوار خسته به په عالم وي وچ شونډونه
څه ښادي د خوار عاشق چه ئې بې تا کا
له بیلتونه ئې خوړلي خنجرونه

---
۱. ب
۲. ب

دا ستا وروځی چه بې درنګه غشي ولي
نو عاشق زغمي د غشيو پرهارونه
"احمد شاه" په زړه زخمي که ورته ګورې
چه رغيږې په ليدو ستا زخمي زړونه

باده يوسه ځما و يار ته سلامونه[1]
ژاړه وايه و دلدار ته سلامونه
د خزان په تيريده بهار هوس کا
چه ارمان سي و اغيار ته سلامونه
خيال مي ستا صورت منظور لکه مرآت کړ
په کاته کړم و هندار ته سلامونه
که سلام کړم هر سلام مي د زړه داغ سي
کشکی تل کړاي ستا و دار ته سلامونه
د بلبل په دود هميش په بهار ژاړم
زړه بلبل کا و ګلزار ته سلامونه
عشق ژړا او بې صبری نده بلبله
د پتنګ په خير کړه نار ته سلامونه
چه و يار وته سر کښيږدې "احمد شاه"
که پر دار وي کړه و دار ته سلامونه

زړه د يار په فراق چوی هم لړمونه[2]
بيا را مه سې د اشنا سخته بيلتونه

---

۱. ب
۲. ب

هر چه زیست روزګار د چا مدام له یار وي
بې له یاره ئې روزګار پر ځان اورونه
که ژوندی وي هم هغه په زړه بیا مړ دی
څه طاقت د بیلتانه له شو اخونه
د دنیا ساعت خو هر رنګه تیریږي
نه تیریږي د یار هجر لکه غرونه
اې دلبره ته چه خدای لکه عنقا کړې
و عنقا وته د چا رسی لاسونه؟
چه امید مي ستا و لوري ته پیدا سي
لکه ګل د پسرلي کړم هوسونه
چه له خوبه ویښ سم ګورم زه جدا یم
په ژړا د سترګو جوړ سي دریابونه
"احمد شاهه" هغه تل په زړه نولیږي
چه پر جوړ د اندیښنو سي ناتارونه

تیر سوه پدا دهر، ځما د عمر ډیر فصلونه
هسي پکښي راغله، رنګارنګ ژیړي ګلونه
جمع د یارانو په دنیا کي ښه بهار وو
ولاړه له دنیا څخه سینه سوې چاودي زړونه
د بلبل و نصیحت وته که غوږ کړې هسي وائي
هغه ځای چه ګلستان و، پر ولاړ دي اوس خارونه
اندیښنه د جدایۍ، د چا یو له بله نه وه
هسي بیلتون بیل کړه، اوس پر زړه لګی اورونه
هر چه د خپل ځان ناصح سو مرد دی"احمد شاهه"
خوار سو هغه څوک چه د ځان نه اروي پندونه

چه مي وليده په سترګو ګړنګونه[1]
زړه مي کښيووت بيا د فکر په ټالونه
ځما زړه د يار په غم ذرې ذرې سو
له ما هير سوه د دنيا دغه کارونه
که دی چيري زړه له غره پريوزی لا ښه دئ
نه چه کښيوزي په فراق د شنه خالونه
په تندي باندي مي داغ د لاله کښيښو
ما چه وليده اوس غم د رخسارونه
پرديسی ئې هسي ويستم له واکه
چه په تلو مي ملګري نه کا غمونه
د اشنا د اشنايۍ ساتنه ګرانه
ولی سته په اشنايي کي ډير تورونه
خراب زړه مي يووړ ډيري بې صبرۍ
په کوم زړه به لتا زه کوم صبرونه
د خپل زړه خپلوي پيدا کړه "احمد شاهه"
چه بې زړه نسي هيچيري روز ګارونه

هميشه ځما ياديږي ستا د مخ شينکي خالونه[2]
بيا له خپله خدايه غواړم ستا د وصل ښه مرادونه
اوس د زړه کښتۍ مي ولاړه په درياب کي طوفانی سوه
لا به کله تر ما رايسي دا ستا د مراد بادونه
ملامت به مي هيڅکله ستا په عشق کي څوک نکاندي
چه ليدليه وي په سترګو ستا د مخ ځينی تارونه

---
۱. ب
۲. ب

اور ځما په زړه بلیږي، درد مي بیا پسې زیاتیږي
چه مي وروځی و یادیږي، ستا د شونډو پیزوانونه
چه لیدل مي لتا وشوه، زړه مي پریکړ له عالمه
کوم عاشق دی چه په عشق کي د یار یاد لری کورونه
د "احمد" د زړه خوښی به په قلم هر کز را نسي
چه خپل یار ور لره راسی، په خندا په سپین غاښونه

څو به ګرزم اور سوځلي له بیلتونه[1]
زړه مي وسو همیشه په ډیر فکرونه
څه به وسی که پلو له مخه واخلې
چه عاشق دی تماشا کا د خالونه
په بیلتون کي د بلبل په دود ژړا کړم
که ښکاره کړې د شهلا سترګو ګلونه
د رقیب په مرضی مه ځه اې دلبره
عاشقان دي دامنګیر دي سوی زړونه
دا د عشق لمبې دي خود پر زړه پیرځو دي
چه ځلیږي ستا پر شونډو پیزوانونه
په ډاډه د زړه په صبر سره ناست وم
اوښیو مات کړه ځما د سترګو حصارونه
چه چمن دا ستا د حسن را پیاد سي
زړه بلبل سي ستا د ګل په رخسارونه
د نسیم په الوتلو زه نولیږم
چیري نه وي چه ستا زلفی کا تارونه

---

۱. ب

زه له خپله بخته هومره ياري غواړم
چه سجود کړاي ستا د وروځيو محرابونه
په وصال مي نه کاته فائده ئې نسته
اوس که موړم د ارمان دواړه لاسونه
چه د عشق په هوس راغلې "احمد شاهه"
اوس ترو واخله د عشق دا درانه بارونه

څه طاقت دی ياره ستا په دا اورونه[1]
چه مي ږدې هميش پر زړه باندي داغونه
چه مي زړه دا هسي سوځي هومره بويه
چه تر ګورم ستا د مخ زيبا ګلونه
د فلک له کوږ رفتاره ماڼه نکړم
زه چه وينم واړه ستا دا رفتارونه
ستا د حسن تأثير چا ليدلي ندی
چه ئې ووينې نوليږي هغه زړونه
څو چه ته ئې په نظر يې زړه بې غم وي
او که نه د انديښنو پر قطارونه
که اميد دي د وصال په زړګی ورسي
عاشق ښائي که د سر به ږدي نذرونه
د دنيا په دا ښادي مي هوس ندی
"احمد" ستا د ليدو تل کوي فکرونه

---

۱. ب

ګوره والوته مرغونه[1] بیا په تور او سپین ځنګونه
دغه پښې ئې دي پر مځکه سر ئې نیسي اسمانونه
په سینه کې ئې اوبه دي پکښې بل دي سره اورونه
دا خورک ئې نور څه نسته په منګلو وړي لوی غرونه
خدای جهان هسي پیدا کړ دی آباد په همتونه
هر چه دا بیان ئې وکړ
"احمد" نیسي ئې لاسونه

مخامخ ده سره لاسونه[2] بې صرفې و هسي سرونه
عجائبه سپینه غاړه پکښې یښې شنه خالونه
سپین رخسار ئې خزانه ده توري زلفي ښامارونه
مسیحا نفس شها ده چه ژوندي کا سوي زړونه
دا لاله د غره به واخلي په لیدو د زړه داغونه
عاشق ریږدي لکه صید په باڼو کوي جنګونه
د "احمد" زړه به سوړ نسي
که هر څو کا صفتونه

کشکي ورک سې له جهانه اې بیلتونه
چه همیش دی سریکار له ځګر خونه
پر هر چا چه ستا د غشیو ګزار وسي
د درد تاو ئې مدام خیژي له لړمونه
دا د اور د سویه هر رنګ علاج کیږي
بې علاجه په زړه ستا لګي اورونه

---

۱. ب
۲. ب

بې له خدايه ئې د هيڅا اسره نه وي
په هر وخت چه راسي ستا د غم فکرونه
"احمد شاهه" واړه غم د آشنايۍ دی
بې له دې به سينې نه وي کبابونه

ستا د عشق له وينو ډک سوه ځګرونه[1]
ستا په لاره کښي بايلي ځلمی سرونه
تا ته راسمه زړګی ځما فارغ سي
بې له تا مي انديښنې د زړه مارونه
که هر څو مي د دنيا ملکونه ډير سي
ځما څخه هير نسي دا ستا ښکلي باغونه
د ډهلی تخت هيرومه چه را ياد کړم
ځما د ښکلي پښتونخوا [2] د غرو سرونه
د رقيب د ژوند متاع به تار په تار کړم
چه په تورو پښتانه کا ګزارونه
د "فريد" او د "حميد" دور به بيا سي[3]
چه زه وکاندم، پر هر لوري تاختونه
که تمامه دنيا يو خوا ته بل خوا يې!
زما خو خوښ دی ستا خالي تش ډګرونه
"احمد شاه" به دغه ستا قدر هير نکا
که ونيسي د تمام جهان ملکونه

۱. په ب او پ نسخو کي نسته.
۲. پخوا پښتنو خپل مملکت "پښتونخواه" باله.
۳. فريد خان يا شهنشاه سوری، او شيخ حميد لودين د پښتنو مشهور شاهنشاهان وه.

ښایسته عجب جلوه وه　　چه همیش له ما سره وه
مشته نه د صورت خټه　　چه پر زړه هله ناره وه
د وحدت له ملکه ویښ سوم　　اروا، جوړ بله ډیو وه
دا بیلتون د اروا نه وو　　په تقدیر صورت پرده وه
لمر بې سیوری دی "احمده"
ولي ستا صورت سایه وه

زه زاری کوم له آله　　شرمنده یم پر ګناه
نا امید ستا له رحمته　　تللی ندی له درګاه
د تا فضل کرم ډیر دی　　له عمل یم روسیاه
په عمل می باور نسته　　کلمه به کړم پناه
چه و خپل عمل ته ګورم　　وایم کشکی وای ګیاه
نفس شیطان را سره مله دي　　نسي یو کار عندالله
که تلاښ کړم نه خلاصیږم　　د شیطان له بده څاه
که د زړه ساتنه وسي　　سترګي څرنګ سي نګاه
ته یاري غواړه "احمده"
له ښه خدایه نه له جاه

نن دی وخت دئ ګوره ته نسې بیراه
ګڼه دا چه ورځ د عمر ده بیګاه
کمیني شکستګي د تا کمال دئ
خود بیني په بدایي ګڼه تباه
چه پخپل عمر غره وي ناخبره
یوه ورځ اجل ګزار وکا نا ګاه

لاس به موړې سود به نه وینې هیڅکله
قافلې د عمر تللي دي کوتاه
له ګټلي څه یو نسې و عقبا ته
نا امید پا برهنه ځي مخ سیاه
چه دا هسي روا رو دي دی د عمر
ولي نه وایې "احمده" الا الله

نن خبري بیا په ورو که — چه بیا څه چرې په زړو که
له عاشقه څه لیدلي — چه پوښتنه د نومو که
دانا تار ګڼه کوینه — دا تحقیق چه د کورو که
په کاته ئې زه پوهیږم — چه قتلونه د سرو که
چه پیزوان ئې سرې لمبې کا — زړه به پوري په اورو که
که عاشق کا فریادونه — د قهر ګوتي په غوږو که
که ئې مخ راته ښکاره سي — پټ ئې څیني په تارو که
که نظر کړې "احمد شاهه"
زړه به باغ د ښو ګلو که

زړه مي هسي له بیلتونه نالیده[1]
چه زګیروی مي عالمونو اوریده
چه مي ګډ وو زړه د حسن په بازار کي
خدای زده ویښ وم که مي خوب پریشان لیده
د زړه ګل به مي له خاور کا سر پورته
که نسیم له کوهستانه وزیده

۱. ب

زه که تږی د زنخ په اوبو راغلم
بې رضا د یار، رضوان نه رسیده
بلبل زړه که په هوس د ګلستان و
ولي دی بیا له خزانه لړزیده
د بیلتون غشي می مات سو په ځګر کي
په دا غم کي زړه کباب شان ورینیده
"احمد شاهه" په جهان کي دی څه شان دئ
چه مین دی په ارمان روانیده

# (ی)

اې بلبله چه پر باغ دا هسي ناځې[1]
عاقبت به په ژړا له ګله پاځې
دا مینا ده د سرو وینو سره خاندي
چه د عشق پیالې ته څښې ویني به څاځې
که هر څو عاقل یې عشق به دي نادان کا
پدا ملک ده بې عقلي که په ځان ښاځې
عشق خوږه ګوله زقوم غندي ترخه کا
چه ئې وویني خوند نکا خپلي پیاځې
د وصال ورځي یادیږي زړه تا خون کا
د بیلتون شپې لکه وی توري سماځې

1. دا بدله او روستنۍ بدله دواره له (ب) نسخې څخه دی، په نورو کي نسته، په دغه بدله کي ښاځې کلمه حل غواړي.

څو له خدایه یاري نه وي "احمد شاهه"
د دنیا به جوړې نکړې...[1]

په هیڅ رنګه نه تیریږي یار ستا د بیلتون ورځي
لا به کله را ښکاره کړې نمر د وصل له وریځي
ما بیا کله ستا رضا نه ده منلې اې دلبره!
همیشه مې په زړه پوري د تهمت وچې پیلوځي
خراب زړه مې ګویا مړ دی د ژوندون هیڅ حال ئې نسته
لږ و ډیر چه څه غمیزیږي بیا دا ستا په امید خوځي
که کرم دي د بهار ځما په مځکه به وار راسي
په لمړی پسرلی به زه هسې رنګ شین سم لکه ښیځي[2]
د عشاقو څه حجت وي چه ئې کاله رقیبانو
معشوقې ئې په وینا شوې همیشه له ده سره ځي
په رضا د یار رضا سه که پوهیږې "احمد شاهه"
ته بیا څه لره خاطر په اندیښنو د دنیا سوځې

چه دا شان په لاله زار ځې | در پوهیږم په ازار ځې
بیا دي حسن آراسته کړ | د ښکاری په دود په ښکار ځې
دوې دی زلفي پر مخ دام کړې | له عاشقه بیا کنار ځې
دوې دي سترګی قصابی کا | د سرونو په بازار ځې
دواړه وروځی دي لیندۍ کړې | بیا د زړونو په ناتار ځې
ده و هر چا ته معلومه | خوي مجنون په زړه هوښهار ځې
ستا د عقل لږي نسته | که د عقل په مدار ځې

۱. دلته دوې کلمې په اصلی نسخه کې نه ویلي کیږي.
۲. یو راز خودرو واښه دي، چه په لمړی پسرلی شین سي خلق ئې پخوي.

"احمد شاهه" توکل کړه
په اختيار پر لور د يار ځې

عجب خوښه په خمار ځې    تل د زړونو په بازار ځې[1]
ته و چا وته هم ګورې    که تل هسي کوږ رفتار ځې
ته پخپله رضا درومې    له عاشقه په کنار ځې
هيڅ ته نه کوې پوښتنه    هميشه زلفی تار تار ځې
ياره هيڅ در نه پوهيږم    چه دا ولي په آزار ځې
د "احمد" زړګی دی يووړ
چه هميش ته په ناتار ځې

زړه چه هسي ناقرار ځې    په هواد د کوم ديار ځې
د مين لوری دي کوم دي    چه دا هسي تيز رفتار ځې
دا مقام دي د پټ خوليو    ته نو ولي په ګفتار ځې
ګڼه يار دی ډير ياديږي    چه دا هسي په کوکار ځې
د خپل وينو مي به نوش کړې    مست د سترګو په خمار ځې
دليل پريږده يقين ګوره    څو پر نقش د معمار ځې
د بې رنګه رنګ وګوره    د وحدت که ته پر لار ځې
که يقين در غخه ورک نسو    د معنو په لاله زار ځې
چه بلبله د دې ګل وې    نو به اوس ته په چيغار ځې
د معنی معني به واخلې    که له مغو غخه کنار ځې
مشک به راورې غشي واخله    که هوسۍ لره په ښکار ځې
"احمد شاه" رقيب به ومری
که په لاس زلفي د يار ځې

١. ب: ګوره بيا په غه ناتار ځې.

ته چه هسی شان له غمه پریشان ځې[1]
زه پوهیږم د خپل یار پر لور کشان ځې
د اشنای ګلزار دي ډېر مګر یادیږي
چه بورا غندي پر لور د ګلستان ځې
لکه زلفي د دلبر پر مخ زنګیږي
هسی مست له خپله ځانه پدا شان ځې
د خپل سر ارمان دی پریښو تر یار پوري
په څو ځله له دیدنه په ارمان ځې
خپلي میني د مین لوري در وښو
بې خطره پر دا لور په شبستان ځې
دا نظر په تا د یار دی "احمد شاهه"
چه په فتحو د ایران د هندوستان ځې

ته چه خپل ځان هسي طور بې پروا لرې[2]
راته وایه چه وژل په خوله د چا لرې
بې له تا د خوار عاشق اسره ده کومه
ښائي یاره چه دا خپل مین په خوا لرې
چه رقیب عاشق سره دی چاره غوښتی
نو دا ښائي چه تل خپل عاشق پخلا لرې
ستا د حسن محتاجی اې یاره نسته
چه په خپله سپین سره در لال بې بها لرې
غم د زړه مه خوره هیڅکله "احمد شاهه"
چه د زړه غم خوره تل لکه شها لرې

---

۱. ب
۲. ب

چه مي يار په خندا راغی اوس غم چيري[1]
بيا درياب د اوښيو وچ سو نو نم چيري
په هغه سبا او دم چه آه قبليږي
هم هغه سبا او بيا هغه دم چيري
پر ښايسته ګلزار چه دور د خزان راغي
اوس هغه عندليب سترګي پرنم چيري
که نسيم د سهار ځما په مخه راغي
زه د ګل په څير خندا کړم شبنم چيري
دا د عشق په تير تېږي عاشق پاتيږي
اروا درومي له صورته همدم چيري
که هر څو دردمن په درد سره زهريږی[2]
چه ئې يار په ليدل راسي الم چيري
په طلب د ملهم څو ګرزې "احمده"
د عاشق د يار بې خولې دي ملهم چيري

دا د غم تيرې چړې
تل د زړه په خون لړې
په ليدو دی اې مينه
دی د چا سترګي مړې
په ديدن کله مړې دي
د کتو لاري تړې؟
په ليدو دي مړې نشوې
عاشق تږی سترګي وړې
او د زړو د سوي دپاره
سره پيزوان دي لمبې کړې
چه عاشق دي په اور وسو
نو بيا تا غصې خوړې
په اور سوی خو راضي وای
له ده يار سترګي سړې
د ليدو وږيو ته ورکړې
د ترخه ويل نمړې

---
۱. ب
۲. مخفف د زهيريږي.

و انګښ لره ئې بولې بیا وا څه غواړې سړې؟
"احمد شاه" به سر پردی کړي
کې له میني نه شړې

ته چه تل تر تله ځما زړه په تاراج وړې[1]
نو پر څه په جور زړه د دې محتاج وړې
زه د ځان په سود کې نه یم ستا په عشق کې
باری زړه ځما په ډول د خراج وړې
د جهان ده څه پوښتنه له آفتابه
زړونه یاره د خپل حسن په رواج وړې
دغه حسن دی علاج د درست جهان کړ
ځکه زړه می په دا درد کې نا علاج وړې
د عشق زهر د خواږه په څیر څکمه
پدا درد خوښ یم له ما څه ابتهاج وړې
څه به ګورم د جهان حسن که ډیر سي
محتاج ستا یم چه له ښکلیو واړه باج وړې
همیشه په عشق کې خوښ اوسه "احمده"
چه د یار هره خبره په سر تاج وړې

اې دلبره زړه ځما چه بې بهار وړې[2]
رضا ستا یم که مې سر له تنه بیا وړې
په هر لور د بیلتانه اور دی لګیږي
دغه اور دی بیا ګلزار چه یار په خوا وړې

---

۱. ب
۲. ب

تمامي عمر مي ستا په ژړا تير کړ
اې دلداره که ژړا له بینوا وړې
چه ته نمر د درست عالم يې نو بيا بويه
دا ذره د خپل دربار به په رضا وړې
نظر وکړه چه تياره له دله واخلې
زړه د غم په تاريکي شو که رڼا وړې
"احمد شاه" خو خپل زړګی په رضا در کړ
اې دلبره رضا ستا زړه وړې که ما وړې
ته د فکر په تاال کښیوتې "احمده"
دا د زلفو په تار بيا تر اوسه چا وړې

جانه خدا که ته کرم کړې[1] ما به خلاص له درد و غم کړې
چه په غم دی مبتلا یم دا کرم به څما ملهم کړې
چه را یاد سو زړه مي ريږدي هغه وخت چه ما به کرم کړې
د کرم ياد دی چليږي څه به سي که ما منعم کړې
زړه نهال می تل وچيږي کې د وصل په آب نم کړې
نفس، رقيب راته ولاړ دی ربه دا ټولۍ برهم کړې
نه څوک سته نه په چا ښاد یم بې له تا که مي خرم کړې
زه به هله ښاد خرم سم چه پر ښه جاري قلم کړې
"احمد شاه" به تل هوس کا
که د فضل دی رقم کړې

---
۱. ب

پر باړخو مي سپينيويني د هجران له ووره ولاړې[1]
چه د دې نيازمنو کړې په ارمان له کوره ولاړې
په ژړا سره هيڅکله بيا سکون د خاطر نسي
چه ټولې د ښو يارانو د فراق له زوره ولاړې
چه ئې چيري يادومه ياد ئې اور دی را لګيږي
چه د ګلو غوټۍ واړه د خزان له اوره ولاړې
دا دنيا خو د ماښام په دود ښکاريږی څه به وايم
چه شعلې د اور د هجر بيا له هر کوره ولارې
"احمد شاهه" هم هغه دي هميش خاندي هوسيږي
د عاشق کړی چه دا د معشوقې په لوره ولاړې

په باور کي که يقين در سره مل کړې
په رشتيا به سې که شک نه ته احول کړې
په رضا د يار تسليم خپله رضا کړه
په باور به دا يقين د ګمان ټول کړې
که ژوندون دی په ښه خوی کاوه له نورو
خپل پردی به هله ته له ځانه مل کړې
ښه فنا ده، د ژوندون معنا "انا" ده
که تر تير سوې سپينه خوله به ئې ته ښکل[2] کړې
له څلورو خوا به در درته ځليږي
که د علم روڼ څراغ ته درته بل کړې
روح له علمه روڼا اخلي هله زده کړه
"احمد شاهه" چه بد خوی په ښه بدل کړې

---
۱. ب
۲. کوښل.

غوړیشې زلفې دې بیا پر مخ جوړې کړې[1]
دا ځما په زړه دې بیا تیرې چړې کړې
زه به وړی ستر‌ګې تل تر تله ژاړم
ستر‌ګې ځما به په لیدو، کله مړې کړې
تل مې ستر‌ګې د فراق په اوښیو سوځې
خدایه کله په دیدن به ئې سړې کړې
د بلبل په څیر له باغه افسوس دا کړم
چه می بې یاره خوږې نغمې زړې کړې
د بیلتون ژرنده خو چیرې نه بندیږي
د عاشق د صورت خاورې یې وړې کړې
ستا د حسن بازار خود په خود سامان دی
څه حاجت دې چه د زلفو پکروړې کړې[2]
"احمد شاه" چه دی سر تور پرور ولاړ دی
که پر سر ئې ستا د فضل ښه بګړې کړې

بیا ته ولی نه شرمیږې اشنای ګورې نه پوهیږې
د یقین په لاره درومې په ګمان ولې دریږې
د دغه دریاب ماهی یې په یقین به ورسیږې
د ګمان صورت که واخلې ته دریاب په موج بهیږې
که ته دا اخلاص ونکړې تر ابده به نولیږې
شک فاني یقین باقي کړه په باقي به هوسیږې
دغه خپل یار به ووینې د یقین پر لوړ که خیژې
عمر نن دي که تلاښ کړې په تلاښ به ته ښادیږې

۱. ب
۲. کټ مټ ولیکله شوه، ممکنه ده چه (پیکړې) وي.

دا د نفس خویونه بد شوه ربه ته که ورحمیږي
زړه به خلاص کړي "احمد شاهه"
که د روح په خوله وییږي

په مضمون که و پوهیږي[1] بیا هاله به ومسیږي
ستا د عمر کاروان تیر سو هله ژر چه ورسیږي
که دی اوس عمل و نه کړ په قیامت به وکهیږي
د ځوانۍ غرور دی ډیر دي ځما په وعظ به څه کروهیږي
د دین لار سوه درته ګرانه اوس بې لاري ټپریږي
څه به وکړي "احمد شاهه"؟
اوس به خیر ته ترپییږي!

اې ځما دله کوکار کړي ولي ولي؟[2]
د یار میني په ناتار کړي ولي ولي؟
د یار مخ دی لکه ګل دئ ورته ګوري
بیا بلبل غندي جیغار کړي ولي ولي؟
په نامه د یار چه اوس هسي هوس کړي
له لیدلو ئې بیا ډار کړي ولي ولي؟
د شهۍ و سره پیزوان ته هسي ګوري
یون په سرو لمبو د نار کړي ولي ولي؟
د یار میني پورته یووړې تر اسمانه
بیا په غم ئې را غوزار کړي ولي ولي؟

---

۱. ب
۲. ب

"احمد شاه" چه مدام ستا د ګل هوس کا
نو خزان پر ده بهار کړې ولې ولې؟

توري زلفي تاووې بیا د زړونو غلا کوې
زړونه کاږې له کوګله په حسن خلق خپلوې
توري زلفي زنځیرونه عاشقان په ځیلوې
د باڼو ناوکی ولې بیا ئې ته ملهم کوې
ته بنیا د عاشقۍ کړې بیا عاشق په توروې
عاشق خپله رضا درکړه بیا ته څه ګیلې کوې
مخ ښکاره کړې بیا ئې پټ کړې عاشقان رنځوروې
پلو واخله لږ له مخه که ځما زړه رغوې
سره لبان دي عنابی دي بیا به څوک په کوښلوې
سپیني خولې خیرات دي وکړه
"احمد شاه" که ښادوې

نن مي بیا سترګی مړې شوې په دیدن وبله نزدې شوې
چه له یاره هم پیاله شوم د اغیار ټولۍ خپرې شوې
تور مخونه چاودی زړونه هم په سترګو ئې ایرې شوې
په ارمان لاسونه موږې چه پر موږه څه پیرې شوې
د دیدن خیرات ئې وکړ هم په کوښلو خولې خوږې شوې
د خپل بخت منت را باندې چه سینې سوی سړې شوې
د بیلتون په آور وې سوی په وصل ئې زرغونې شوې
دا ګلزار به هوس وکا چه تمام د منی شپې شوې
نور به تل کا هوسونه د عشق ګډې غلبلې شوې

"احمد" تل کوي شکرونه
په ليدو ئې تسلې شوې

د شهې زلفي تار تار دي ګوره زيب د سپين رخسار دي
همیشه پر سپینه غاړه دوی خفته لکه ښامار دي
ماران پروت وي پر کنجونو دوی و زړه ته په ګزار دي
ښه د دې د مخ ګلونه غوړيدلی په سهار دي
زلفی دام خال ئې دانه ده پکښې نښتی سل هزار دي
د جنت خواست به هغه کا چه غم نه لری وزګار دي
نور خواستونه د جنت کا
زما د يار کاته په کار دي

بيلتانه مي زړه سوری کړ پوری ووری
چه طاقت مي نه په نمر سی نه په ستوری
د دنيا قيامت دغه دی که پوهيږې
چه اشنا له تا بيليږي ورته ګوری
سخت زړه کاڼی په هيڅ رنګه نه نرميږي
چه بيلتون به کړي دا سپينی لاری توری
بيلتانه په زړګی هيڅ اثر نه کيږي
په ژړا که دی زړه چوی، سترګي کوری
بيله صبرې هيڅ علاج په نور څه نسي
کا بيلتون په چا د غم سکروټی پوری
هم په صبر علاج چيري سي نادانه
چه ياديږې د اشنا زلفيني توری

## "احمد شاه" د بیلتانه خبري پریږده
## کړه خبري د وصال نادري نوری

زړه ځما ولی پریشان دئ — ګنه یار پسې کشان دئ
زه پخپل زړه نه پوهیږم — چه تر حده ډیر نادان دئ
اشنای چیري کا پوښتنه — چه مي یار ولي ګریان دئ
ځما زړه پسې خوږیږي — په ژړا ځما خندان دئ
یار دی تل اوسی خندانه — خاموشی د یار خزان دئ
خدای دی نکا یار ملاله — ځما غم د زړه آسان دئ
ځما د یار رضا په کار ده — چه رضا د یار ایمان دئ
که مي یار په سر خوښیږي — تر قربان مي شیرین ځان دئ
که هر څو کړم زه فکرونه — یار باقي عمر چلان دئ
ارمان نه ګڼم زه عمر — ځما د یار بشر ارمان دئ
که د زړه په مدعا سي — ځما قبول یار پر جنان دئ
یار به ولی قبول نه وی — ښایسته ګل د بوستان دئ
په دیدن کي ئې شک نسته — نادیدن ځموږ ګمان دئ
که هورې وی که دلې وی — دی د هر خاطر جویان دئ

ته خپل زړه ساته "احمده"
یار په هر زړګي پوهان دئ

مخامخ راغله زیړۍ — رنګ ئې ګل سترګي ګولۍ
د مینو زړه ئې یووړ — په هوس لکه هوسۍ
توری زلفی ئې کمند دی — د عاشق د سر زندۍ
ډیر په حسن آراسته ده — راځی هر چه تاب لرۍ
دوې ئې لیځی مسرۍ توري — تل وهي د سر مرۍ

خود پرسته، پري وشه          تل په زړه کوی بازۍ
نازنينه ده دلجويه          له هر چا کوی يارۍ
مخ ئې لمر، سترګې ګلونه          کا په سترګو قصابۍ
د مين په زړه بلا ده          ګاهي غم کله ښادۍ
د مکرو داوڼ په سر کا          کا پخپله دلبرۍ
قتلول د دې خويونه          تل د مرګ کا تيارۍ
خال دانه کا څينې لومه          مين بند ټولۍ ټولۍ
قتلول مي سعادت دی          پرديسی ډيري خوارۍ
قتلول د يار دواړه جهانه
”احمد“ خو نه ده پرديسۍ

که ته څه نظر پر ما کړې          نو به ما له ما سوا کړې
که ته ما له ما سوا کړې          نو حاصل خپله رضا کړې
زه دی صيد ته صياده          صيد زه يم ښکار د چا کړې
د چا لاس درنه رسيږي          په نظر جهان فنا کړې
د سهار فيض به مومې          که پر ګل باندی غوغا کړې
”احمد“ ستا د ليدو تږي
کې اوبه ستا په لقا کړې

د عشق اور ئې را لګيږي          او که يار مي ډير ياديږي
دا د زړه له ډيره درده          سرې سرې اوښي مي بهيږي
جدائي ګڼه له اوره          زړه کباب پکښې ورتيږي
د دنيا مرګ هم دغه دی          دوه مين ځله بليږي
په ارمان ئې بيلتون بيل کا          بې ژړا لاس نه رسيږي
نه ئې لاس وی نه ئې پښې وی          خوږ مين ئې روانيږي

بې له صبر ئې چاره نه وي — په ارمان پسې نولېږي
سمندر غندی په اور کې — هره ورځ پسې ګلېږي
د اشنای له خوږې مینې — تل سیلاب پر مخ بهېږي
دنیا هسې بې وفا ده — د چا زړه به پر ښه کېږي

"احمد شاهه" بله مینه
بې له خدا څه په کارېږي

د پسرلی وریځ ورېږي — خوار بلبل په هوسېږي
چه د مځکی سر تازه کا — زړه ئې ګل په زرغونېږي
چه د ګل و مخ ته ګوري — تپي زړه ئې په جوړېږي
هغه مړ بلبل ژوندی سو — چه د ګل بوی پر لګېږي
د اشنای لید ئې مرهم دی — بې دې کوم پرهار رغېږي
دیدن ګل د پسرلی دئ — د بلبل زړه پر نازېږي
دا غوټۍ پیاله د میو — بلبل څکه په مسېږي

باد د یار له لور به راسي
"احمد شاه" په تازه کېږي

نه پوهېږم ته د چا ئې — چه د هر چا په رضا یې
له عاشقه سره راز کړې — له رقیبه سره وایې
څما زړه په اختیار ستا دی — چه و هر خوا تې بیایې
که ته تل جور او جفا کړې — څوک به وایي بې وفا یې
زه ستم ورته نه وایم — ولې ته څموږ شها یې
چه نظر دې پر عاشق دی — ترخه څه شو که ئې وایې
په ښندلو د سر خوښ یم — یاره ته که په رضا یې
زړه چه هسې ته غره یې — په سایه د کوم هما یې

د عاشق په زړه شریکه بیا له زړه ئې یک تنها یې
خوښ تل اوسه "احمد شاهه"
په نظر د دلربا یې

ځما د یار لیدن په کار دئ څه په کار عمر بې یار دئ
چه تیریږي عمر بې یاره هغه عمر څه په کار دئ
اشنائي ده د سر سترګي چه بې سترګو سړی خوار دئ
زړه له یاره سره ښه دی چه بې یار زړه پر دار دئ
هیڅ په خوله به زه نه وایم چه پر زړه د زړه کوکار دئ
نصیحت و زړه ته نشي میني وړی بې اختیار دئ
کوږ به چا لیدلی نه وي چه مین وي سم پر لار دئ
په ښکنځل د یار نازیږي له ناصحه دی بیمار دئ
چه ئې یار په نظر نه وی
و "احمد" ته جهان خار دئ

مسته بیا کوی خبري خوږ ګفتار لکه شکري
سره شونډان ئې څنګه خاندي شپین غاښونه مرغلري
زه له سهمه کتای نسم چه د حسن دی لښکري
د لیندۍ په څیر ئې وروځي په باڼو ئې سکڼی زغري
که ئې نیسم نیوه نسی زړه مي یووړ شیوه ګري
د دې وړیو تلاښ څوک کا معشوقې دی زور وري
ځما زړه څه مدارا کا لری مخ څیڼی نادري
زړه ساته اې "احمد شاهه"
ښایسته دي سهم ګري

ستا پر مخ ګوره اوربل دئ ځکه اوربل[1] په کوګل دئ
له کششه ستا د میني مستقر مي ستا بورجل دئ
که د جور وسی پوښتنه ځما په تا پسې حق پل دئ
ستا د مخ چهره ګلګونه مینه کاندي چه بلبل دئ
ستا د مخ صفت کښای نشم هر صفت چیري په کښل دئ
دلبران که دلبری کا زړږ چه باسي دا لا بل دئ
په بیلتون د دلبرانو ځکه اوس مي خراب دل دئ
دی سردار د ښایسته و چه ښایست ئې یو په سل دئ
بیلتون تیر شولې "احمده"
په مسا د وصال ګل دئ

دا خو وخت د نو بهار دئ چه بلبل په چیغار دئ
د بلبل په زړه غمونه ګل خو مست پخپل خمار دئ
د پسرلی په زیړ ګلونه را وتلی شیرین یار دئ
په څو ځیر ګوره کاته کا ګوره چا ته په ګزار دئ
خدای دی یار نکا ملاله که ملال سو مین خوار دئ
دا به چا ویلی نه وي چه جدا زړګی قرار دئ
که دیدن که جدایي ده په دې دوو د زړه کوکار دئ
سر په عشق پریکړه "احمده"
سر بې عشقه څه په کار دئ

جانه ته ځمونږ شها یې هم د زړونو مقتدا یې
چه دی نوم په مینه واخلي ته یې هم په مینه ستا یې
ستا د میني له پرتوه هر عاشق وایي چه ها ئې

۱. د اوربل او اور، بل تر منځ تجنیس تام دي.

ځکه ستا مونده په سر سي که سر پریکړم ته ځما یې
ځما په لاف به باور نکړې تر سر تیر سم څه به وایې
د ”احمد“ سترګي بینا کړه
ته د زړونو رهنما یې

پې آرامه زړه له ما نه روانېږي[1]
د اشنای پر لوری ګوری نه سهېږي
د زړه کور که زه کوټه د صبر کړمه
اور د عشق مي د دې زړه په کور لګېږي
سرې سکروټې د غمونو په زړه راغلې
خراب زړه لکه کباب باندي وریتېږي
مین زړه خو د خپل یار په لیدو پایي
بې مینه که زړه سنګ سي هم اوبېږي
پرې پوهېږم بیلتون جوړ داور دریاب دئ
دا د غم ژوندون بېړۍ باندي چلېږي
د دنیا هوس ”احمده“ بوالهوس کا
چه مین سي تل په یار پسې نولېږي

څه عجب ښایسته ګل دئ[2] چه په رنګ ئې کله بل دئ
بې بلبله قدر چا زده ګوره چاک سینه بلبل دئ
چه وعده د لیدو راسی بیا ئې کله تحمل دئ
د عاشق روزګار هم دا دي په لیدو کي نیم بسمل دئ
ګل هوس د خپل چمن کا دا خنجر خار ئې پر دل دئ

---
۱. ب
۲. ب

غم د صورت پریږده "احمده"
څو صورت وي غم خو تل دئ

دا یو څرنګ عجائب خوشرنګ پلو دی[1]
چې وچ کړی د مینو د زړونو دی
چه ئې چیري تر پلو پوري نظر سي
دا نظر ئې جوړ په زړونو باندی لو دی
چه په زړه د چا خنجر د نظر څرخ سي
د اوبو غندي له زړه د وینو رود دی
زړه که غر وي هم به بیا ذره دره سي
چه په زړه د چا چاپیر د میني چو دی
که هر څو مین تلاښ کا نه خلاصیږي
اوس چه زړه په بند د سره پیزوان په ګرو دی
په پریشانه زړه به څه خاطر جمعی کا
"احمد شاهه" دا رقیب په ښنګ کښي سکو[2] دی

چه په زړه مي را هوار درومي یاره ستا د خیال نیلی[3]
چه ئې ونیم هوسیږم دغه ستا د مخ پسرلی
چه دا ستا په نظر پسند شوم، زه پسند یم و هر چا ته
په هوس پر انګښ ناڅم، همیشه لکه کبلی

۱. ب
۲. دا کلمه حل غواړی کټ مټ ولیکله شوه.
۳. ب

دغه ستا د راز خبری مي قائمي پر زړګی دي
هوسيږم چه مي زړه، لاله[1] دا ستا د راز دبلی
په نظر سره که ګورم زه خو ستا د باغ بلبل يم
که نظر د اشنا نه وي زه د ختو يم يولی
د نظر شاهين دی رورو په هوا ځي تل تتله
زړه مي ريبردي چه په وينو به سورکا د چاکالی
بې نظره د خپل يار کله رسيږي څوک تر ځايه
که بيا چيري په طلب کي تلی سر کا سر تلی
"احمد شاهه" هر مهم به خواه نخواه ستا په رضا سي
که تر خپله رضا تير سې بيا رضا کړې خپل لالی

د دلبرو سترګي په څير د شهلا ګل دي[2]
په کاته ئې مينان بې تحمل دي
تر اوربل پوری که چيري يار نظر کا
نظر نه وي پسرونو قتلول دي
له وطنه بې وطن پر دربار پروت وي
پرديسان دي منتظر د تور اوربل دي
چه بلبل په باغ ثنا د سنبل کاندي
هسي زړونه په ثنا د تور کاکل دي
ستا د تورکاکل ښه بوی چه باد را واخلي
هسي عطر بيا د کوم خوشبو سنبل دي
مينه ده لکه درياب او عشق ئې پل دي
"احمد شاهه" تله و يار ته پر دا پل دي

---

۱. خطاب دي يعنی اې ځما لاليه.
۲. ب

هسي زړونه ئې په مينه کې اوتر دي[1]
چه مدام له خپله ځانه بې خبر دي
چه رخسار وته دی ګوري ګرم څه ندی
رخسارونه دي زيبا ياره تر لمر دي
د بلبل په دود به تل ثنا د ګل کړې
چه ستا مخ په مثل ګل زلفي عنبر دي
صبحدم که ګل د لمر په هوس خاندي
هسي زړونه په سپين غاښو د دلبر دي
"احمد شاهه" د دنيا خواږه ترخ دي
بې له ياره چې ترخه خواږه سر دي

زړه مي چوی نن ځما حيمه خدای[2]
چه اشنای له ما بيلتون کا له دې ځای
بيا د زړه مانۍ به څرنګ نه نړيږي
چه اشنای مي کوچ کوي د زړه له سرای
په بيلتون دي څه مطلب دئ نپوهيږم
اې فلک! ژاړم زه دا ستا له رای
د خپل زړه درد به و چا وته ووايم
چه بې خدايه څوک دي بيا مشکل کشای
په هر لوري چه وګورم زړه مي چوی
چهان درست د غم درياب وينم ناپای
په دا حال مي څوک پوهيږي چه ئې وايم
لاله شان په وينو سور يم سر تر پای

---

۱. ب
۲. ب

که له چا اشنایي کړې درد به بیا یوسې
"احمد شاهه" د دې دور له اشنای

هسی زیب کا په نظر د اسمان ستوري[1]
لکه شنه خالونه زیب کا په مخ پوري
خوار عاشق چه د معشوق و مخ ته ګوري
نه سهیږي په هیڅ رنګ د سترګو توري
که مي لاس و پښې وتا ته نه رسیږي
دغه خپل زړه به مرغه کړم ستا پر لوري
دا د یار د میني غشي ډېر تیره دي
تر ځګر د مین وزي پوري ووري
هر چه ستا د عشق په تیر سره ټپي سي
توان طاقت ئې نه په لمر سي نه په ستوري
دا پیاله د عشق د شهد ده که د زهرو
هر عاشق چه ئې بیا نوش کا و به ښوري
که دا نور خلق له نورو څخه غواړي
"احمد شاه" خو د خپل یار و لاس ته ګوري

لور پر لوري د عالم هسي نارې دي
چه په سر د عاشقانو منارې دي
عاشقان له دنیا ولاړل ټول فنا سول
خالی پاته د مینو کنارې دي
د عاشق مطلب مدام د یار نظر دئ
بې نظره ئې په مخ کي جویبارې دي

۱. ب

د عاشق د زړه زخمونه که ته ګورې
چه له هر یوه د وینو فوارې دي
که یو وار و ما ته وګورې دلبره
پر زړه چاود زما د هجر غمبارې دي
د خدای شکر مدام وایه "احمد شاهه"
چه پر درست جهان دي دور نغارې دي

زه غرڅه یم ستا مژګان مي ویروي[1]
بې درکه د ناوک ګزار کوي
د کتو مزری ئې تل په هیبت ګوري
په نظر سره د سر ګوی غورزوي
د ګړنګ حصار به زه د ځان وطن کړم
چه یار تل ګولۍ د سترګو ووروي
چه دا هسي هیبت وي د چا په مخه
وا به نه وړم که دا سر مي غوڅوي
که زړه داغ کړم تل تتله به خوئیږي
چه رقیب عاشق له تا نه توروي
له تهمته به خلاص نشې "احمد شاهه"
عشق پر هر چا تهمتونه پوروي

سره لاسونه خوله ئې پان ده بلې بلې
سپین غاښونه سره لبان ده بلې بلې
سنبل مویه عنبر بویه فرښته خویه
بیا دلجویه د جهان ده بلې بلې

۱. ب

شکر لبه سیم غبغبه در دندانه
دا له هر چا همزبان ده بلې بلې
پر سپین مخ ئې شنه خالونه لکه ستوري
هم د لمر په څیر ځلان ده بلې بلې
ګل اندامه خوش کلامه لعل فامه
زنډګی ئې زنخدان ده بلې بلې
"احمد شاهه" نندارہ ئې زړونه وړینه
دلبري ئې په دا شان ده بلې بلې

خراب زړه می تل تتله په کوکار وي[1]
چه ئې وینم د اشنا زلفی تار تار وي
زړه مي داغ دئ بل دارو ورلره نسته
مګر چیری بیا دا ستا د خولې ګفتار وي
ستا له غمه مدام ژارم نه سهیږم
مګر کله مي نظر ستا په رخسار وي
همګي به سر دا ستا پر قدم کښیږدي
عاشقان که اې دلبره ستا په کار وي
دوه یاران چه په یاري کي سره جوړ وي
انتظار به نور د کوم یو انتظار وي
د "احمد" بادشاه تیاره به له زړه واخلې
څما یاره که دا ستا د مخ دیدار وي

۱. ب

چه د یار ځینې تار تار وي[1] عاشق زړه به څه قرار وي
چه معشوق عاشق ته ګوری د غماز په سترګو خار وي
د پیزوان لمبو دي وسوم په لیدو د زړه مدار وي
زه بلبل به ستا ثنا کړم که ښکاره د مخ ګلزار وي
سترګي ستا په مخ اشنا شوې بې له تا ئې څه قرار وي
ستا بیلتون دلبره اور دی څو به پایي چه بې یار وي
د "احمد" ژوندون په یار دئ
چه یار نه وي نور په دار وي

همیشه مي هغه تیر خلق یادیږي[2]
دغه یاد ئې ګویا اور په زړه لګیږي
دا ځما د زړه روزګار مدام په اور شو
همیشه لکه کباب پکښي وریتیږي
ما دا خپله ژړا هسي د زړه سود کړه
ګنه لاس د چا په تللیو بیا رسیږي
که هر څو تسلې ډاډه د زړګي کړم
ډاډ مي نسي لا مي زړه پسې نولیږي
زه که ګورم څه به ګورم کتای نسم
چه یاران لکه ګلونه بیا رژیږي
سخ د هغو چه له چا اشنائي نکا
چه پدا توره د زړه ولیه غوځیږي
زه په څرنګه د خپل زړه آرام غواړم
دا دستور دی دوه مین سره یادیږی

---

۱. ب
۲. ب

څه ارمان د اشنايانو کړې "احمده"
د دنيا اشنايان هسې ځي تيريږي

د هر چا چه په صورت باندې يو درد وي[1]
په هر دم ئې له دې درده آه سرد وي
چه د يار په درد رضا کا له اخلاصه
په دنيا کې دغه هسې کار د مرد وي
يو د بل په درد او غم چيرې خبريږي
مګر هغه چه په درد ئې بيا همدرد وي
يار هغه دی چه په غم د يار شريک و
چه په غم ئې غمجن نه هغه نامر وي
يار چه ښه وايي له ياره هغه يار وي
کله يار وي چه له ياره ئې نبرد وي
"احمد شاهه" بې پتې ننګ کړه يارانو
چه پر پت د يارۍ سر ښندي اوس فرد وي

ستا غمو مې زړه اوتر کړ لور پر لورې[2]
په هر غم مې چاک ځګر کړ لور پر لورې
څو مې ستا د مخ جلوه ليدليه نده
د ژوند ځای مې درست اځګر کړ لور پر لورې
لا په صبر مې د زړه افسوس زياتيږي
بې صبرۍ مې اور په سر کړ لور پر لورې

---
۱. ب
۲. ب

چه د مخ په جلو سوځم زه راضي یم
پتنګ دا سوراور اختر کړ لور پر لوري
زړه مي کور د بیلتانه سو، تل نولیږي
چه دي بند د وصال ورکړ لور پر لوري
دا د زړه چمن به بیا په ګلو پر سي
که وصال اورو[۱] اثر کړ لور پر لوري
له بیلتونه به "احمد" څه فریاد نکا
چه ئې ریز مریز بشر کړ لور پر لوري

سپینکی مخ دی د بهار په ګلو شین دئ
څه په پایم مشکین خال دی پر حبین دئ
تورو سترګو ته چه ګورم هوسیږم
دا ژوندون مي له کتو سره قرین دئ
ستا د خولې غوټۍ څه نوري غوټۍ ګوري
په زړه کله بیا هوس د یاسمین دئ
له اوږدوالی څینې بیا په شانه راغلې
پر ټټر ئې څه حاجت د لونګین دئ
لمر سپوږمۍ که څه هم نور دي رنځور یسی
نه سمیږې چه ستا مخ په حسن سپین دئ
عشق یو اور دی د عاشق په زړه بلیږي
چه یار ویني کله دی په زړه غمګین دئ
که هر څو ګلونه ښه سي "احمد شاهه"
بیا د خپل دلبر له لاسه ګل شیرین دئ

۱. یعنی که د وصال اوریځو باران وکړ.

# متفرقات

لاندي قطعې له (ب) دیوان څخه نقل شوي دي

الف اسم ذات ته ګوري نور د ذات پر اسم ووري
تنزل ئې په صفات دئ کله ذات له ځایه ښوري
شاه معني په معني پټه لکه هې په الف پوري

په ناسوت کي دي زه څه لره بندي کړم
ګڼه ځما ستا دائره د زړه خپله کور دئ
"احمد شاهه" صورت ورک کړه روحاني سه
د اشنای پر ملک صورت د یار پیغور دئ

د شیرین ځان خاوري د یار د ښه قدم کړه
سر تیزي په څیر د خار مکړه اې وروره
که خپل نفس دی په لاس کښیووت ځما جانه
تل به خلاص وي دا ستا زړه د غم له کوره
"احمد شاهه" بخری واړه په همت دي
د همت میراث دي وړه له پلاره موره

چه د روح په رڼا ورک شوم
ځکه ما لیدلي یار وو
"احمد" اوس که یک تنها شوې
ستا وطن د یار کنار وو

د یار مینه ګویا اور شوه را لګیږي
څه وطن به پر اور باندی د کور وکړم
وطن اور شو په هیڅ رنګ مي چاره نسي
د خپل یار پر لور سفر به په ناروکړم
د اشنا بیلتون مي زړه هر ګوره تور کړ
په محراب به د ابرو سجده په وروکړم

په نظر به مي رقیب یوه ذره سي
که دا ستا په نظر زه سومه کامیابه
"احمد شاه" وابستګی د دنیا باد ده
د دې باد خونه بې باد لکه حبابه

ته بیا چا هسې غریب کړې عندلیبه
چه له هجره تل ژړا کوې غریبه
"احمد شاهه" په ښه ورځه یاران ډیر دي
په تنګسه به یاران نه وي بې له خپله

وا به نخلم زه خپل لاس له مهرویانو
که هر څو ډیرو دردو په زړه سوراخ کړم
د یار درد که څه درد وي ځما مرهم دئ
د مرهمو په ایښونه به زه وآخ کړم
زه "احمده" به له دلبره لاس وانخلم
که هر څو ئې بیلتانه پر سنګلاخ کړم

که ژوندون دئ ژوند له یاره سره ښه دئ
خدای دي نکا تر میان د بیلتون غرونه
"احمد شاهه" بیا په غم پسې ښادي ده
د خزان مځکه به بیا سي ژیړ ګلونه

ښه شربت د شونډو غواړه | دا د ځان هستي مه ویاړه
دا هستي د ځان خودي ده | د خودۍ خونه ویجاړه
بیا په زهد تلاښ نده | شاه د عشق پر کور ولاړه
د یار دید میسر نسي | څو په عشق نه سي لتاړه

"احمد شاهه" سر بازی کړه
خلاصوې که خپله غاړه

دا ضیاء ده اې درویشه په زړه پوري
هغه زړه چه مدام وي د یار پر لوري
روڼا نور دی چه په زړه باندي ځرګند سو
اوس دا زړه په دغه نور سره یار ګوري

بیا ضمان به له زمانه هله واخلې
که ته چیري زمان زړه کړې په ضمان کي
"احمد شاهه" څو د زړه حالونه وایي
ته خوله نیسه چیري نشې په ارمان کي

علم ګوره څه ځرګنده لوی دریاب دي
بیا هم دی را بهیدلی په څو باب دي

دا د علم دریاب هر چیري محیط دي
علم زده کړه چه د علم لوړ جناب دي

د صورت وطن ته پریږده له اختیاره
بیا ځړه د خپل اشنای پر لوري لیږده
که د یار لوری دي بیا موند هله خانده
او که نه وي په ژړا د غمو ریږده
د "احمد" د یار تر منځ د ګمان غرونه
که یار غواړې د یقین پر لاري پښې ږده

په دیدن د خپل اشنا که زړه صیقل کړې
تل به وینې د رخسار شینکي خالونه
"احمد شاهه" ځو دي کار په لاس دی مټ کړه
حیف هغه چه په تیر کار موږي لاسونه

(لاندي قطعې له نورو دوو نسخو څخه اخیسته شوي دي)

| | |
|---|---|
| ته توبه کړه له خودئ | چه آخر دي پردیسئ |
| که دی نور عمل څه نسته | و خپل خدای ته کړه زارئ |
| آخرت توښه په کار ده | دنیا ځي فاني ماڼئ |
| بې له عشقه هنر مکړه | چه عشق سر دی د ښادئ |
| څه فایده په دا نړئ | په حباب څه زړه تړئ |
| بیلتون واړه تار په تار کړه | اوس د خاورو دی کوړئ |
| هم د ګل په ځیر مخونه | د خزان پاڼی زیړئ |

لږ خوبي در لره بویه اې بشر د آدم زویه
ته ځما خبره واروه ورځ به درسي هغه لویه
د رسول (ص) په لاري درومه نفس غلیم دی ډیر بد خویه
په عبث چاره خوښیږي خوښ ئې مکړه بلا لویه
ته همای د لوی کړنګ یې چه نشې د ناسوت سویه

که مطلب غواړې طالبه د کامل لمن ګیري کره
چه خدای لوی کړې "احمد شاهه"
تل د خوارو دستګیري کړه

یاره زه خو هغه ستا دور ګدای یم
څه شو نن که "احمد شاه درانی" یم

# رباعيات

راسه وګوره دلبره حال ځما[1]
بې تا نه لري نفس مجال ځما
بې نفسه که څوک پائي زه به پايم
بې ليدنه بيا عبث دی قال ځما

تل مي ستا رخسار يادېږي محبوبا
پر بارخو رودبار بهېږي په رښتيا
بيا پر مخ مي جوړ د اوښيو دي ډنډونه
په دا ډنډ کي زړه ډوبېږي بيا ځما

که به کله غم د زړه اخلې له ما[2]
د فراق له اوره باسې زړه ځما
له اوربله مخ ښکاره کړه ځما ياره
چه نور نه کوم په تا پسې ژړا

دا عاشق که هر څو ګوري شاوخوا
بيا دي هيڅوک نه لري ياره بې تا
چه يو يار بې بله ياره آرام نکا
د "احمد" و زړه ته ګوره دلبربا

---

۱. ب
۲. ب

چه پر ګل هسي هوس کړې عندلیبه
د خزان په اور به وسوځې غریبه
چه په رنځ د جدایۍ سره رنځور شوې
بې له یاره به بل نسی ستا طبیبه

بلبله راشه چه څه ژړا کړو
یاد د دلبرو تیره وفا کړو
که د دلبرو په یاد ور نسو
موږ خو به یاده د دوی ثنا کړو

یاره که نه وایم زړګی مي چوي
که څه ووایم خاطر مي روي
ځما بې تا څخه احوال به څه وي
په هسي عمر سړی څه ژوي

دا ستا د میني اور را لګیږي
بې له دیدنه کله سړیږي
د زړه ګي صبر قرار په څو کړم
چه مي تل ویني له زړه بهیږي

سحر سبا دی په ژړا ژاړم
هسي غمجن یم، ستا دیدن غواړم
د زړه استوګه له چا نه نسي
که مي یار راسي هله به ویاړم

هغه څه شی دي چه په خدای نسي
چه په ګمان نه وي هغه بیا وسي
چه ئې هیڅ هیله د عمل نه وي
هغه د خدای په امل شته سی[1]

د زړه فریاد مي له جدایۍ
اور مي ورک نشي د اشنایۍ
چه پر وطن وي زړه څه قرار وي
یم بې طاقته په پردیسۍ

خزان خزان دی ګلو خزان دی
خزان پر زړه مي اور د هجران دی
بلبل خاموش شو له درده ځکه
پر زړه د هجر کاروان روان دی

نور دی بیا نه ونیم، توره بیلتونه
چه سریکار دي، دی له ځګر خونه
یاران ګلونه د ښه بهار وه
تاتار په تار کړه هغه ګلونه

چه لور پر لوري کاروان تیریږي
بیا په نارو، نو جرس ږغیږي
د هسي عمر به څه وفا وي
چه تل د باد غوندي ژر ژر چلیږي

۱. ټول نور تر پایه له (ب).

زړه مي تنور دئ هيڅ نه سړيږي
که ژړا کړمه خو لا زياتيږي
د دې زړه حال به څه وايم چا ته
لکه کبابه پر اور وريتيږي

کله سرناوي، بيا ډمامې وي
کله ژړاوي، څه غرغړې وي
د جهان طور طور ښکاريږي
څوک په سر تور وي د چا بګړې وي

## مخمس

زړه ځما کا چيغارونه د بهار په زيړ ګلونه
که هر څو لري خارونه سينه ځما دي پرهارونه
برغ به نکړم له ادبه

زړه به څه کا ارمانونه يار حاضر په شنه خالونه
مخ سبا سترګې ګلونه عجب زيب کا رخسارونه
زړه ئې يووړ ځما ربه

عجب ذوق و تماشه ده برابر ګوري ښايسته ده
په قد سبر ايستاده ده خوله ئې قند غوندي غوړه ده
زړونه زور کا له جلبه

مخ ئې ورځ ځينې ئې شبه　　　په عجبو کې اعجبه
له عجمه تر عربه　　　دا يوه ده ځما ربه
ټول ئې کاندي تل طلبه

نارې څو کوې بلبله　　　زړه دي وچاود په کوګله
څه کوې خبر له ګله　　　خزان پرې ياسته پر بله
چيغار مه باسه له لبه

زړه مي سوځي له ګدازه　　　څه به وايمه له رازه
اې ځما د زړه آوازه　　　که هر څو وکړې پروازه
"احمد" بنده کړله ژبه

## مربع

مصطفی يا مصطفی (ع)　　　فرياد رس يا مصتطفی (ع)
مصطفی يا مصطفی (ع)　　　فرياد رس يا مصطفی (ع)

ربه زړه مي ډير ويرېږي　　　چه رسول مي ډير ياديږي
د عشق اور ئې را لګيږي　　　فرياد رس يا مصطفی (ع)

په رسول مي زړه نازيږي　　　کل امت په هوسيږي
چه پر موږه و رحميږي　　　فرياد رس يا مصطفی (ع)

نن ځما سترګي ژړيږي — زړه جرس غوندي زنګيږي
وسکه درد مي تر خوله خيژي — فرياد رس يا مصطفی (ع)

د رسول کرم ډير ډير دی — په ديدن ئې وږی سير دي
چه ده خدای په ور کي تير دي — فرياد رس يا مصطفی (ع)

د نغرې توري ايرې يم — هم دی جار د آس تر سوې يم
که هورې يم که دلې يم — فرياد رس يا مصطفی (ع)

له ګناهو شرمنده يم — د خجلت سر افګنده يم
د دې نفس په خوله ګنده يم — فرياد رس يا مصطفی (ع)

اې ځموږ خير کائناته — ته نظر وکړه و ما ته
د امت هيله و تا ته — فرياد رس يا مصطفی (ع)

اې ځموږ نبی اکبره — بيلتون ويستو لبره
که مو لاس نيسې سروره — فرياد رس يا مصطفی (ع)

د نبی وه ښه خويونه — په دوه لاس ئې کړه دادونه
پر مين د امت زړونه — فرياد رس يا مصطفی (ع)

د ښه خدای په کرمونه — لاس ئې اوږد تر زنګنونه
تل غزا ئې کړه جنګونه — فرياد رس يا مصطفی (ع)

په قد ښه میانه بالا وو　　هم ئې حسن په رشتیا وو
هم دی حبیب د خدا وو　　فریاد رس یا مصطفی (ع)

سینه ډکه وه له علمه　　هم نفس ئېووله حلمه
بیخ ئې کښلی وو د ظلمه　　فریاد رس یا مصطفی (ع)

که فراق په زړه زهیر کړم　　یا دی غم په غم شبګیر کړم
تا لرمه څه به ویر کړم　　فریاد رس یا مصطفی (ع)

ستا یاران دی منوره　　په اسمان کي زیړی لمره
رشتینی لکه سحره　　فریاد رس یا مصطفی (ع)

ابوبکر (رض) وو عمر (رض)　　بل عثمان و بل حیدر (رض)
دا څلور د دین ګوهر　　فریاد رس یا مصطفی (ع)

دا ځما د سترګو توری　　د رسول (ص) پر لوري ګوري
که رسول (ص) راته وګوري　　فریاد رس یا مصطفی (ع)

"احمد شاهه" زه نولیږم　　هم پخپل عمل شرمیږم
له جزا څخه ویریږم　　فریاد رس یا مصطفی (ع)

چه به دا بیان لولینه　　په دعا دي یادوینه
ګندی ما ته ورسینه　　فریاد رس یا مصطفی (ع)

# مربع

اې ځما دله چیغار کړم         بیلتانه په زړه آزار کړم
زه به دا لفظ تکرار کړم         لا اله الا الله

له نور څه ځما توبه ده         د حق مینه را سره ده
دغه مینه کلمه ده         لا اله الا الله

اې ځما دله حضوره         غیر باسه له صدوره
چه ته وویني پر نوره         لا اله الا الله

معشوقه تر تا چاپیره         ولی ته ګرزې بې پیره
یقین واخله ګمان زیره         لا اله الا الله

له ناسوته ته را ووزه         و خپل اصل ته جار ووزه
هم پدا وینا سره وزه         لا اله الا الله

نه پوهیږم اصل کوم دی         خوبې یاره عمر زقوم دی
دا ویې د تنعم دی         لا اله الا الله

چه ته نه وې هله شوې         د خالق په امر ژوې
وسکه دا ئې درته ووې         لا اله الا الله

ته په څو ګرزې غافله　　　　د حق یاد کړه تل تتله
دا معنی کړه ته حاصله　　　　لا اله الا الله

که حاصله ئې معنی کړې　　　　ځان جهان واړه فنا کړې
هم د زړه سترګی بینا کړې　　　　لا اله الا الله

دا خودي خپله حجاب ده　　　　لکه کړې چه حباب ده
د حباب هستي له آب ده　　　　لا اله الا الله

د دنیا فاني خبري　　　　بیا ئې جوړی دی سندري
مکړه دا نصیحت لیري　　　　لا اله الا الله

که کوټه کړې له اسمانه　　　　آخر دا به شي ویرانه
همیشه وایه عیانه　　　　لا اله الا الله

مدد غواړه له سجانه　　　　هم مدام وایه یکسانه
توښه دا ده له جهانه　　　　لا اله الا الله

دا د عشق پر لاري درومه　　　　یقین باز دی ګمان لومه
له دې لفظه معنی مومه　　　　لا اله الا الله

که دی ځان په اموخته کړې　　　　ته به زړه بله ډیوه کړې
هم دا ذکر در سره کړې　　　　لا اله الا الله

تاسي واروی مؤمنانو په دعا ښاد کړی یارانو
وینا کړی د عاشقانو لا اله الا الله

خوښ خورم اوسه "احمده" د اسلام ښه مرتبه ده
هم په خوله دي کلمه ده لا اله الا الله

(کتاب بشپړ سو)

## هغه کتابونه چه د دې کتاب د مقدمې په ليکلو کي کتل شوي دي

١. د پښتو شعر تاريخچه د حبيبی ليک ـ قلمي.
٢. د عبدالقادر خان د ديوان مقدمه د حبيبی ليک.
٣. د عروضی چار مقاله د برلين طبع.
٤. د کابل مجله ج ٧.
٥. د فوستل ډيکولانژ د تمدن تاريخ.
٦. اصول تمدن د رازانی.
٧. د ابن خلدون مقدمه د مصر طبع.
٨. د ډوکټور ګوستاد لوبون کلمات د مصر طبع.
٩. د نقولاحداد علم الاجتماع د مصر طبع.
١٠. د فريد وجدی دائرة المعارف د مصر طبع.
١١. تاريخ بيهقی د کلکتې د رايل ايشياټک سوسائټی طبع.
١٢. شعرا العجم د شبلی نعمانی د هند طبع.
١٣. د ابن عربی فلسفة الاخلاق د مصر طبع.
١٤. د ابی سليمان بستی العزلة د مصر طبع.
١٥. د خوشحال خان کليات د قندهار طبع.
١٦. کشف الظنون د حاجی خليفه د مصر طبع.
١٧. د جامی نفحات الانس د هند طبع.
١٨. حجة الله البالغه د شاه ولی الله دهلوی د مصر طبع.
١٩. کتاب الهند د ابو ريحان البيرونی د ليډن طبع.
٢٠. فلسفۀ عجم د علامه اقبال د حيدر آباد دکن طبع.
٢١. د خواجه عطار تذکرة الاولياء.
٢٢. د ميان فقير الله مکتوبات د لاهور طبع.
٢٣. د علامه اقبال ارمغان حجاز د لاهور طبع.

٢٤. د پیر محمد کاکړ قلمی دیوان.
٢٥. د پادری هیوز کلید افغانی د لاهور طبع ١٨٩٣ع.
٢٦. طلوع افغان د قندهار ج ١١.
٢٧. د عبدالرحیم هوتک قلمی دیوان.
٢٨. د کاظم خان شیدا قلمی دیوان.
٢٩. د راورټی د پښتو ګرامر د کلکتې طبع ١٨٥٦ع.
٣٠. تاریخ ادب اردو د رام بابو د لکهنو طبع.
٣١. د میر تقی نکات الشعراء د هند طبع.
٣٢. د ګارسان ډیټاسی فرانسوی، هندی ادب.
٣٣. کلمات طیبات د ډهلی طبع.
٣٤. آب حیات د محمد حسین آزاد د هند طبع.
٣٥. د علامه سید سلیمان ندوی یاداشتونه.
٣٦. تذکرۀ حسیبی د لکهنو طبع ١٢٩٢ه.
٣٧. سکینته الفضلاء د هند طبع.
٣٨. شعرا الهند د اعظم ګده طبع.
٣٩. سبحته المرجان فی آثار هندوستان د هند طبع- آزار بلګرمی.
٤٠. تذکرۀ علمای هند د رحمان علی خان د لکهنو طبع ١٩١٤ع.
٤١. حیات جلیل د اله آباد طبع.
٤٢. د مرحوم مولوی عبدالروف خان قلمی کشکول ج ٢.
٤٣. حیات حافظ د رحمت خان د سید الطاف علی د بدایون طبع ١٩٣٣ع.
٤٤. سیر المتأخرین د غلام حسین خان د نولکشور لکهنو طبع.
٤٥. د برک ویناوی ج ٣.
٤٦. د سر جان استړیچی د روهیلو د جنګ تاریخ.
٤٧. د هند مدرسې د ابو الحسنات ندوی د اعظم ګده طبع.
٤٨. رساله قطبیه.

٤٩. تاریخ ادبیات فارسی د پروفسور براون ج ٤.
٥٠. د سر کشن پر شاد خطابه.
٥١. د ایران د ادبیاتو تاریخ، ډوکتور شفق د تهران طبع.
٥٢. مجمل التواریخ د بریل د لیډن طبع.
٥٣. سراج التواریخ د کابل طبع.
٥٤. تاریخ سلطانی د بمبئی طبع ١٢٩٨هـ.
٥٥. حدیقة الاسرار فی اخبار الابرار د امام بخش افغان.
٥٦. تحایف الابرار د محی الدین مسکین د امیرتسر طبع.
٥٧. خزینته الاصفیاء د مفتی غلام سرور.
٥٨. ابجد العلوم د صدیق حسن خان د بهوپال طبع ١٩١٢ع.
٥٩. غیاث اللغه د محمد عیاث الدین د لکهنو طبع.
٦٠. د لاهور شرقی کالج مجله.
٦١. د پښتونخوا د شعر هار او بهار د ډارمسټټر د پاریس طبع ١٨٨٨ع.
٦٢. ګلشن روه د راوټی د لیډن طبع.
٦٣. مجموعۀ رسائل د محقق قندهار علامه حبیب اللّٰه، قلمی.
٦٤. نادر نامه قلمی.
٦٥. جامع السلوک قلمی، د محمد نور توخی.
٦٦. بیان وافی الطوائف الصوفیه، قلمی د ملا احمد.
٦٧. تعلیم السلوک قلمی د ملا احمد.
٦٨. کاشفه قلمی د ملا احمد.
٦٩.فارقه قلمی د ملا احمد.
٧٠. د عبدالعظیم دیوان.
٧١. روضته النعیم د ملا زبردست، قلمی.
٧٢. نافع المسلیمین د اخوند ګدا، قلمی.
٧٣. صولت افغانی.

٧٤. شکرستان افغانی د میر احمد شاه رضوانی.
٧٥. د ملیسون د افغنستان تاریخ، ٢ طبع، لنډن ١٨٧٩ع.
٧٦. افغانستان د مکمهن د لنډن طبع ١٩٢٩ع.
٧٧. د ګوستو لوبون تمدن هند د آګرې طبع ١٩١٣ع.
٧٨. تاریخ هند د اې مارسډن د کلکتی طبع ١٩٢٨.
٧٩. تاریخ سر جان ملکم ح ٢ د بمبئی طبع ١٩٢٣ع.
٨٠. هسټری آف دی مرهټاز.
٨١. حاضر العالم الاسلامی د علامه شکیب ارسلان د مصر طبع.
٨٢. د رحمت داوی لیلی او مجنون، قلمی.
٨٣. اسرار العارفین د شیر محمد هوتک.
٨٤. د پیر محمد د پښتو ابتدائی ګرامر، قلمی.
٨٥. د ولی رام قلمی اشعار.
٨٦. حیات افغانی، د محمد حیات خان د لاهور طبع، ١٨٦٧ع.
٨٧. خورشید جهان د شیر محمد ګنداپور د لاهور طبع ١٨٩٤ع.
٨٨. تاریخ احمد د عبدالکریم، قلمی.
٨٩. تتمه البیان فی التواریخ الافغان د سید جمال الدین افغان د مصر طبع ١٩٠١ع.
٩٠. مختصر تاریخ هند د سید ابو ظفر ندوی، د اعظم ګده طبع ١٣٥٥هـ.
٩١. تاج التواریخ د امیر عبدالرحمان خان ج ٢.